# د بادشاهانو دويم کِتاب

## پېژندګلو

د تاريخ په دې شيبو کښې د بې‌اتفاقۍ په وجه بنی اِسرائيل په دوو بادشاهتونو تقسيم شوی وُو، يهوداه او اِسرائيل. خُدائ پاک پرله پسې پېغمبران راولېږل چې خلق د ګناه د سزا نه خبر کړی خو د يهوداه او د اِسرائيل خلقو او بادشاهانو دې ته هيڅ توجو ورنۀ کړه. د خُدائ پاک کلام همېشه د رښتيا او حکمت نه ډک دے. خُدائ پاک د پېغمبرانو په وسيلې سره کلام وکړو او د هغوئ خبردارے همېشه رښتيا ثابت شو. دويم بادشاهان د نافرمانۍ هغه قيصه جاری ساتی کومه چې په اول بادشاهانو کښې شروع شوې وه. په دې کِتاب کښې د حضرت الياس د پېشګويۍ خِدمت نه واخله د حضرت اليشع پورې ځوک چې د حضرت الياس نه پس پېغمبر شو د هغۀ د خِدمت ذکر هم شامل دے. اِسرائيل د باور نۀ کولو له وجې پستۍ طرف ته روان وُو او آخرکار اسوريانو ورله شکست ورکړو. د جنوب خوا ته د يهوداه بادشاهی وه. د يهوداه ډېرو بادشاهانو په خُدائ پاک باندې ايمان لرلو او هغوئ کوشش کولو چې د اِسرائيل حالت ښۀ شی. خو خُدائ پاک د حضرت يشعياه او د نورو پېغمبرانو په وسيله د خبرداری نه پس د بابل د خلقو په ذريعه يهوداه ته د ګناه سزا ورکړه او يروشلم يې قبضه کړو. د اوياؤ کالو دپاره يهوداه بابل ته بوتلے شول لکه څنګه چې حضرت يرمياه پېشګوئې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړې وه. د خلقو د بې‌ایمانئ باوجود خُدائ پاک په خپله
وعده قائم وو. د حفظ کولو دپاره ۱۳:۲۳ آیت "خو مالِک
خُدائ په هغوئ مهربان او رحم کوونکے وو."

## د الیاس د اخزیاه بادشاه سره مخالفت

١ (١) د اِسرائیل بادشاه اخی‌اب د مرګ نه پس، د موآب
مُلک د اِسرائیل خِلاف بغاوت وکړو. (٢) په سامریه کښې د
اِسرائیل بادشاه اخزیاه د خپل محل د بره کوټې د کړکۍ د
جالۍ نه راپرېوتو او سخت زخمی شو. نو هغهٔ پیغام وړُونکی
ولېږل چې د عقرون په ښار کښې د فلستیانو د خُدائ
بعل‌زبوب نه پوښتنه وکړی چې دے به روغ شی او کهٔ نه.
(٣) خو د مالِک خُدائ یوې فرښتې الیاس ته حُکم وکړو،
چې هغه د تِشبی پیغمبر وو، چې دے لاړ شی او د سامریه
اخزیاه بادشاه پیغام وړونکو سره مِلاو شی او تپوس ترې نه
وکړی چې، "تاسو د عقرون خُدائ بعل‌زبوب سره مشورې له
ولې روان یئ؟ ځکه چې ستاسو خیال دا دے چې په اِسرائیل
کښې خُدائ نشته؟ (۴) بادشاه ته ووایئ چې، مالِک خُدائ
فرمائی چې تهٔ به د کټ نه پا نهٔ څې، او خامخا به مړ شې."
الیاس د مالِک خُدائ په حُکم عمل وکړو، (۵) او پیغام
وړُونکی بادشاه ته راواپس شول. هغهٔ ترې نه تپوس وکړو،
"تاسو ولې واپس راغلئ؟" (۶) هغوئ ورته ووئیل، "مونږ یو
سړی سره مِلاو شُو او هغهٔ مونږ ته ووئیل چې واپس لاړ شئ
او بادشاه نه تپوس وکړئ چې، مالِک خُدائ فرمائی، تا د
عقرون خُدائ بعل‌زبوب سره د مشورې دپاره پیغام وړُونکی
ولې لېږلی دی؟ ځکه چې ستا خیال دا دے چې په اِسرائیل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې خُدائ نشته؟ نو په دې وجه ته به د کټ نه پا نۀ څې، او
مړ به شې." ٧ بادشاه ترې نه تپوس وکړو، "هغه سړے
څنګه ښکاريدو؟" ٨ هغوئ ورته ووئيل، "د هغه سړی په
وجود ډېر وېښته وُو چې د څرمنې په پټۍ باندې يې ملا تړلې
وه." بادشاه ووئيل، "هغه د تِشبی الياس دے." ٩ بيا هغۀ د
پنځوسو سړو سره يو آفسر ولېږلو چې الياس راولی. آفسر
الياس پيدا کړو چې په يو غر باندې ناست وو او ورته يې
ووئيل، "د خُدائ پاک خِدمتګاره. بادشاه تا له حُکم درکوی
چې لاندې راشه." ١٠ الياس ورته وفرمائيل، "کۀ زۀ د خُدائ
پاک خِدمتګار يم، نو د آسمان نه دې اور راشی او تا او ستا
سړی دې ووژنی." نو سمدستی اور راکوز شو او آفسر او د
هغۀ سړی يې ووژل. ١١ بادشاه د پنځوسو سړو سره يو بل
آفسر ورولېږلو چې هغه وروختلو او الياس ته يې ووئيل، "د
خُدائ پاک خِدمتګاره، بادشاه تا له حُکم درکوی چې فوراً
لاندې راکوز شه." ١٢ الياس ورته وفرمائيل، "کۀ زۀ د
خُدائ پاک خِدمتګار يم، نو د آسمان نه دې اور راکوز شی او
تا او ستا سړی دې ووژنی." نو سمدستی اور راکوز شو او
آفسر او د هغۀ سړی يې ووژل. ١٣ بادشاه يو ځل بيا د
پنځوسو سړو سره يو آفسر ورولېږلو. هغه غرۀ ته وختلو، هغه
د الياس په مخکښې تيټ شو او سوال زاری يې ورته وکړه
چې، "د خُدائ پاک خِدمتګاره، په ما او زما په سړو باندې
رحم وکړه. زمونږ ژوند بچ کړه. ١٤ هغه نور دوه آفسران او
د هغوئ سړی په آسمانی اور باندې وژلے شوی دی، خو په
ما باندې رحم وکړه." ١٥ د مالِک خُدائ فرښتې الياس ته
وفرمائيل، "هغۀ سره لاړ شه او يرېږه مه." نو الياس د هغه
آفسر سره بادشاه له لاړو ١٦ او بادشاه ته يې وفرمائيل،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

”مالِک خُدائ داسې فرمائی چې تا ولې د عقرون خُدائ
بعل‌زبوب نه تپوس دپاره پېغام وړُونکی لېږلی وُو؟ ستا څۀ
خیال وو چې په اِسرائیل کښې خُدائ نشته؟ نو په دې وجه تۀ
به روغ نۀ شې، او خامخا به مړ شې.“ ١٧ لکه څنګه چې
مالِک خُدائ د الیاس په ذریعه فرمائیلی وُو، اخزیاه مړ شو.
د اخزیاه زامن نۀ وُو، نو د یهوداه بادشاه د یهوسفط زوئ
یهورام د بادشاهۍ په دویم کال د اخزیاه ورور یورام د هغۀ نه
پس بادشاه جوړ شو. ١٨ اخزیاه بادشاه چې نور هر څۀ هم
کړی وُو هغه د اِسرائیل د بادشاهانو په تاریخ کښې لیکلے
شوی دی.

## د الیاس آسمان ته خېژولے کېدل

٢ ١ هغه وخت راغلو چې مالِک خُدائ الیاس په یو
زورَور باد کښې بره آسمان ته وخېژوی. الیاس او الیشع د
جِلجال نه روان شول، ٢ او په لار کښې الیاس الیشع ته
وفرمائیل، ”اوس دلته پاتې شه، مالِک خُدائ ما له حُکم
راکړے دے چې بیت‌ایل ته لاړ شم.“ خو الیشع ورته
وفرمائیل، ”زۀ د ژوندی مالِک خُدائ او تا سره په خپله
وفادارۍ قسم کوم چې زۀ به تا نه لاړ نۀ شم.“ نو هغوئ
بیت‌ایل ته روان وُو. ٣ د پېغمبرانو یوه ډله د بیت‌ایل نه
راووتله، الیشع له لاړه او د هغۀ نه یې تپوس وکړو، ”تا ته پته
ده څۀ چې مالِک خُدائ نن ستا نه نیک بوځی؟“ الیشع ورته
وفرمائیل، ”آو، ما ته پته ده، خو دا خبره مۀ کوئ.“ ٤ بیا
الیاس الیشع ته وفرمائیل، ”اوس تۀ دلته پاتې شه، مالِک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ ما له حُکم راکړے دے چې یریحو ته لاړ شم.“ خو
الیشع ورته وفرمائیل، ”زۀ د ژوندی مالِک خُدائ سره او تا
سره په خپله وفادارئ قسم کوم چې زۀ به ستا نه لاړ نۀ شم.“
نو هغوئ یریحو ته لاړل. ٥ د پېغمبرانو یوه ډله چې هلته
اوسېده الیشع له لاړه او د هغۀ نه یې تپوس وکړو، ”تا ته پته
ده څۀ چې مالِک خُدائ نن ستا نه نېک بوځی؟“ الیشع
ورته وفرمائیل، ”آو، ما ته پته ده، خو ښۀ به دا وی چې تاسو
ونۀ وایئ.“ ٦ نو الیاس الیشع ته وفرمائیل، ”دلته پاتې شه،
مالِک خُدائ ما له حُکم راکړے دے چې د اُردن سیند ته لاړ
شم.“ خو الیشع ورته وفرمائیل، ”زۀ د ژوندی مالِک خُدائ او
ستا په سر قسم خورم چې زۀ به تا نه لاړ نۀ شم.“ نو هغوئ
دواړه روان شول، ٧ او پنځوس پېغمبران ورپسې لاړل.
الیاس او الیشع د اُردن سیند سره ودرېدل او هغه پنځوس
پېغمبران ترې نه لرې لرې ودرېدل. ٨ بیا الیاس خپله چُوغه
وویستله، راغونډه یې کړه او سیند یې ورباندې ووهلو، اوبۀ په
دوه حِصو کښې تقسیم شوې او هغه او الیشع په اوچه زمکه
باندې د سیند نه پورې وتل. ٩ هلته، الیاس الیشع ته
وفرمائیل، ”د هغې نه مخکښې چې زۀ ستا نه بوتلے شم ما ته
ووایه چې زۀ ستا دپاره څۀ وکړم.“ الیشع ورته وفرمائیل، ”ما
له دې ستا د روح یو په دوه برخه راکړے شی.“ ١٠ الیاس
ورته وفرمائیل، ”تا یو مشکل څیز غوښتے دے، خو چې کله
زۀ ستا نه جدا کړے شم او تۀ مې په ختلو ووینې نو دا به تا
ته مِلاو شی، خو کۀ تۀ مې ونۀ وینې، نو دا به تا ته نۀ
ملاوېږی.“ ١١ کله چې هغوئ روان وُو او خبرې یې کولې،
نو ناڅاپه یوه د اور جنګی ګاډئ چې د اور آسونو راښکله د
هغوئ مینځ ته راغله او یو زورَور باد الیاس بره آسمان ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وخېژولو. ۱۲ اليشع دا وليدل او الياس ته يې چغه کړه،
”زما پلاره، زما پلاره. ګوره، د اِسرائيل جنګي ګاډو او په دې
سوارو کسانو زما نېک يوړو.“ او چې څنګه هغه د نظر نه
پناه شو، نو اليشع د غم نه خپلې جامې وشلولې. ۱۳ بيا هغهٔ
د الياس هغه چُوغه راواخستله چې کومه د الياس نه
غورزېدلې وه او واپس لاړو او د اُردن په غاړه باندې ودرېدو.
۱۴ هغهٔ د الياس په چُوغه باندې اوبهٔ ووهلې او وې فرمائيل،
”مالِک خُدائ، د الياس خُدائ پاک چرته دے؟“ نو هغهٔ اوبهٔ
بيا ووهلې او اوبهٔ تقسيم شوې او هغه بل خوا پورې وتو. ۱۵
د يريحو پنځوسو پېغمبرانو هغه وليدو او ورته يې وفرمائيل،
”د الياس روح د اليشع سره دے.“ هغوئ د هغهٔ سره مِلاوېدو
له لاړل، د هغهٔ په مخکښې زمکې ته د عزت نه ټيټ شول ۱۶
او ورته يې ووئيل، ”دلته مونږ پنځوس سړى يُو چې ټول تکړه
يُو. راځئ چې لاړ شُو او ستا نېک ولټوُو. کېدے شى چې د
مالِک خُدائ روح هغه وړے وى او چرته په غر يا وادئ کښې
يې پرېښے وى.“ اليشع ورته وفرمائيل، ”تاسو به نهٔ ځئ.“
۱۷ خو هغوئ بيا بيا ووئيل نو هغهٔ پرېښودل چې لاړ شى.
هغه پنځوسو کسانو درې ورځې لټون وکړو خو هغه يې ونهٔ
موندلو. ۱۸ کله چې هغوئ راواپس شول نو اليشع تر اوسه
پورې په يريحو کښې وو. اليشع ترې نه تپوس وکړو، ”ما
تاسو ته وئيلى نهٔ وُو څهٔ چې مهٔ ځئ؟“

## د اليشع معجزې

۱۹ د يريحو څهٔ سړى اليشع له لاړل او ورته يې ووئيل،
”صاحِبه، تا ته پته ده چې دا يو ښهٔ ښار دے، خو اوبهٔ يې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بښې نۀ دى او زمکه يې شاړه ده.“ ۲۰ نو هغۀ حُکم وکړو
چې، ”په يو نوى لوښى کښې لږه مالګه واچوئ او ما له يې
راوړئ.“ نو هغوئ ورله مالګه راوړه، ۲۱ او هغه چينې ته
لاړو او مالګه يې په اوبو کښې واچوله او وې فرمائيل،
”مالِک خُدائ داسې فرمائى، زۀ دا اوبۀ صفا کوم، نو نور
څوک به نۀ مرى او زمکه به شاړه نۀ وى.“ ۲۲ او هغه اوبۀ
تر اوسه پورې صفا دى، لکه څنګه چې اليشع فرمائيلى وُو
چې داسې به وى. ۲۳ اليشع د يريحو نه روان شو چې
بيت‌ايل ته لاړ شى او په لار کښې څۀ هلکان د ښار نه راووتل
او په هغۀ پورې يې ټوقې کولې. هغوئ چغې وهلې، ”د دې
ځائ نه لاړ شه ګنجيه.“ ۲۴ اليشع راوګرځېدو، هلکانو ته يې
وکتل او د مالِک خُدائ په نوم يې په هغوئ لعنت ووئيلو. نو د
ځنګل نه دوه مېلوګانې راووتلې او دوه څلويښت هلکان يې
ټوټې ټوټې کړل. ۲۵ اليشع د کرمل غر ته روان وو او
وروستو سامريه ته راواپس شو.

## د اِسرائيل او موآب په مينځ کښې جنګ

۳ ۱ نو د يهوداه بادشاه يهوسفط د بادشاهۍ په اتلسم
کال، د اخى‌اب زوئ يورام د اِسرائيل بادشاه شو او په
سامريه باندې يې دولس کاله بادشاهى وکړه. ۲ هغۀ د
مالِک خُدائ خِلاف ګناه کړې وه، خو د خپل پلار يا د خپلې
مور ايزبل په شان خراب نۀ وو او د بعل هغه بُت يې
راوغورزولو کوم چې د هغۀ پلار جوړ کړے وو. ۳ خو
يورام د نباط زوئ يربعام په شان ګناه کوله. يورام اِسرائيليان

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د ګناه طرف ته بوتلل او دا ګناه يې نۀ پرېښودله. ۴ د
موآب بادشاه ميسا به ګډې ساتلې او هر کال يې سل زره
ګډُورى او د سلو زرو ګډو وړى د اِسرائيل بادشاه له په
محصُول کښې ورکولې. ۵ خو چې د اِسرائيل بادشاه
اخى‌اب مړ شو، نو ميسا د اِسرائيل خِلاف بغاوت وکړو. ۶
نو يورام سمدستى د سامريه نه لاړو او خپل ټول فوجيان يې
راغونډ کړل. ۷ هغۀ د يهوداه بادشاه يهوسفط له دا پېغام
ولېږلو، ”د موآب بادشاه زما خِلاف بغاوت کړے دے، تۀ به
د هغۀ خِلاف په جنګ کښې زما ملګرتيا کوې څۀ؟“ يهوسفط
بادشاه ورته په جواب کښې ووئيل، ”زۀ به ستا ملګرتيا وکړم،
زما سرى، آسونه او زۀ ستا د حُکم لاندې يُو. ۸ خو د
حملې دپاره به په کومه لار ځُو؟“ يورام ورته ووئيل، ”مونږ به
د ادوم په صحرا کښې په اوږده لار باندې لاړ شُو.“ ۹ نو
يورام بادشاه او د يهوداه او ادوم بادشاهان روان شول. د اوو
ورځو د مزل نه پس، د هغوئ سره اوبۀ ختمې شوې او د
سړو او د ځناورو دپاره لږې هم پاتې نۀ شوې. ۱۰ يورام
بادشاه په خفګان کښې ووئيل، ”افسوس، مالِک خُدائ مونږ
درې واړه دلته د دې دپاره راوستى يُو چې موآبيانو ته مو
حواله کړى.“ ۱۱ يهوسفط تپوس وکړو، ”دلته داسې پېغمبر
نشته څۀ چې د هغۀ په ذريعه مونږ د مالِک خُدائ نه تپوس
وکړُو؟“ نو د يورام بادشاه د فوج يو آفسر ورته ووئيل، ”د
سافط زوئ اليشع دلته شته. هغه د الياس مددګار وو.“ ۱۲
يهوسفط بادشاه ووئيل، ”مالِک خُدائ د هغۀ په ذريعه کلام
کوى.“ نو هغه درې بادشاهان اليشع له لاړل. ۱۳ اليشع د
اِسرائيل بادشاه ته وفرمائيل، ”زۀ په تا باندې څۀ وکړم، هغه
پېغمبرانو له لاړ شه چې ستا مور او پلار ورسره مشوره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوله.“ خو یورام ورته ووئیل، ”نه، ځکه چې دا مالِک خُدائ
وو چې مونږ درې بادشاهان يې راغونډ کړُو چې موآبيانو ته
مو حواله کړی.“ ۱۴ اليشع ورته وفرمائيل، ”زۀ د هغه
ژوندی ربُ الافواج په نوم قسم کوم د چا چې زۀ خِدمت
کوم، کۀ ما ستاسو د ملګری د یهوداه بادشاه یهوسفط عزت
نۀ کولے نو ما به ستاسو دپاره هيڅ هم نۀ وُو کړی. ۱۵
اوس ما له د موسيقۍ والا راوله.“ نو کله چې هغۀ موسيقی
وغږوله، نو مالِک خُدائ په اليشع باندې وحی نازله کړه، ۱۶
او اليشع وفرمائيل، ”مالِک خُدائ داسې فرمائی، دا اوچه
وادی به د اوبو د ډنډونو نه ډکه شی. ۱۷ تاسو به هيڅ باران
يا هوا ونۀ وينئ، خو دا نِهر به بيا هم د اوبو نه ډک شی او
تاسو، ستاسو څاروی او نور څناور به اوبۀ وڅښی. ۱۸ خو
دا کار کول د مالِک خُدائ دپاره آسان دے، هغه به تاسو له
په موآبيانو باندې فتح هم درکړی. ۱۹ تاسو به د هغوئ د
پَخو دېوالونو والا ټول ښائسته ښارونه فتح کړئ، تاسو به
ټولې ښې ونې راوغورزوئ، ټولې چينې به بندې کړئ او د
هغوئ ټول آباد پټی به تباه کړئ او په کاڼو به يې پټ کړئ.“
۲۰ په ورپسې سحر، د سحر د نذرانې په وخت، د ادوم د
طرف نه اوبۀ راوبهېدلې او مُلک د اوبو نه ډک شو. ۲۱ کله
چې موآبيان خبر شول چې هغه درې بادشاهان په هغوئ
باندې د حملې دپاره راغلی دی، نو هغه ټول بوډاګان او
ځوانان سړی راوغوښتے شول چا چې جنګ کولے شو او
هغوئ د حد په پوله باندې د جنګ دپاره ودرولے شول. ۲۲
په ورپسې سحر چې هغوئ پاڅېدل، نو نمر په اوبو باندې
ځلېدو او اوبۀ د وينو په شان سرې ښکارېدلې. ۲۳ هغوئ په
حيرانتيا سره ووئيل، ”ګورئ، دا خو وينه ده، هغه درې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لښکرو به د يو بل سره جنګ کړے وی او ټول به مړهٔ شوی
وی. راځئ چې مالِ غنيمت راغونډ کړُو.“ ۲۴ خو چې کله
هغوئ خېمو ته ورسېدل، نو اِسرائيل وربانديې حمله وکړه او
واپس يې وشړل. اِسرائيليان د موآب مُلک پورې په هغوئ
پسې وُو او په تلو تلو کښې يې هغوئ وژل ۲۵ او د هغوئ
ښارونه يې تباه کول. کله چې هغوئ د آباد پټی نه تېرېدل، نو
هر يو اِسرائيلی به يو کاڼے وراچولو چې په کاڼو به پټ شو،
هغوئ ټولې چينې هم بندې کړې او ټولې ښې ونې يې
راوغورزولې. په آخر کښې صِرف د قيرحراست شاهی ښار
پاتې شو او چې د کومو سړو سره لينډې وې نو هغوئ دا
ښار محاصره کړو او حمله يې وربانديې وکړه. ۲۶ کله چې
د موآب بادشاه ته پته ولګېده چې جنګ بائيلی، نو هغهٔ خپل
اووهٔ سوه د تُورو والا فوجيان د ځان سره کړل او د دشمن
په صفونو کښې يې د ځان دپاره د لارې جوړولو کوشش
وکړو چې د شام بادشاه له وتښتی، خو هغه ناکامه شو. ۲۷
نو هغهٔ خپل مشر زوئ د ځان سره بوتلو چې کوم د هغهٔ نه
پس بادشاه جوړېدو او هغه يې په دېوال باندې د سوزېدونکې
نذرانې په توګه پېش کړو. نو په اِسرائيل سخت قهر نازل شو
او هغوئ د ښار نه راوګرځېدل او خپل مُلک ته راواپس
شول.

## د اليشع د يوې غريبې کونډې مدد کول

۴ ۱ د پېغمبرانو د يوې ډلې د يو پېغمبر کونډه اليشع له
لاړه او ورته يې ووئيل، ”صاحِبه، زما خاوند مړ دے. لکه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څنګه چې تا ته پته ده چې هغه د مالِک خُدائ نه یرېدو، نو ما
له قرض‌خوا راغلے دے چې زما دوه زامن بوځی او خپل
غلامان يې جوړ کړی.“ ٢ هغهٔ ترې نه تپوس وکړو، ”زهٔ
ستا دپاره څهٔ وکړم؟ ما ته ووايه چې ستا په کور کښې څهٔ
شته؟“ هغې ورته ووئيل، ”د زيتُونو تېلو د يو وړوکی لوښی نه
بغېر هيڅ هم نشته.“ ٣ اليشع هغې ته وفرمائيل، ”خپلو ټولو
ګاونډيانو کره لاړه شه او چې څومره ډېر کېدے شی د هغوئ
نه خالی لوښی وغواړه. ٤ بيا تهٔ او ستا زامن کور ته لاړ
شئ، دروازه بنده کړئ او په لوښو کښې تېل اچول شروع
کړئ. چې يو لوښے ډکيږی نو هغه يو طرف ته ايږدئ.“ ٥
نو هغه ښځه خپلو زامنو سره کور ته دننه لاړه، دروازه يې
بنده کړه، د زيتُونو هغه وړوکے لوښے يې واخستلو او تېل
يې په لوښو کښې اچول او د هغې زامنو ورله لوښی راوړل.
٦ کله چې هغوئ ټول لوښی ډک کړل، نو هغې ترې نه
تپوس وکړو چې نور شته. نو يو زوئ ورته ووئيل، ”نور
نشته.“ نو د تېلو بهېدل بند شول. ٧ هغه واپس اليشع
پېغمبر له لاړه او هغهٔ ورته وفرمائيل، ”د زيتُونو تېل خرڅ کړه
او خپل ټول قرض ختم کړه او چې پېسې پاتې شی نو په هغې
باندې تهٔ او ستا زامن خپله خرچه کوئ.“

## اليشع او د شونيم مالداره ښځه

٨ يوه ورځ اليشع شونيم ته لاړو، چرته چې يوه مالداره
ښځه اوسېده. هغې هغهٔ له د روټۍ دعوت ورکړو، بيا چې هغه
کله هم شونيم ته تلو نو د هغې په کور کښې به يې روټۍ
خوړله. ٩ هغې خپل خاوند ته ووئيل، ”دلته چې کوم سړے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اکثر راځی نو زما دا یقین دے چې هغه د خُدائ پاک
خِدمتګار دے. ۱۰ راځه چې په چت باندې یوه وړه کوټه
جوړه کړُو، یو کټ، میز، کُرسۍ او یوه ډیوه به په کښې کېږدو
او چې هغه کله مونږ له راځی نو هلته به پاتې کیږی." ۱۱ یوه
ورځ هغه راغلو او د آرام دپاره خپلې کوټې ته وختلو. ۱۲ نو
هغهٔ خپل نوکر جیحازی ته وفرمائیل چې، "لاړ شه او هغه
شونیمی ښځه راوغواړه." کله چې هغه راغله، ۱۳ نو هغهٔ
جیحازی ته وفرمائیل، "هغې ته ووایه چې زمونږ د ضرورتونو
پوره کولو دپاره یې کوم تکلیف کړے دے نو د دې په بدل
کښې زهٔ د هغې دپاره څهٔ وکړم. کېدے شی چې هغه ما ته
ووائی چې بادشاه یا د فوج مشر له لاړ شم او د هغې سفارش
وکړم." هغې ورته ووئیل، "زما خلق زما خیال ساتی." ۱۴
الیشع د جیحازی نه تپوس وکړو، "نو زهٔ د هغې دپاره څهٔ
وکړم؟" هغهٔ ورته ووئیل، "خبره دا ده چې د هغې بچی نشته
او د هغې خاوند یو بوډا سړے دے." ۱۵ الیشع حُکم وکړو،
"هغې ته ووایه چې دلته راشی." نو هغه راغله او د دروازې په
خولهٔ کښې ودرېدله، ۱۶ الیشع هغې ته وفرمائیل، "په
راتلونکی کال کښې هم په دې وخت کښې به تا په خپل غېږ
کښې یو زوئ نیولے وی." هغې ووئیل، "صاحِبه، ما ته دروغ
مهٔ وایه. تهٔ د خُدائ پاک خِدمتګار یې." ۱۷ خو لکه چې
څنګه الیشع فرمائیلی وُو، په ورپسې کال تقریباً هم هغه وخت
د هغې یو زوئ پیدا شو. ۱۸ کله چې هلک لوئ شو نو یوه
ورځ هغه بهر خپل پلار له ووتلو، پلار یې د لَوګرو سره په پټی
کښې وو. ۱۹ ناڅاپه هغهٔ خپل پلار ته چغه کړه، "زما په سر
څهٔ وشول. زما سر خوږیږی." پلار یې یو نوکر ته ووئیل،
"هلک خپلې مور له بوځه." ۲۰ هغه نوکر هلک واپس خپلې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مور له بوتلو، او تر هغې پورې يې په غېږ کښې نيولے وو،
چې د غرمې په وخت هغه مړ شو. ٢١ هغې هغه د اليشع
کوټې له يوړو، هغه يې په کټ کښې واچولو او لاړه، دروازه
يې ورپسې بنده کړه. ٢٢ بيا يې خپل خاوند راوغوښتلو او
ورته يې ووئيل، ”يو نوکر د خر سره دلته راولېږه چې زۀ زر
زر د خُدائ پاک خِدمتګار له لاړه شم او بيا واپس راشم.“
٢٣ خاوند ترې نه تپوس وکړو، ”تۀ نن ولې روانه شوې؟ نن
خو نۀ د سبت ورځ ده او نۀ د نوې مياشتې اختر دے.“ هغې
ورته ووئيل، ”خېر به شى.“ ٢٤ بيا هغې خر کته کړو او نوکر
له يې حُکم ورکړو، ”څومره تېز چې خر تلے شى نو بو يې
ځه او چې ما درته وئيلى نۀ وى نو چې په مزه يې نۀ کړې.“
٢٥ نو هغه روانه شوه او د کرمل غر ته لاړه، چرته چې
اليشع وو. اليشع هغه د لرې ځائ نه وليده چې راروانه وه او
خپل نوکر جيحازى ته يې وفرمائيل، ”ګوره، هغه ښځه د
شونيم نه راغله. ٢٦ هغې له تېز ورشه او دا معلوم کړه چې
هغه، د هغې خاوند، د هغې زوئ په خېر دى.“ هغه ښځې
جيحازى ته ووئيل، ”آو، هر څۀ په خير دى.“ ٢٧ خو چې
کله هغه په غرۀ باندې اليشع له راغله نو هغه د اليشع په
مخکښې ټيټه شوه او هغۀ ته په پښو پرېوته. جيحازى هغې له
ديکه ورکوله چې اليشع ورته وفرمائيل، ”هغه پرېږده، تۀ دا نۀ
ګورې چې ډېره زياته خفه ده؟ او مالِک خُدائ ما ته نۀ دى
وئيلى چې څۀ شوى دى.“ ٢٨ ښځې هغۀ ته ووئيل،
”صاحِبه، ما ستا نه زوئ غوښتے وو څۀ؟ ما تا ته نۀ وُو
وئيلى چې زما اُميدونه مۀ راپاخوه؟“ ٢٩ اليشع جيحازى له
مخ راوړولو او ورته يې وفرمائيل، ”ځان تيار کړه، زما امسا
واخله او لاړ شه. په لاره باندې د چا سره سلام دُعا مۀ کوه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او کهٔ په تا څوک سلام اچوی نو جواب هم مهٔ ورکوه. هغه
کور ته سیدها لاړ شه او زما امسا د هلک په مخ باندې
کېږده.“ ۳۰ د هلک مور اليشع ته ووئيل، ”زما دې په ژوندی
مالِک خُدائ او ستا په سر قسم وی چې زهٔ به ستا نه بغیر
لاړه نهٔ شم.“ نو اليشع د هغې سره لاړو. ۳۱ جيحازی
وړاندې لاړو او د هلک په مخ یې امسا کېښوده، خو هيڅ آواز
يا د ژوند څهٔ علامت په کښې نهٔ وو. نو هغه د اليشع سره
مِلاوېدو دپاره واپس لاړو او ورته یې ووئيل، ”هغه هلک خو پا
نهٔ څېدو.“ ۳۲ کله چې اليشع ور ورسېدو، نو هغه کوټې ته
يواځې دننه لاړو او وې ليدل چې هلک په کټ باندې مړ
پروت دے. ۳۳ هغهٔ دروازه بنده کړه او مالِک خُدائ ته یې
سوال وکړو. ۳۴ بيا هغه کټ له لاړو او په هلک ورپرېوتلو،
خپله خولهٔ یې د هلک په خولهٔ کېښوده، سترګې د هغهٔ په
سترګو او لاسونه یې د هلک په لاسونو کېښودل. بيا هغه د
هلک د پاڅه خملاستو، نو هلک ګرمېدو. ۳۵ اليشع پاڅېدو،
په کوټه کښې وګرځېدو او واپس لاړو او په هلک باندې
خملاستو. هلک اووهٔ ځل انتوشی وکړو او بيا یې سترګې
وغړولې. ۳۶ اليشع جيحازی راوغوښتلو او ورته یې
وفرمائيل چې، ”د هلک مور راوغواړه.“ کله چې هغه راغله،
نو هغهٔ ورته وفرمائيل، ”زوئ دې واخله.“ ۳۷ نو هغه د
اليشع په پښو پرېوتله، زمکې ته ټيټه شوه، او بيا هغې خپل
زوئ واخستلو او لاړه.

## دوه نورې معجزې

۳۸ کله چې اليشع جِلجال ته راواپس شو، نو په هغه مُلک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې قحط وو. د پېغمبرانو يوه ډله د هغۀ په وړاندې ناسته
وه، هغۀ خپل نوکر ته وفرمائيل چې په اور باندې يو غټ
لوښے کېږده او د هغوئ دپاره ښوروا تياره کړه. ۳۹ د
هغوئ نه يو کس پټو ته لاړو چې څۀ بوټي راټول کړی. هغۀ د
ځنګلی کدو يو بوټے وموندلو او د ځنګلی کدوانو نه يې يوه
غېږه راټوله کړه. هغۀ دا راوړل، پرې يې کړل او په ښوروا
کښې يې واچول، خو په دې نۀ پوهېدو چې دا څۀ شے دے.
۴۰ ښوروا هغه سړو ته واچولے شوه چې وې خوری، خو
چې څنګه يې دا وڅَکله نو هغوئ اليشع ته وفرمائيل، ”اے د
خُدائ پاک خِدمتګاره. په دې لوښی کښې خو زهر دی.“ او
هغوئ دا نۀ شوه خوړلے. ۴۱ اليشع څۀ اوړۀ راوغوښتل،
لوښی کښې يې واچول او وې فرمائيل، ”هغوئ ته لږه نوره
ښوروا واچوه.“ نو په لوښی کښې ښوروا ټيک شوه. ۴۲ يو
بل ځل، د بعل‌سليسه نه يو سړے راغلو، اليشع له يې شل
روټۍ راوړې چې په هغه کال د اوربشو د اول فصل نه تيارې
شوې وې او څۀ تازه وَږی يې هم راوړل. اليشع خپل نوکر ته
وفرمائيل چې، ”د پېغمبرانو قبيلې له دا خوراک ورکړه،“ ۴۳
خو هغۀ ورته وفرمائيل، ”سلو سړو ته دا خوراک څنګه
کېږدم؟“ اليشع ورته وفرمائيل، ”هغوئ له يې ورکړه چې وې
خوری، ځکه چې مالِک خُدائ فرمائی چې هغوئ به ورباندې
ماړۀ شی او ترې نه پاتې به هم شی.“ ۴۴ نو نوکر روټۍ د
هغوئ په مخکښې کېښوده او لکه چې څنګه مالِک خُدائ
فرمائيلی ؤو، هغوئ ټولو روټۍ وخوړه او څۀ ترې نه پاتې هم
شوه.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د نعمان روغېدل

**۵** ۱ نو د شامی فوج مشر نعمان، د شام د بادشاه يو ډېر
عزتمند کس وو، ځکه چې د نعمان په ذريعه مالِک خُدائ
شامی فوج له فتح ورکړې وه. هغه يو تکړه فوجی وو، خو د
جذام بيماری يې لرله. ۲ د اِسرائيل خِلاف په يوه حمله
کښې، شاميانو يوه وړه اِسرائيلی جينۍ بوتله، چې هغه د
نعمان د ښځې نوکره شوه. ۳ يوه ورځ هغې خپلې نېکې ته
ووئيل، ”زما خواهش دے چې زما نېک هغه سامری پيغمبر
له لاړ شی. نو د هغهٔ په ذريعه به زما نېک د جذام نه روغ
شی.“ ۴ کله چې نعمان دا واورېدل، نو هغه بادشاه له لاړو
او چې جينۍ څهٔ وئيلی وُو هغه يې ورته ووئيل. ۵ بادشاه
ورته ووئيل، ”د اِسرائيل بادشاه له لاړ شه او دا خط هغهٔ له
يوسه.“ نو نعمان روان شو او د سپينو زرو دېرش زره سيکې،
شپږ زره د سرو زرو سيکې او لس جوړه ښې جامې يې
يوړې. ۶ هغهٔ چې کوم خط د اِسرائيل بادشاه له وړے وو
په هغې کښې وئيلے شوی وُو، ”کله چې دا خط درورسی نو
تهٔ به زما آفسر نعمان وپېژنې. زهٔ غواړم چې تهٔ د هغهٔ د جذام
علاج وکړې.“ ۷ کله چې د اِسرائيل بادشاه دا خط وکتلو،
نو هغهٔ د يرې نه خپلې جامې وشلولې او وې وئيل، ”د شام د
بادشاه دا خيال دے چې زهٔ دا جذامی سړے روغ کړم؟ ولې
زهٔ خُدائ پاک يم، چې ژوندی کول او مړهٔ کول کوم؟ هغه په
دې کوشش کښې دے چې ما سره جنګ شروع کړی.“ ۸
کله چې اليشع پيغمبر د دې نه خبر شو، نو هغهٔ بادشاه له دا
خبر ورولېږلو، ”تهٔ ولې خفه يې؟ هغه سړے ما له راولېږه، نو
هغهٔ ته به پته ولګی چې په اِسرائيل کښې پيغمبر شته.“ ۹ نو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نعمان د خپلو آسونو او جنگی گاړو سره لاړو او د اليشع د
کور د دروازې په خولهٔ کښې ودرېدلو. ۱۰ اليشع يو نوکر
بهر ورولېږلو چې هغهٔ ته ووائی چې، ”لاړ شه او خپل ځان د
اُردن په سيند کښې اووهٔ ځل ووينځه، نو ستا څرمن به بيا
ښهٔ شی او تهٔ به د جذام نه روغ شې.“ ۱۱ خو نعمان غصه
شو او لاړو او وې وئيل، ”زما خيال دا وو چې هغه به خامخا
ما له راوځی، مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک ته به سوال
وکړی او زما د بيمارۍ څرمنې دپاسه به خپل لاس ونيسی او
زهٔ به روغ شم. ۱۲ په دمشق کښې د ابانه او فرفر سيندونه
په اِسرائيل کښې د ټولو سيندونو نه ښهٔ نهٔ دی څهٔ؟ ما په هغه
سيندونو کښې خپل ځان نهٔ شو وينځلے چې روغ شوے
وے.“ نو هغه راواپس شو او په غصه کښې لاړو. ۱۳ د هغهٔ
نوکران ورغلل او ورته يې ووئيل، ”صاحِبه، کهٔ تا ته پېغمبر
فرمائيلی وے چې څهٔ غټ کار وکړه، نو تا به نهٔ وو کړے
څهٔ؟ لکه څنگه چې هغهٔ درته وفرمائيل نو تهٔ خپل ځان ولې نهٔ
وينځې چې روغ شې؟“ ۱۴ نو نعمان د اُردن سيند ته کوز
شو، اووهٔ ځل يې خپل ځان په کښې غوپه کړو، لکه چې
څنگه اليشع ورته فرمائيلی وُو او هغه بلکل روغ شو. د هغهٔ
څرمن د يو ماشوم په شان روغه شوه. ۱۵ نو هغه د ټولو
سرو سره اليشع ته راواپس شو او وې وئيل، ”گوره، ما ته پته
ده چې د بنی اِسرائيلو د خُدائ پاک نه بغير بل يو خُدائ هم
نشته، نو صاحِبه، زما نه تُحفه قبوله کړه.“ ۱۶ اليشع ورته
وفرمائيل، ”زهٔ د هغه ژوندی مالِک خُدائ په نوم قسم کوم
چې زهٔ يې خِدمت کوم چې زهٔ به يوه تُحفه هم نهٔ قبلوم.“ نو
نعمان بيا بيا ورته وئيل چې دا قبوله کړه، خو هغهٔ نهٔ اخستله.
۱۷ نو نعمان ووئيل، ”کهٔ تهٔ زما نه تُحفه نهٔ قبلوې، نو ما

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پرېږده چې دوه قچرې په خاورو باندې بار کړم، ځکه چې د
نن نه به زۀ د مالِک خُدائ نه بغېر بل يو خُدائ ته هم
سوزېدونکې نذرانه يا قربانى پېش نۀ کړم. ۱۸ خو مالِک
خُدائ دې ستا خِدمت کوونکى ته دا يوه غلطى معاف کړى،
کله چې زما نېک د رِمون عبادتخانې ته د سجدې دپاره
ننوځى او هغۀ زما په لاس باندې تکيه وهلې وى او هلته زۀ هم
ورسره ټيټ شم، نو چې زۀ کله د رِمون په عبادتخانه کښې
ټيټېږم، نو مالِک خُدائ دې ستا خِدمت کوونکے د دې په
وجه معاف کړى.“ ۱۹ اليشع ورته وفرمائيل، ”په خير لاړ
شه.“ او نعمان لاړو. هغۀ لږ شان مزل کړے وو، ۲۰ چې د
اليشع نوکر جيحازى د خپل ځان سره ووئيل، ”زما نېک
نعمان هم داسې پرېښودو او يو څيز يې هم ترې نه وانۀ
خستلو. هغه شامى چې څۀ راوړى وُو نو دۀ له په کار وُو چې
هغه يې ترې نه اخستے وے. زۀ په ژوندى مالِک خُدائ قسم
کوم چې زۀ به په هغۀ پسې ورمنډه کړم او څۀ نه څۀ به ترې
نه واخلم.“ ۲۱ نو هغه په نعمان پسې روان شو. کله چې
نعمان وليدل چې يو سړى ورپسې منډې وهلې، نو هغه د
خپلې جنګى ګاډى نه ورکوز شو او تپوس يې ترې نه وکړو،
”خير خو دے؟“ ۲۲ جيحازى ورته ووئيل، ”بلکل خير دے،
خو زۀ خپل نېک د دې دپاره راولېږلم چې تا ته ووايم چې دا
اوس اوس د پېغمبرانو د قبيلې دوه پېغمبران د غرونو مُلک
اِفرائيم نه راورسېدل، نو هغوئ له درې زره د سپينو زرو
سيکې او دوه جوړه ښې جامې ورکړه.“ ۲۳ نعمان ورته
ووئيل، ”صاحِبه، د سپينو زرو شپږ زره سيکې واخله.“ هغۀ
ورته بيا بيا وئيل، او هغۀ سپين زر په دوو بوجو کښې وتړل
او خپلو دوو نوکرانو له يې دوه جوړه ښې جامې ورکړې او د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جیحازی نه مخکښې یې ولېږل. ۲۴ کله چې هغوئ هغه غر
ته ورسېدل چرته چې الیشع اوسېدو، نو جیحازی هغه دوه
بوجۍ واخستلې او کور ته یې یوړې. بیا هغهٔ د نعمان نوکران
واپس ولېږل. ۲۵ هغه کور ته واپس لاړو او الیشع ترې نه
تپوس وکړو، "تهٔ چرته وې؟" هغهٔ ورته ووئیل، "ستا خِدمت
کوونکے هیچرته هم نهٔ دے تلے." ۲۶ خو الیشع ورته
وفرمائیل، "زما روح هلته تا سره نهٔ وو څهٔ چې کله هغه
سړے د خپلې جنګی ګاډۍ نه تا له راکوز شو؟ دا وخت د
پېسو او جامو، د زیتُونو ونو او د انګورو باغونو، د ګډو او
څاروو یا د نوکرانو د قبلولو نهٔ دے. ۲۷ نو په دې وجه د
نعمان بیماری به په تا او ستا په اولاد باندې د همېشه دپاره
وی." کله چې جیحازی لاړو، نو په هغهٔ دا بیماری راغله او د
هغهٔ څرمن د واورې په شان سپینه شوه.

## د تبر د سر معجزه

۶ ۱ یوه ورځ د الیشع د قبیلې پیغمبران الیشع له ورغلل
او هغوئ ورته وفرمائیل چې، "په کوم ځائ کښې چې مونږ
ستا د مشرۍ لاندې اوسېږو نو هغه ځائ زمونږ دپاره ډېر
وړوکے دے. ۲ مونږ له اجازت راکړه چې د اُردن سیند
ته لاړ شُو نو مونږ هر یو به یو یو تیر ووهو، نو د اوسېدو
دپاره به یو ځائ جوړ کړُو." الیشع ورته وفرمائیل، "لاړ شئ."
۳ په هغوئ کښې یو الیشع ته وفرمائیل چې، "صاحِبه،
مونږ سره لاړ شه،" نو هغه ورسره لاړو، ۴ او هغوئ په یو
ځائ روان شول. کله چې هغوئ د اُردن سیند ته ورسېدل، نو
هغوئ ونې وهل شروع کړل. ۵ کله چې هغه یو په کښې یوه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ونه وهله، نو ناڅاپه د هغهٔ د تبر نه د اوسپنې سر په اوبو کښې
وغورزېدو. هغهٔ چغه کړه، ”زما نيکه، دا تبر مې د بل چا نه
اخستے وو.“ ٦ اليشع ترې نه تپوس وکړو، ”هغه په کوم
ځائ کښې ورغورزېدو؟“ نو سړى ورته هغه ځائ وښودلو او
اليشع يو لرګے پرې کړو او په اوبو کښې يې وغورزولو، نو د
تبر سر راووتلو او د اوبو دپاسه ګرځېدو. ٧ هغهٔ ورته
وفرمائيل، ”دا بهر راوباسه.“ او هغه سړى خپل لاس وراوږد
کړو او راواېې خستلو.

## د شامى فوج شکست خوړل

٨ د شام بادشاه د اِسرائيل سره په جنګ وو. هغهٔ د خپلو
آفسرانو سره مشوره وکړه او يو ځائ يې خوښ کړو چې
هلته خپلې خېمې ولګوى. ٩ خو اليشع د اِسرائيل بادشاه له
خبردارے ورولېږلو چې هغه ځائ ته ورنزدې نهٔ شى، ځکه
چې شاميان هلته د حملې دپاره پټ وُو. ١٠ نو د اِسرائيل
بادشاه هغه خلقو له خبردارے ورکړو کوم چې په هغه ځائ
کښې اوسېدل او د اِسرائيل بادشاه هغوئ د نظر لاندې ساتل.
داسې څو څو ځلې وشول. ١١ شامى بادشاه په دې باندې
ډېر زيات خفه شو، هغهٔ خپل آفسران راوغوښتل او تپوس يې
ترې نه وکړو، ”ستاسو کوم يو کس د اِسرائيل د بادشاه
طرفدارى کوى؟“ ١٢ يو په کښې ووئيل، ”بادشاه سلامت،
هيڅ څوک هم نه. اليشع پيغمبر د اِسرائيل بادشاه ته ستا هغه
خبرې هم کوى چې تهٔ يې د خملاستو په کوټه کښې کوې.“
١٣ بادشاه حُکم وکړو، ”هغه ولټوئ چې کسان ورولېږم او
وې نيسم.“ کله چې هغهٔ ته ووئيلے شول چې هغه په دوتين

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې دے، ۱۴ نو هغۀ هلته د آسونو او جنگی گاډو سره يو
لوئ لښکر ولېږلو. هغوئ د شپې هغه ښار ته ورسېدل او
محاصره يې کړو. ۱۵ په ورپسې سحر وختى د اليشع نوکر
پاڅېدو، د کور نه بهر لاړو او شامى لښکر او د هغوئ آسونه
او جنگی گاډۍ يې وليدې چې ښار يې محاصره کړے وو.
هغه اليشع له واپس لاړو او ورته يې ووئيل، ”زما نيکه، غرق
شُو څۀ وکړُو؟“ ۱۶ اليشع ورته وفرمائيل، ”مۀ يرېږه، مونږ
سره چې څۀ دى نو دا د هغوئ د هر څۀ نه زيات دى.“ ۱۷
بيا هغۀ دُعا وکړه، ”اے مالِکه خُدايه، د هغۀ سترگې وغړوه نو
چې هغه يې وگورى.“ مالِک خُدائ د هغۀ سوال واورېدو او د
اليشع نوکر چې بره وکتل نو وې ليدل چې د اليشع نه
گېرچاپېره غر د اور د آسونو او جنگی گاډو نه ډک وُو. ۱۸
کله چې شاميانو حمله وکړه، نو اليشع دُعا وکړه، ”اے مالِکه
خُدايه، دا سړى ړاندۀ کړه.“ نو مالِک خُدائ د هغۀ سوال
واورېدو او هغوئ يې ړاندۀ کړل. ۱۹ بيا اليشع هغوئ له
ورَغلو او ورته يې وفرمائيل، ”تاسو په غلطه لار روان يئ، دا
هغه ښار نۀ دے کوم چې تاسو لټوئ. ما پسې راځئ او زۀ به
مو هغه سړى له بوځم چې کوم تاسو لټوئ.“ نو هغۀ هغوئ
سامريه ته بوتلل. ۲۰ چې څنگه هغوئ ښار ته ورننوتل، نو
اليشع دُعا وکړه، ”اے مالِکه خُدايه، د هغوئ سترگې وغړوه
چې هغوئ ليدل وکړى.“ نو مالِک خُدائ د هغۀ سوال
واورېدو، هغۀ د هغوئ نظر ښۀ کړو او هغوئ وليدل چې
هغوئ په سامريه کښې دننه وُو. ۲۱ کله چې د اِسرائيل
بادشاه شاميان وليدل، نو هغۀ د اليشع نه تپوس وکړو،
”صاحِبه، زۀ هغوئ ووژنم؟ زۀ هغوئ ووژنم څۀ؟“ ۲۲ هغۀ
ورته وفرمائيل، ”نه، هغه فوجيان مۀ وژنه. کۀ هغوئ په جنگ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې هم نیولے شوی وے نو هغوئ به دې نۀ وژلے. هغوئ
ته روټئ او اوبۀ کېږده، چې خوراک څښاک وکړی نو واپس
دې خپل نېک له لاړ شی.“ ۲۳ نو د اِسرائیل بادشاه د هغوئ
دپاره یوه لویه مېلمستیا وکړه، او چې هغوئ خوراک څښاک
وکړو، نو هغوئ یې واپس د شام بادشاه له ولېږل. نو د هغه
وخت نه شامیانو د اِسرائیل په مُلک باندې حمله کول
پرېښودل.

## د سامریه محاصره

۲۴ څۀ موده وروستو د شام بادشاه بِن‌حدد د اِسرائیل
خِلاف خپل ټول فوج روان کړو او د سامریه ښار یې
محاصره کړو. ۲۵ نو د دې محاصرې په وجه په ښار کښې
د خوراک کمے دومره زیات شو چې د خر یو سر د سپینو
زرو په اتیا سیکو باندې خرڅېدو او د تقریباً یو پاو د
ګوګوشتکې غل د سپینو زرو په پینځو سیکو باندې خرڅېدل.
۲۶ د اِسرائیل بادشاه د ښار په دېوال باندې ګرځېدو چې
یوې ښځې ورته چغه کړه، ”بادشاه سلامت، زما مدد وکړه.“
۲۷ هغۀ ورته ووئیل، ”مالِک خُدائ چې ستا مدد نۀ کوی، نو
زۀ دې څنګه مدد وکړم؟ ما سره نه د درمند خوراک شته او
نۀ د انګورو د لنګرې نه مے شته؟ ۲۸ ستا مسئله څۀ ده؟“
هغې ورته ووئیل، ”هغه بله ورځ دې ښځې ما ته ووئیل چې
مونږ به زما بچے وخورو او بیا بله ورځ به د هغې بچے
وخورو. ۲۹ نو مونږ زما زوئ پوخ کړو او ومو خوړو. په
ورپسې ورځ ما هغې ته ووئیل چې مونږ به د هغې زوئ
وخورو، خو هغې پټ کړو.“ ۳۰ چې دا یې واورېدل، نو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بادشاه د خفګان نه خپلې جامې وشلولې او چې کوم خلق د
دېوال سره نزدې وُو نو هغوئ ولیدل چې هغهٔ د خپلو جامو
لاندې د ټاټ جامې اغوستې وې. ۳۱ هغهٔ ووئیل، "کهٔ نن
ورځ د الیشع سر د بدن نه لرې نهٔ شی نو خُدائ پاک دې ما د
ورځې د ختمېدو سره ووژنی." ۳۲ نو هغهٔ یو پېغام وړونکے
ولېږلو چې الیشع راولی. الیشع په کور کښې د یو څو مشرانو
سره ملاقات کولو. د بادشاه پېغام وړُونکی د رارسېدو نه
مخکښې، الیشع مشرانو ته وفرمائیل، "هغه قاتِل زما د وژلو
دپاره څوک رالېږلے دے. نو چې کله هغه دلته راورسیږی،
نو دروازه بنده کړئ او دننه یې مهٔ راپرېږدئ. بادشاه به په
خپله په هغهٔ پسې وی." ۳۳ نو هغهٔ لا خبرې ختمې کړې نهٔ
وې، چې بادشاه راورسېدو او وې وئیل، "دا مصیبت د مالِک
خُدائ نه په مونږ باندې راغلے دے. زهٔ دې نور د مالِک
خُدائ په طمع کښې ولې پاتې شم؟"

## ۷

۱ بیا الیشع ورته وفرمائیل، "د مالِک خُدائ کلام ته
غوږ ونیسه. مالِک خُدائ داسې فرمائی، سبا دا وخت به د
سپینو زرو په یوه سیکه باندې درې کلو ښهٔ اوړهٔ یا شپږ کلو
اوربشې د سامریه د دروازې خولې سره خرڅولے شی."
۲ نو د بادشاه خاص آفسر الیشع ته ووئیل، "کهٔ مالِک
خُدائ د آسمان نه د غلو دانو د باران دروازې کولاو کړې هم
وې، نو دا کار به ونهٔ شی." الیشع ورته وفرمائیل، "دا به تهٔ
په خپلو سترګو ووینې، خو تهٔ به ترې نه هیڅ هم ونهٔ خورې."

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د شام د فوجيانو تلل

۳ په هغه وخت کښې د ښار د دروازې د خولې سره د
جذام د بيمارۍ څلور سړى وُو او هغوئ يو بل ته ووئيل،
”مونږ دې تر مرګه پورې دلته ولې ناست يُو؟ ۴ ښار ته د
ننوتلو فائده نشته، دننه به د لوږې نه مړهٔ شُو، خو کهٔ مونږ
دلته ناست يُو، نو بيا به هم مړهٔ شُو. نو راځئ چې د شاميانو
کېمپ ته لاړ شُو، کهٔ هغوئ زمونږ ژوند بچ کړو، نو ژوندى
خو به يُو کهٔ نه، خو کهٔ ومو وژنى، نو مرو خو هسې هم.“ ۵
نو په ماښامى کښې هغوئ پاڅېدل او د شاميانو کېمپ ته
لاړل، خو چې کله هغوئ ورورسېدل، نو هلته هيڅ څوک هم
نهٔ وُو. ۶ مالِک خُدائ د شاميانو په فوج باندې د جنګى
ګاډو، آسونو او د يو لوئ فوج آوازونه اورولى وُو، نو شاميانو
يو بل ته ووئيل، ”د اِسرائيل بادشاه، حِتيان او د مِصر
بادشاهان او د هغوئ فوجيان د حملې دپاره په پېسو نيولى
دى.“ ۷ نو په هغه ماښام شاميان د خپل ژوند بچ کولو
دپاره تښتېدلى وُو، خپلې خېمې، آسونه، خرهٔ او خپل کېمپونه
يې هم داسې پرېښى وُو. ۸ کله چې هغه څلور سړى د
خېمو غاړې ته ورسېدل، نو هغوئ يوې خېمې ته ورننه
شول، هلته چې څهٔ وُو نو هغه يې وخوړل او وې څښل، چې
کوم سپين زر، سرهٔ زر او جامې يې وموندلې نو هغه يې يوړل
او پټ يې کړل، هغوئ بيا راغلل، يوې بلې خېمې ته ورننه
شول او هم هغه شان يې وکړل. ۹ خو بيا هغوئ يو بل ته
ووئيل، ”دا کار صحيح نهٔ دے. مونږ سره ښهٔ زېرے دے او
مونږ له دا د ځان سره ساتل نهٔ دى په کار. کهٔ مونږ تر سبا
پورې د دې د وئيلو اِنتظار وکړو، نو سزا به راته مِلاو شى.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راځئ چې لاړ شُو او د بادشاه آفسران خبر کړُو.“ ۱۰ نو
هغوئ د شامیانو د کېمپ نه روان شول، واپس سامریه ته
لاړل او د دروازو سپنتریانو ته یې آواز وکړو، ”مونږ د
شامیانو خېمو ته تلی وُو خو نۀ مو د چا آواز واورېدو او نۀ
مو څوک ولیدل، آسونه او خرۀ تړلی پاتې وُو او خېمې هم
هغه شان روغې ولاړې وې.“ ۱۱ نو سپنتریانو د دې خبر
اِعلان وکړو او دا خبر محل ته ورسېدو. ۱۲ خو بادشاه د
شپې د کټ نه پاڅېدو او خپلو آفسرانو ته یې ووئیل، ”زۀ به
تاسو ته ووایم چې شامیانو زمونږ خِلاف څۀ منصوبه جوړه
کړې ده. هغوئ ته زمونږ د قحط پته ده، نو هغوئ ځکه خپلې
خېمې پرېښې دی او پټو ته د پټېدو دپاره تلی دی. د هغوئ
خیال دا دے چې کله مونږ د خوراک دپاره د ښار نه لاړ شُو،
نو هغوئ به مونږ ژوندی ونیسی او ښار به قبضه کړی.“ ۱۳
د هغۀ یو آفسر ورته ووئیل، ”په دې ښار کښې خلق هسې هم
مرګِ حال دی. نو په تاسو کښې دې څۀ کسان پینځۀ آسونه د
پاتې شوی آسونو نه خوښ کړئ او لاړ دې شی. کۀ په دوئ
څۀ چل وشو، نو پرواه نۀ کوی ځکه کۀ دلته وے نو هم به
مونږ سره مړۀ شی. ګڼې مونږ ته خو به دا پته ولګی چې څۀ
چل دے.“ ۱۴ نو هغوئ سړی خوښ کړل او بادشاه هغوئ
په دوو جنګی ګاډو کښې ولېږل چې لاړ شئ او دا معلوم کړئ
چې په شامی فوج باندې څۀ شوی دی. ۱۵ چې هغه سړی د
اُردن پورې ورپسې لاړل، نو هغوئ په ټوله لار باندې هغه
جامې او سامان ولیدو چې د شامیانو نه په تېښته کښې پاتې
شوے وو. بیا هغوئ راواپس شول او بادشاه یې خبر کړو.
۱۶ د سامریه خلق راووتل او د شامیانو خېمې یې لوټ
کړې. او لکه چې څنګه مالِک خُدائ فرمائیلی وُو، د سپینو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زرو په یوه سیکه باندې درې کلو بښۀ اوړۀ یا شپږ کلو
اوربشې خرخېدلې. ١٧ نو داسې وشول چې د اِسرائیل
بادشاه خپل خاص آفسر ته د ښار د دروازې ذمه واری په
حواله کړې وه. هغه آفسر هلته د خلقو د پښو لاندې شو او
مړ شو، لکه څنګه چې الیشع په هغه وخت کښې پېشګوئې
کړې وه چې بادشاه هغۀ سره مِلاوېدو له تلے وو. ١٨ الیشع
په هغه وخت بادشاه ته فرمائیلی وُو چې سبا دا وخت به په
سامریه کښې درې کلو بښۀ غنم یا شپږ کلو اوربشې د سپینو
زرو په یوه سیکه باندې خرخیږی، ١٩ او آفسر الیشع ته په
جواب کښې وئیلی وُو، "کۀ مالِک خُدائ د آسمان د باران
دروازې کولاو کړے هم وې، نو دا کار به ونۀ شی." او
الیشع ورته فرمائیلی وُو، "دا به تۀ په خپلو سترګو وینې، خو
تۀ به هیڅ هم ترې نه ونۀ خورې." ٢٠ نو د هغۀ سره هم دغه
شان وشول، هغۀ د ښار د دروازې سره د خلقو د پښو لاندې
شو او مړ شو.

## د ښځې د شونیم نه راواپس کېدل

٨ ١ نو الیشع هغه ښځې له مشوره ورکړه چې د هغې
زوئ یې راژوندے کړے وو، او ورته یې وفرمائیل چې، "تۀ او
ستا خاندان لاړ شئ او په بل ځائ کښې اوسېږئ، ځکه چې
مالِک خُدائ فرمائیلی دی چې په دې مُلک کښې به اووۀ کاله
قحط وی." ٢ نو هغه ښځې هم هغه شان وکړل چې څنګه د
خُدائ پاک خِدمتګار مشوره ورکړې وه. هغې خپل خاندان
بوتلو او اووۀ کاله د فلستیه په مُلک کښې اوسېدل. ٣ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اووم کال په ختمېدو، هغه واپس اِسرائيل ته راغله او بادشاه
له لاړه چې مِنت ورته وکړی چې خپله زمکه او کور ورته
واپس مِلاو شی. ۴ هغې وليدل چې بادشاه د اليشع نوکر
جيحازی سره خبرې کولې، بادشاه غوښتل چې د اليشع په
لويو معجزو باندې پوهه شی. ۵ کله چې جيحازی بادشاه
ته وئيل چې اليشع يو مړے راژوندے کړے وو، نو هغه ښځې
بادشاه ته عرض وکړو. جيحازی هغۀ ته ووئيل، ”بادشاه
سلامت، هغه ښځه دا ده او دا يې زوئ دے چې اليشع
راژوندے کړے وو.“ ۶ بادشاه ښځې ته ووئيل چې خپله
قيصه بيان کړه، چې څۀ شوی وُو نو هغې ورته بيان کړل.
بادشاه يو آفسر راوغوښتو او ورته يې ووئيل چې، ”هغې له
خپل هر څۀ واپس ورکړه، سره د هغې د زمکې د اووۀ کالو
آمدن.“

## اليشع او د شام بادشاه بِن‌حدد

۷ اليشع په هغه وخت دمشق ته لاړو چې د شام بادشاه
بِن‌حدد بيمار وو. نو چې بادشاه خبر شو چې اليشع هلته
دے، ۸ نو هغۀ خپل يو آفسر حِزائيل ته ووئيل، ”هغه
پېغمبر له يوه تُحفه يوسه او هغۀ ته ووايه چې د مالِک خُدائ
نه تپوس وکړی چې زۀ به د دې بيمارئ نه ښۀ شم او کۀ نه.“
۹ نو حِزائيل په خلوېښتو اوښانو باندې د دمشق ښۀ
څيزونه بار کړل او اليشع له لاړو. کله چې حِزائيل ورسره
مِلاو شو نو ورته يې ووئيل، ”ستا خِدمتګار بِن‌حدد بادشاه زۀ
د دې تپوس دپاره رالېږلے يم چې هغه به د خپلې بيمارئ نه
ښۀ شی او کۀ نه.“ ۱۰ اليشع ورته وفرمائيل، ”مالِک خُدائ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ما ته دا څرګنده کړې ده چې هغه به مړ شی، خو هغهٔ له لاړ
شه او ورته ووايه چې هغه به روغ شی." ١١ اليشع ورته نېغ
نېغ کتل او سترګې يې ترې نه نهٔ اړولې چې حزائيل وشرمېدو
نو د خُدائ پاک خِدمتګار په ژړا شروع وکړه. ١٢ حِزائيل
ترې نه تپوس وکړو، "زما صاحِبه ولې ژاړې؟" اليشع ورته
وفرمائيل، "ما ته د هغه بدو پته ده چې تهٔ به يې د اِسرائيليانو
سره کوې، تهٔ به د هغوئ قلعې وسوزوې، د هغوئ زلمی به په
تُوره ووژنې، د هغوئ بچی به ټوټې ټوټې کړې او د هغوئ د
اُميدوارو ښځو خېټې به وشلوې." ١٣ حِزائيل ورته ووئيل،
"زما په شان يو معمولی انسان دومره غټ کار څنګه کولے
شی؟" اليشع ورته وفرمائيل، "مالِک خُدائ ما ته ښودلی دی
چې تهٔ به د شام بادشاه شې." ١۴ خزائيل بِن‌حدد له لاړو،
بِن‌حدد ترې نه تپوس وکړو، "اليشع څهٔ وفرمائيل؟" حِزائيل
ورته ووئيل، "هغهٔ ما ته ووئيل چې تهٔ به روغ جوړ شې." ١۵
خو په ورپسې ورځ خزائيل يوه کمبله واخسته، په اوبو کښې
يې لمده کړه او د بادشاه په مخ باندې يې واچوله، ساه يې
ورله بنده کړه او مړ شو. او حِزائيل د بِن‌حدد نه پس د شام
بادشاه شو.

## د يهوداه بادشاه يهورام

١۶ د اِسرائيل د بادشاه د اخي‌اب زوئ يورام د بادشاهۍ په
پينځم کال، د يهوسفط زوئ يهورام د يهوداه بادشاه شو ١٧
چې عُمر يې دوه دېرش کاله وو او هغهٔ په يروشلم باندې اتهٔ
کاله بادشاهي وکړه. ١٨ هغهٔ د اخي‌اب لور وادهٔ کړه او د
اخي‌اب د خاندان په شان هغه هم د اِسرائيل د بادشاهانو په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شان په غلطو لارو روان وو. هغهٔ د مالِک خُدائ په نظر کښې
بد وکړل، ١٩ خو مالِک خُدائ نهٔ غوښتل چې یهوداه تباه
کړی، ځکه چې هغهٔ د خپل خِدمت کوونکی داؤد سره لوظ
کړے وو چې د هغهٔ د اولاد ځلېدونکې بادشاهی به د همېشه
دپاره وی. ٢٠ د یهورام په بادشاهۍ کښې ادوم د یهوداه
خِلاف بغاوت وکړو او یو خپل بادشاه یې جوړ کړو. ٢١ نو
یهورام د خپلو ټولو جنګی ګاډو سره صعیر ته روان شو، چې
هلته ادومی فوجیانو هغوئ محاصره کړل. د شپې هغهٔ او د
هغهٔ د جنګی ګاډو مشرانو محاصره ماته کړه او وتښتېدل او
د هغهٔ فوجیان خپلو کورونو ته واپس شول. ٢٢ نو د یهوداه
ادوم تر اوسه پورې آزاد دے. هم په دې دوران کښې د لِبناه
ښار هم بغاوت وکړو. ٢٣ یهورام چې نور هر څهٔ هم کړی
وُو هغه د یهوداه د بادشاهانو د تاریخ په کِتاب کښې لیکلے
شوی دی. ٢٤ یهورام مړ شو او د داؤد په ښار کښې په
شاهی اديره کښې ښخ شو او د هغهٔ زوئ اخزیاه د هغهٔ نه
پس بادشاه شو.

## د یهوداه بادشاه اخزیاه

٢٥ د اِسرائیل بادشاه د اخی‌اب زوئ یورام د بادشاهۍ په
دولسم کال، د یهورام زوئ اخزیاه د یهوداه بادشاه شو ٢٦
چې عُمر یې دوویشت کاله وو او هغهٔ یو کال په یروشلم
باندې بادشاهی وکړه. د هغهٔ د مور عتلیاه نوم وو، چې د
اخی‌اب بادشاه لور او د اِسرائیل بادشاه عُمری نمسۍ وه.
٢٧ هغه هم د اخی‌اب د خاندان په لار روان وو او هغه څهٔ
یې کول چې د مالِک خُدائ په نظر کښې بد وُو، لکه څنګه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د اخی‌اب خاندان کړی ؤو، ځکه چې هغه د اخی‌اب د
خاندان وو. ۲۸ اخزیاه بادشاه د اِسرائیل د بادشاه یورام په
یو جنګ کښې ملګرتیا وکړه چې دا جنګ د شام د حِزائیل
خِلاف وو. فوجونه په رامات‌جِلعاد کښې وجنګېدل او یورام
په جنګ کښې زخمی شو. ۲۹ هغه د یزرعیل ښار ته راواپس
شو چې زخمونه یې روغ شی او اخزیاه هلته د مِلاوېدو دپاره
ورَغلو.

## یاهُو د اِسرائیل بادشاه مقرر کېدل

۹ ۱ په دې دوران کښې الیشع پېغمبر د پېغمبرانو د قبیلې
یو کس راوغوښتو او هغۀ ته یې وفرمائیل، ”ملا وتړه او
رامات‌جِلعاد ته لاړ شه. د زیتُونو د تېلو دا لوښے ځان سره
یوسه، ۲ او چې کله تهٔ هلته ورسېږې نو د نِمسی نمسے او
د یهوسفط زوئ یاهُو ولټوه. او هغه د خپلو ملګرو نه یو کوټې
ته بوځه، ۳ د لوښی دا تېل د هغۀ په سر باندې واچوه او
ورته ووایه چې مالِک خُدائ دا اِعلان کوی چې هغه تا د
اِسرائیل بادشاه مقرروی. بیا دروازه کولاو کړه او زر زر
وتښته.“ ۴ نو هغه زلمے پېغمبر رامات‌جِلعاد ته لاړو، ۵
هلته یې د فوج آفسران ولیدل چې راغونډ ؤو. هغۀ وفرمائیل،
”صاحِبه، ما سره ستا دپاره یو پېغام دے.“ یاهُو ورته ووئیل،
”تهٔ په مونږ کښې چا ته وائې؟“ نو هغۀ ورته وفرمائیل، ”د فوج
مشره، تا ته وایم.“ ۶ نو هغوئ دواړه دننه لاړل او هغه
زلمی پېغمبر د یاهُو سر د زیتُونو په تېلو غوړ کړو او ورته یې
وفرمائیل، ”مالِک خُدائ د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک دا اِعلان

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوی چې زۀ تا په خپلو خلقو اِسرائيل باندې بادشاه مقرروم.
۷ تۀ به د خپل نيک د اخى‌اب کورنۍ تباه کوې، نو داسې
به زۀ ايزبل له سزا ورکړم ځکه چې هغې زما پېغمبران او زما
نور خِدمت کوونکى وژلى وُو. ۸ د اخى‌اب مکمل خاندان
او اولاد به مرى، زۀ به د هغۀ په خاندان کښې هر يو نارينه
ختم کړم، کۀ هغه بوډا وى او کۀ ځوان وى. ۹ زۀ به د هغۀ
د خاندان سره هم هغه شان سلوک وکړم لکه څنګه سلوک
مې چې د اِسرائيل د بادشاهانو د نباط زوئ يربعام او د اخياه
زوئ بعشا سره کړے وو. ۱۰ ايزبل به هيڅ څوک نۀ
ښخوى، او د يزرعيل په علاقه کښې به سپى د هغې لاش
وخورى.“ بيا هغه ځوان پېغمبر دروازه کولاو کړه او منډه يې
کړه. ۱۱ ياهُو خپلو ملګرو آفسرانو له واپس لاړو، چې هغوئ
ترې نه تپوس وکړو، ”خېر خو دے؟ هغه ليونے تا له د څۀ
دپاره راغلے وو؟“ ياهُو ورته ووئيل، ”تاسو ته پته ده چې هغه
څنګه سړے دے او څنګه خبرې کوى.“ ۱۲ هغوئ ورته
ووئيل، ”مونږ ته رښتيا خبره وکړه چې هغۀ څۀ وفرمائيل.“ نو
هغۀ جواب ورکړو چې، ”هغۀ ما ته وفرمائيل چې، مالِک
خُدائ اِعلان کوى چې تا زۀ د اِسرائيل بادشاه مقرروم.“ ۱۳
نو سمدستى د ياهُو ملګرو آفسرانو خپلې چُوغې د پوړۍ
دپاسه خورې کړې چې ياهُو ورباندې ودرېږى، بيګلې يې
وغږولې او چغه يې کړه، ”ياهُو بادشاه دے.“

## د اِسرائيل د بادشاه يورام قتل

۱۴-۱۵ بيا ياهُو د يورام بادشاه خِلاف منصوبه جوړه کړه،
چې هغه په يزرعيل کښې وو، چې هلته د دې دپاره تلے وو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې هغه زخمونه يې روغ شي چې هغه د شام بادشاه حِزائيل
خِلاف په جنګ کښې زخمي شوے وو. نو ياهُو خپلو ملګرو
آفسرانو ته ووئيل، ”کۀ تاسو زما ملګرتيا کوئ، نو چې هيڅ
څوک هم د رامات‌جِلعاد نه ونۀ تښتئ چې په يزرعيل کښې
خلق خبر کړئ.“ ١٦ بيا هغه په خپله جنګی ګاډۍ کښې
سور شو او يزرعيل ته روان شو. يورام تر اوسه پورې روغ
شوے نۀ وو او د يهوداه بادشاه اخزياه د هغۀ تپوس له
ورغلے وو. ١٧ په يزرعيل کښې د څوکيدارۍ په برج کښې
يو محافظ وو چې هغۀ ياهُو او د هغۀ فوجيان وليدل چې
راروان وُو. هغۀ چغه کړه، ”ما يو څو سړی وليدل چې
راروان دی.“ يورام ورته ووئيل، ”په آس سور يو سړے
ورولېږه چې دا معلوم کړی چې خېر خو دے.“ ١٨ پيغام
وړونکے ياهُو له ورَغلو او ورته يې ووئيل، ”بادشاه معلومول
غواړی چې خېر خو دے څنګه راغلے يئ؟“ ياهُو ورته
ووئيل، ”تاسو په خېر څۀ کوئ؟ ما پسې راځه.“ محافظ دا
خبر ورکړو چې پيغام وړونکے هغه قبيلې ته رسېدلے دے
خو واپس رانۀ غلو. ١٩ نو بادشاه په آس سور دوېم سړے
ورولېږلو. کله چې هغه هغوئ له ورَغلو نو ورته يې ووئيل،
”بادشاه داسې وائی، خېر خو دے څنګه راغلے يې؟“ ياهُو
ورته ووئيل، ”تاسو په خېر څۀ کوئ؟ ما پسې راځه.“ ٢٠
محافظ يو ځل بيا خبر ولېږلو چې پيغام وړونکے هغه قبيلې
ته رسېدلے دے خو واپس رانۀ غلو. او هغۀ دا هم ووئيل،
”هغه خپله جنګی ګاډۍ د ليونی په شان چلوی، لکه چې ياهُو
وی.“ ٢١ يورام بادشاه حُکم وکړو، ”زما جنګی ګاډۍ تياره
کړئ.“ نو هغوئ تياره کړه او هغه او اخزياه بادشاه روان
شول، دواړه د ياهُو سره مِلاوېدو دپاره په خپله خپله جنګی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګاډۍ کښې سوارهٔ وُو او د نبوت په پټۍ کښې ورسره مِلاو
شول. ٢٢ يورام ترې نه تپوس وکړو، ”خېر خو دے څنګه
راغلې؟“ ياهُو ورته ووئيل، ”خېر به څنګه وی، چې په مونږ
کښې هغه کوډې او بُت پرستی موجوده وی چې ستا مور
ايزبل شروع کړې دی؟“ ٢٣ يورام چغه کړه، ”اخزياه، دا
سازش دے.“ نو هغهٔ سمدستی خپله جنګی ګاډۍ راتاو کړه
او هغه روان شو چې وتښتی. ٢٤ ياهُو خپله ليندہ راوويسته
او پوره يې راښکله او د يورام د ولو مينځ يې په غشی وويشتو
او د هغهٔ زړهٔ يې سورے کړو. يورام په خپله جنګی ګاډۍ
کښې مړ پرېوتو، ٢٥ او ياهُو خپل آفسر بِدقر ته ووئيل، ”د
هغهٔ لاش اوچت کړه او په هغه پټۍ کښې يې وغورزوه چې د
نبوت دے. هغه راپه ياد کړه چې کله تهٔ او زهٔ د يورام بادشاه
پلار اخئ‌اب پسې روان وُو، نو مالِک خُدائ د اخئ‌اب خِلاف
دا کلام وکړو، ٢٦ ما د نبوت او د هغهٔ د زامنو قتل پرون
وليدو. زهٔ دا قسم کوم چې زهٔ به تا له هم په دې پټۍ کښې
سزا درکړم.“ نو ياهُو خپل آفسر له حُکم ورکړو چې، ”د
يورام لاش اوچت کړه او په هغه پټۍ کښې يې واچوه چې کوم
د نبوت دے، نو چې د مالِک خُدائ قسم پوره شی.“

## د يهوداه بادشاه اخزياه وژل

٢٧ اخزياه خبر شو چې څهٔ شوی وُو، نو هغه په خپله
جنګی ګاډۍ کښې د بيت‌هګان ښار طرف ته وتښتېدو او ياهُو
وريسې وو. ياهُو خپلو سړو له حُکم ورکړو، ”دے هم
ووژنئ.“ او چې کله هغهٔ د ابليعام ښار سره نزدې جور ته
خپله جنګی ګاډۍ روانه کړې وه نو هغه يې زخمی کړو، خو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تر هغې پورې روان وو چې د مِجدو ښار ته ورسېدو او هلته
مړ شو. ۲۸ د هغهٔ خپلو آفسرانو د هغهٔ لاش په جنګی ګاډی
کښې واپس يروشلم ته يوړو او د داؤد په ښار کښې په شاهی
اديره کښې يې ښخ کړو. ۲۹ اخزياه د اخی‌اب د زوئ يورام
د بادشاهئ په يوولسم کال د يهوداه بادشاه جوړ شوے وو.

## د مَلِکه ايزبل وژلے کېدل

۳۰ ياهُو يزرعيل ته ورسېدو. نو چې ايزبل خبر شوه، نو
رانجهٔ يې پورې کړل، وېښتهٔ يې سم کړل او په محل کښې د
يوې کړکئ سره ودرېده او بهر يې کتل. ۳۱ څنګه چې ياهُو
دروازې ته راورسېدو، نو هغې ورته آواز وکړو، ”تهٔ د زِمری
په شان يې، تهٔ د خپل نېک قاتِل يې، تهٔ څنګه دلته په خېر سره
راغلې؟“ ۳۲ ياهُو بره وکتل او چغه يې کړه، ”زما ملګرتيا
څوک کوی؟“ دوو يا درېو خصيانو هغهٔ ته لاندې وکتل، ۳۳
او ياهُو هغوئ ته ووئيل، ”هغه لاندې راوغورزوئ.“ نو هغوئ
هغه لاندې راوغورزوله او آسونو د هغې لاش د پښو لاندې
کړو او د هغې په وينو باندې دېوال او آسونه لت پت شول.
۳۴ بيا ياهُو لاړو او د خوراک څښاک نه پس هغهٔ ووئيل،
”دا لعنتی ښځه بوځئ او ښخه يې کړئ، کهٔ څهٔ هم وی خو د
بادشاه لور خو ده کنه.“ ۳۵ خو چې سړی د هغې ښخېدلو
له ورغلل نو هغوئ د هغې کوپړی، پښو او د هغې د لاسونو نه
بغېر هيڅ هم ونهٔ موندل. ۳۶ کله چې هغوئ ياهُو د دې نه
خبر کړو، نو هغهٔ ووئيل، ”دا هغه څهٔ دی چې مالِک خُدائ
فرمائيلی وُو چې داسې به کيږی، کله چې هغهٔ د خپل خِدمت
کوونکی الياس په ذريعه دا کلام کړے وو يعنې، د يزرعيل په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

علاقه کښې به سپی د ایزبل لاش وخوری. ۳۷ د ایزبل لاش
د یزرعیل په مُلک کښې په یو پټی کښې به په زمکه باندې د
سوټو په شان خور ورو پروت وی او څوک به هم نۀ وی چې
هغه وپېژنی.“

## د اخیاب د اولاد وژلے کېدل

۱۰ ۱ د اخیاب بادشاه اویا زامن د سامریه په ښار
کښې اوسېدل. یاهُو یو خط ولیکلو او د ښار حکمرانانو، د
ښار مشرانو او د اخیاب د اولاد مشرانو له یې د دې نقلونه
ولېږل. په خط کښې دا وئیلی شوی وُو، ۲ ”تاسو د بادشاه
د زامنو مشران یئ او ستاسو حِفاظت د جنګی ګاډو، آسونو،
وسلو او د پَخو دېوالونو د ښارونو سره کیږی. چې څنګه
تاسو ته دا خط مِلاو شی، ۳ نو تاسو د بادشاه د زامنو نه
یو ښۀ کس خوښ کړئ، هغه بادشاه جوړ کړئ او د هغۀ د
حِفاظت دپاره جنګ کوئ.“ ۴ د سامریه حکمرانان
وېرېدل. هغوئ ووئیل، ”یورام بادشاه او اخزیاه بادشاه چې د
یاهُو مخالفت نۀ شو کولے نو مونږ د هغۀ مخالفت څنګه
وکړُو؟“ ۵ نو د محل آفسر او د ښار آفسر، سره د ښار د
مشرانو او د بادشاه د زامنو محافظانو، یاهُو له دا پېغام
ولېږلو، ”مونږ ستا خِدمت کوونکی یُو او چې تۀ څۀ وائې نو
هغې ته تیار یُو. خو مونږ د هیچا نه هم بادشاه نۀ جوړوُو، چې
څۀ تا ته ښۀ ښکاری نو هم هغه وکړه.“ ۶ یاهُو هغوئ ته یو
بل خط ولیکلو، ”کۀ تاسو زما ملګرتیا کوئ او زما حُکمونو
منلو ته تیار یئ، نو سبا دا وخت په یزرعیل کښې د اخیاب

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بادشاه د زامنو سرونه ما له راوړئ.“ د اخی‌اب بادشاه اویا
زامن د سامریه ښار د مشرانو د حِفاظت لاندې لوئ شول.
٧ چې کله د یاهُو خط راورسېدو، نو د سامریه مشرانو د
اخی‌اب هغه اویا واړه زامن ووژل، د هغوئ سرونه یې په
ټوکرو کښې واچول او په یزرعیل کښې یې یاهُو له ولېږل. ٨
کله چې یاهُو خبر شو چې د اخی‌اب د زامنو سرونه راوړے
شوی دی، نو هغهٔ حُکم ورکړو چې د دې نه د ښار د دروازې
په خولهٔ کښې دوه ډیری جوړ کړئ او تر سحر پورې دې هلته
پرېښودلے شی. ٩ په سحر کښې، هغه د ښار دروازې له
لاړو او چې کوم خلق هلته وُو نو هغوئ ته یې ووئیل، ”زهٔ هغه
څوک یم چا چې د یورام بادشاه خِلاف منصوبه جوړه کړه
او هغه یې ووژلو، تاسو د هغې ذمه وار نهٔ یئ. خو دا ټول چا
ووژل؟ ١٠ تاسو یقین وکړئ چې د مالِک خُدائ کوم پېغام
د اخی‌اب د خاندان په حقله بیان شوے وو هغه به نهٔ ناکام
کیږی. مالِک خُدائ د خپل خِدمت کوونکی الیاس په ذریعه
دا اِعلان کړے وو چې داسې به کیږی.“ ١١ بیا یاهُو د
اخی‌اب نور ټول خپلوان ووژل چې کوم په یزرعیل کښې
اوسېدل او د هغهٔ ټول آفسران، نزدې ملګری او اِمامان هم، د
هغوئ نه یو کس هم ژوندے پاتې نهٔ شو.

## د اخزیاه بادشاه د خپلوانو وژلے کېدل

١٢ یاهُو سامریه ته روان شو. په لار کښې، د هغه ځائ سره
چې نوم یې ”د شپانو ځائ“ وو، ١٣ هغه د یهوداه د مړ
بادشاه اخزیاه د یو څو خپلوانو سره مِلاو شو او د هغوئ نه
یې تپوس وکړو، ”تاسو څوک یئ؟“ هغوئ ورته ووئیل، ”مونږ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د اخزياه خپلوان يُو، مونږ يزرعيل ته روان يُو چې د مَلِکه
ايزبل او د شاهی خاندان د نورو کسانو درناوے وکړُو.“ ۱۴
ياهُو خپلو سړو له حُکم ورکړو، ”هغوئ ژوندی ونيسئ.“ نو
هغوئ يې ونيول او هغوئ يې هلته د يوې کندې سره نزدې
ووژل. هغوئ ټول دوه څلوېښت کسان وُو او د هغوئ نه يو
کس هم ژوندے پاتې نۀ شو.

## د اخی‌اب د پاتې شوو ټولو خپلوانو وژلے کېدل

۱۵ ياهُو يو ځل بيا روان شو، په لار کښې هغه د ريکاب
زوئ يوندب سره مِلاو شو. ياهُو ورباندې سلام واچولو او
ورته يې ووئيل، ”تۀ هم زما هغه شان وفادار يې لکه چې څنګه
زۀ ستا وفادار يم؟“ يوندب ورته ووئيل، ”آو، زۀ ستا وفادار
يم.“ ياهُو ورته ووئيل، ”کۀ داسې وی نو ما له لاس راکړه.“ نو
هغۀ لاس ورکړو. ياهُو هغه د ځان سره خپلې جنګی ګاډۍ ته
وخېژولو. ۱۶ او هغۀ ورته ووئيل، ”ما سره لاړ شه او په
خپله وګوره چې زۀ د مالِک خُدائ څومره وفادار يم.“ او هغه
يې په خپله جنګی ګاډۍ کښې بوتلو. ۱۷ کله چې هغوئ
سامريه ته راغلل، نو ياهُو د اخی‌اب ټول پاتې شوی خپلوان
ووژل، تر دې پورې چې يو هم ژوندے پاتې نۀ شو، هم هغه
شان چې څنګه مالِک خُدائ الياس ته کلام کړے وو.

## د بعل عبادت کوونکی وژلے کېدل

۱۸ ياهُو د سامريه ټول خلق راغونډ کړل او ورته يې ووئيل،
”اخی‌اب بادشاه د بعل بُت لږ شان خِدمت کړے دے، خو
زۀ به يې د هغۀ نه هم زيات خِدمت وکړم. ۱۹ د بعل ټول

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پېغمبران، د هغهٔ ټول عبادت کوونکی او ټول اِمامان راغونډ
کړئ. هيڅ څوک به غېر حاضر نهٔ وی، زهٔ بعل ته يوه لويه
قربانی پېش کومه او چې څوک هم حاضر نهٔ شی نو هغه به
وژلے شی.“ خو د ياهُو مطلب دا وو چې داسې به د بعل
عبادت کوونکی ووژنی. (٢٠) بيا ياهُو اِعلان وکړو، ”د بعل د
درناوی دپاره د عبادت د ورځې اِعلان وکړئ.“ نو اِعلان
وشو، (٢١) او ياهُو د اِسرائيل ټول مُلک ته دا خبر ولېږلو، او
د بعل عبادت کوونکی ټول راغلل نو يو کس هم پاتې نهٔ شو
چې غېر حاضر وی. هغوئ ټول د بعل عبادتخانې ته راغلل او
د يو سر نه تر بل سره پورې يې عبادتخانه ډکه کړه. (٢٢) بيا
ياهُو د مقدسو چُوغو مشر اِمام له حُکم ورکړو چې چُوغې
راوړه او عبادت کوونکو له يې ورکړه. (٢٣) د هغې نه پس،
ياهُو په خپله د ريکاب زوئ يوندب سره عبادتخانې ته دننه
شو او خلقو ته يې هلته ووئيل، ”پام کوئ چې صِرف د بعل
عبادت کوونکی حاضر وی او د مالِک خُدائ يو عبادت
کوونکے هم نهٔ وی راننوتلے.“ (٢٤) بيا هغه او يوندب دننه
لاړل چې بعل ته قربانۍ او سوزېدونکې نذرانې پېش کړی. هغهٔ
اتيا سړی د عبادتخانې نه بهر ودرولی وُو او هغوئ ته يې
وئيلی وُو، ”تاسو به دا ټول خلق وژنئ، چې د چا نه يو کس
هم وتښتی نو د هغهٔ په سر کښې به هغه وژلے شی.“ (٢٥) چې
څنګه ياهُو نذرانې پېش کړې، نو هغهٔ څوکيدارانو او آفسرانو
ته ووئيل، ”دننه ورشئ او ټول ووژنئ، چې يو هم درنه خلاص
نهٔ شی.“ هغوئ تُورې راوويستلې او دننه لاړل، ټول يې ووژل او
د هغوئ لاشونه يې بهر راښکل. بيا هغوئ د عبادتخانې دننني
ځائ ته لاړل، (٢٦) چې هلته کومه مقدسه ستنه وه هغه يې
راوويستله او وې سوزوله. (٢٧) نو هغوئ د عبادت ستنه او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عبادتخانه تباه کړه او عبادتخانه په ټټی بدله شوه او تر نن
ورځې پورې شته دے. ۲۸ نو یاهُو داسې د اِسرائیل نه د بعل
عبادت ختم کړو، ۲۹ خو هغهٔ د یربعام بادشاه ګناه بنده نهٔ
کړه، چا چې اِسرائیلیان د ګناه طرف ته بوتلی وُو چې هغوئ
د سرو زرو د هغه سخی عبادت وکړو چې هغهٔ په بیت‌ایل او
دان کښې لګولے وو. ۳۰ مالِک خُدائ یاهُو ته وفرمائیل، ”تا
د اخی‌اب په اولاد باندې هم هغه څهٔ وکړل چې ما درته
فرمائیلی وُو. نو زهٔ تا سره لوظ کوم چې ستا اولاد به تر
څلورم نسل پورې د اِسرائیل بادشاهان وی.“ ۳۱ خو یاهُو د
زړهٔ د اخلاصه د مالِک خُدائ د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک
قانون نهٔ منلو. هغه د یربعام د هغه ګناهونو نه نهٔ راګرځېدو،
چې په بنی اِسرائیلو باندې یې کړی وُو.

## د یاهُو مرګ

۳۲ په هغه وخت کښې مالِک خُدائ د اِسرائیل د علاقې
کمول شروع کړل. د شام بادشاه حِزائیل د اِسرائیل ټوله
علاقه فتح کړه ۳۳ د اُردن نمرخاتهٔ طرف ته، د ارنون سیند
په غاړه په جنوب کښې د عروعیر ښار پورې، په دې کښې د
جِلعاد او بسن علاقې هم شاملې وې، چرته چې د جاد، روبین
او نمرخاتهٔ طرف ته منسی قبیلې اوسېدې. ۳۴ نور هر څهٔ
چې یاهُو کړی وُو، سره د هغهٔ د بهادرئ د کارنامو، دا د
اِسرائیل د بادشاهانو په تاریخ کښې لیکلے شوی دی. ۳۵
هغه مړ شو او په سامریه کښې ښخ شو او د هغهٔ زوئ
یهوآخز د هغهٔ نه پس بادشاه جوړ شو. ۳۶ یاهُو په سامریه
کښې اتهٔ‌ویشت کاله بادشاهی وکړه.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د يهوداه مَلِکه عتلياه

۱۱ ۱ څنګه چې د اخزياه مور عتلياه د خپل زوئ د قتل
نه خبر شوه، نو هغې ووئيل چې د شاهی خاندان ټول کسان
دې ووژلے شی. ۲ صِرف د اخزياه زوئ يوآس وتښتېدو.
هغه هم د نورو سره وژلے کېدو، خو يهوسبع هغه بچ کړو،
يهوسبع د يهورام لور او د اخزياه ناسکه خور وه. هغې يوآس
او د هغهٔ دايېه د مالِک خُدائ په کور کښې د خوب کوټې ته
بوتلل او د عتلياه نه يې پټ کړو، نو هغه ونهٔ وژلے شو. ۳
شپږ کاله يهوسبع د هلک خيال ساتلو او د مالِک خُدائ په
کور کښې يې پټ کړے وو، چې په دې دوران کښې عتلياه
مَلِکه وه. ۴ خو په اوۀم کال يهويدع اِمام د شاهی
څوکيدارانو او د محل څوکيدارانو مشران آفسران راوغوښتل
او د مالِک خُدائ کور ته يې راوستل، چې هلته يې د هغوئ نه
دا قسم واخستلو چې د هغهٔ په منصوبه به عمل کوی. نو بيا
هغهٔ ورته د اخزياه بادشاه زوئ يوآس وښودلو ۵ او هغوئ
له يې دا حُکم ورکړو، "کله چې تاسو د سبت په ورځ خپل
کار له راشئ، نو ستاسو دريمه حِصه کسان به د محل
څوکيداری کوی، ۶ بله دريمه حِصه به د صور په دروازه
کښې د څوکيدارۍ دپاره ودرېږی او بله دريمه حِصه به د
نورو څوکيدارانو وروستو د دروازې سره د څوکيدارۍ دپاره
ودرېږی. ۷ هغه دواړه ډلې چې د سبت په ورځ يې چُټی
وی نو هغه به د مالِک خُدائ په کور د بادشاه د څوکيدارۍ
دپاره ودرېږی. ۸ تاسو به د يوآس بادشاه نه ګېرچاپېره
ولاړ يئ او تُورې به مو راويستلې وی او چې چرته هم ځی نو
ورسره ځئ. هر څوک چې تاسو له نزدې راځی نو هغه دې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وژلے شی.“ ٩ آفسرانو د یهویدع په خبرو عمل وکړو او
هغوئ هغه سړی ورله راوستل چې د سبت په ورځ په چُتئ
تلل او چې کوم څوکیدارئ له راتلل. ١٠ هغهٔ آفسرانو له هغه
نېزې او ډالونه ورکړل کوم چې د داؤد بادشاه وُو او چې د
مالِک خُدائ په کور کښې ساتلے شوی وُو، ١١ او هغهٔ د
مالِک خُدائ د کور په مخکښې ګېرچاپېره د بادشاه د
حِفاظت دپاره سړی ودرول چې تُورې يې په لاس کښې وې.
١٢ بيا يهويدع يوآس بهر بوتلو، تاج يې ورپه سر کړو او د
بادشاهۍ کولو د قانون يو نقل يې ورله ورکړو. نو يوآس مقرر
کړے شو او اِعلان وشو چې هغه بادشاه دے. خلقو لاسونه
وپړقول او چغه يې ووهله، ”بادشاه زندهباد.“ ١٣ مَلِکه عتلياه
د څوکيدارانو او خلقو شور واورېدو، نو هغه د مالِک خُدائ
کور ته تيزه لاړه، چرته چې خلق راغونډ وُو. ١٤ هلته هغې
هغه نوے بادشاه وليدو چې د رِواج په مطابق د ستنې سره د
مالِک خُدائ د کور د دروازې په خولهٔ کښې ولاړ وو. آفسران
او بيګل غږوونکی د هغهٔ نه ګېرچاپېره تاو وُو او ټولو خلقو د
خوشحالۍ نه چغې وهلې او بيګلې يې غږولې. عتلياه د خفګان
نه خپلې جامې وشلولې او چغې يې ووهلې، ”غدار، غدار.“
١٥ يهويدع نهٔ غوښتل چې عتلياه د مالِک خُدائ د کور سره
ووژنی، نو هغهٔ فوجی آفسرانو له حُکم ورکړو، ”هغه د
څوکيدارانو د صفونو په مينځ کښې وباسئ او هغه هر يو کس
ووژنئ چې د هغې د بچ کولو کوشش وکړی.“ ١٦ هغوئ
هغه ونيوله، محل ته يې بوتله او هلته يې د آسونو د دروازې
سره ووژله.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د يهويدع اِصلاحات کول

١٧ يهويدع اِمام د يوآس بادشاه او د خلقو نه د مالِک خُدائ
په نوم يو لوظ واخستلو چې هغوئ به د مالِک خُدائ تابعدار
اوسى، هغهٔ د بادشاه او د خلقو په مينځ کښې هم يو لوظ
وکړو. ١٨ بيا خلق د بعل عبادتخانې ته لاړل او راوې
غورزوله، هغوئ قربانګاه او بُتان ټوټې ټوټې کړل او د بعل
اِمام متان يې د قربانګاه په مخکښې ووژلو. يهويدع د مالِک
خُدائ په کور باندې څوکيداران ودرول، ١٩ او بيا هغهٔ،
آفسرانو، شاهى څوکيدارانو او د محل څوکيدارانو بادشاه د
مالِک خُدائ د کور نه محل ته بوتلو، چې ټول خلق ورپسې
روان وُو. يوآس د څوکيدارانو په دروازه ننوتلو او په تخت
باندې په خپل ځائ کښيناستو. ٢٠ ټول خلق خوشحاله وُو
او په ښار کښې امن وو، ځکه چې عتلياه په محل کښې
وژلے شوې وه. ٢١ يوآس د اوو کالو په عُمر کښې د يهوداه
بادشاه شو.

## د يهوداه بادشاه يوآس

١٢ ١ د اِسرائيل د بادشاه ياهُو د بادشاهۍ په اوؤم کال،
يوآس د يهوداه بادشاه شو او هغهٔ څلويښت کاله په يروشلم
کښې بادشاهى وکړه. د هغهٔ مور ضِبياه د بيرسبع وه. ٢
هغهٔ ټول عُمر هغه کار کولو چې مالِک خُدائ پرې رضا
کېدو، ځکه چې يهويدع اِمام هغهٔ له دا مشوره ورکوله. ٣
خو علاقائى عبادتخانې نهٔ وې تباه شوى او خلقو بيا بيا هلته
قربانۍ پېش کولې او خوشبوئى سوزولې. ٤ يوآس اِمامان

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راوغوښتل او دا حُکم يې ورکړو چې هغه پيسې بچت کوئ
چې د مالِک خُدائ پهٔ کور کښې د مقدسو نذرانو، د هرې
ورځې قربانۍ او د رضاکارانه نذرانو دپاره ورکولے شى. ٥
هر يو اِمام به پيسې اخلى او د ضرورت پهٔ مطابق به يې د
مالِک خُدائ د کور پهٔ مرمت کښې استعمالوى. ٦ خو د
يوآس د بادشاهۍ پهٔ درويشتم کال پورې هم اِمامانو د مالِک
خُدائ پهٔ کور کښې څهٔ مرمت نهٔ وو کړے. ٧ نو هغهٔ
يهويدع او نور اِمامان راوغوښتل او د هغوئ نه يې تپوس
وکړو، "تاسو د مالِک خُدائ کور ولې نهٔ دے مرمت کړے؟
تاسو به نورې پيسې نهٔ اخلئ. د نن نه پس به دا صرف د
مالِک خُدائ د کور پهٔ مرمت کښې استعمالولے شى." ٨
اِمامان دې ته راضى شول چې هغوئ به د خلقو نه نورې
پيسې نهٔ راغونډوى خو د مالِک خُدائ کور مرمت کولو ته يې
هم غاړه ونهٔ نيوله. ٩ بيا يهويدع يو صندوق واخستلو، د
دې پهٔ سر کښې يې سورے وکړو او صندوق يې د قربانګاه
ښى طرف ته کېښودو، چې د مالِک خُدائ کور ته د ننوتو
ځائ سره وو. خلقو چې کومه چنده ورکوله نو د ننوتو پهٔ
ځائ کښې مقرر شوى اِمام به هغه ټوله پهٔ صندوق کښې
اچوله. ١٠ چې کله به هم پهٔ صندوق کښې ډېرې پيسې جمع
شوې، نو شاهى منشى او مشر اِمام به راتلل، هغه پيسې به يې
وشمېرلې چې د مالِک خُدائ کور ته به راوړلے شوې وې او
پهٔ کڅوړو کښې به يې واچولې. ١١ بيا به هغوئ دا پيسې هغه
سړو له ورکولې چې د مالِک خُدائ پهٔ کور کښې د کار ذمه
وار وُو او هغوئ به ترې نه ترکاڼانو، مِعمارانو، ١٢ کِلکارانو
او د کاڼو جوړوونکو له ورکولې، هغه لرګى او کاڼى به يې
پرې اخستل چې پهٔ مرمت کښې استعمالېدل او نور ټول
Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ضروری ځیزونه به یې پرې اخستل. ۱۳ د سپینو زرو پیالو،
جامونو، بیګلو، د ډیوو سرپوښونه، یا د سرو زرو یا سپینو
زرو نورو سامانونو دپاره څهٔ پیسې هم نهٔ وې استعمال شوې.
۱۴ دا پیسې مزدورانو له ورکولے شوې او د مرمت سامان
رباندې اخستلے شو. ۱۵ ذمه وارو سړو په صداقت سره
کار کولو، نو د پیسو د حِساب کِتاب ضرورت نهٔ پیښېدو.
۱۶ خو د ګناه د تاوان د نذرانو او د ګناه د نذرانو دپاره
ورکړے شوې پیسې د مالِک خُدائ په کور کښې نهٔ
استعمالیدې، دا د اِمامانو وې. ۱۷ په هغه وخت د شام
بادشاه حِزائیل د جات په ښار باندې حمله وکړه او هغه یې
فتح کړو، بیا هغهٔ په یروشلم باندې د حملې کولو فیصله
وکړه. ۱۸ د یهوداه بادشاه یوآس هغه ټولې نذرانې واخستلې
چې د هغهٔ پلار نیکهٔ یهوسفط، یهورام او اخزیاه مالِک خُدائ
ته وقف کړې وې او د دې سره یې خپلې نذرانې او د مالِک
خُدائ کور او د محل د خزانو ټول سرهٔ زر یې هم ورسره یو
ځائ کړل او دا هر څهٔ یې حِزائیل بادشاه له په تُحفه کښې
ولیږل، نو خزائیل بادشاه بیا خپل فوج د یروشلم نه واپس
بوتلو. ۱۹ یوآس بادشاه چې نور هر څهٔ هم کړی دی هغه د
یهوداه د بادشاهانو په تاریخ کښې لیکلے شوی دی. ۲۰-۲۱
د یوآس بادشاه آفسرانو د هغهٔ خِلاف منصوبه جوړه کړه او
په هغوئ کښې دوو کسانو یعنې د سماعت زوئ یوسکار او د
شومیر زوئ یهوزبد هغه په هغه کور کښې ووژلو چې په هغه
لار باندې جوړ وو چې د یروشلم نمرخاتهٔ طرف ته لاندې سِلا
ته ځی. یوآس د داؤد په ښار کښې په شاهی ادیره کښې ښخ
شو او د هغهٔ زوئ امصیاه د هغهٔ نه پس بادشاه جوړ شو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د اِسرائيل بادشاه يهوآخز

١٣ ١ د يهوداه بادشاه اخزياه زوئ يوآس د بادشاهۍ په
درويشتم کال، د ياهُو زوئ يهوآخز د اِسرائيل بادشاه شو او
هغۀ په سامريه کښې اوولس کاله بادشاهی وکړه. ٢ هغۀ د
يربعام بادشاه په شان د مالِک خُدائ خِلاف ګناه وکړه چا
چې اِسرائيليان د ګناه طرف ته بوتلی وُو، هغۀ هيڅکله خپل
بد عملونه نۀ پرېښودل. ٣ نو مالِک خُدائ اِسرائيل ته غصه
شو او هغۀ د شام بادشاه حِزائيل او د هغۀ زوئ بِن‌حدد
پرېښودل چې اِسرائيل له بار بار شکست ورکړی. ٤ نو
يهوآخز مالِک خُدائ ته سوال وکړو نو مالِک خُدائ د هغۀ
سوال واورېدو، ځکه چې مالِک خُدائ ته پته وه چې د شام
بادشاه د اِسرائيل سره خومره سخت ظلم کوی. ٥ نو
مالِک خُدائ اِسرائيلو له يو خلاصونکے راولېږلو، چې هغوئ
يې د شاميانو نه آزاد کړل، نو اِسرائيلو د مخکښې په شان په
امن کښې ژوند تېرولو. ٦ خو هغوئ بيا هم هغه ګناهونه
پرې نۀ ښودل چې يربعام بادشاه اِسرائيليان هغې طرف ته
بوتلی وُو او د اشيرې بُت ستنه په سامريه کښې پاتې شوه.
٧ د يهوآخز سره صرف پنځوس په آسونو سوارۀ کسان،
او لس جنګی ګاډۍ او لس زره پياده فوجيان پاتې وُو، ځکه
چې د شام بادشاه د هغوئ نه علاوه نور ټول لښکر تباه کړی
وُو او سم غوبل يې ورباندې کړے وو. ٨ يهوآخز چې نور
هر څۀ هم کړی وُو سره د هغۀ د ټولو بهادرۍ کارونو، هر څۀ
د اِسرائيل د بادشاهانو په تاريخ کښې ليکلے شوی دی. ٩
هغه مړ شو او په سامريه کښې ښخ شو او د هغۀ زوئ
يهوآس د هغۀ نه پس بادشاه شو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د اِسرائيل بادشاه يهوآس

۱۰ د يهوداه بادشاه يوآس د بادشاهئ په اووۀ دېرشم کال، د
يهوآخز زوئ يهوآس د اِسرائيل بادشاه شو او هغۀ په سامريه
کښې شپاړس کاله حکومت وکړو. ۱۱ هغۀ هم د مالِک
خُدائ خِلاف ګناه وکړه او يربعام د نباط زوئ د بدو لارو نه
نۀ اوړېدو، چا چې اِسرائيليان د ګناه طرف ته بوتلي وُو. ۱۲
نور هر څۀ چې يهوآس کړی وُو، سره د يهوداه بادشاه
امصياه خِلاف په جنګ کښې د هغۀ بهادری، هغه د اِسرائيل
د بادشاهانو په تاريخ کښې ليکلے شوی دی. ۱۳ يهوآس مړ
شو او د سامريه په شاهی اديره کښې ښخ شو او د هغۀ زوئ
بادشاه شو چې د هغۀ نوم هم يربعام وو.

## د اليشع مرګ

۱۴ اليشع پېغمبر په يوه سخته بيمارئ بيمار شو او چې هغه
مړ کېدو نو د اِسرائيل بادشاه يهوآس مِلاوېدو له ورَغلو او د
هغۀ د حالت په ليدو باندې يې ژړل. هغۀ چغې وهلې، ”زما
پلاره، زما پلاره. تۀ د اِسرائيلو تکړه حِفاظت کوونکے وې.“
۱۵ اليشع حُکم ورکړو، ”لينده او يو څو غشی واخله.“ نو
يهوآس واخستل، ۱۶ او اليشع هغۀ ته وفرمائيل چې، ”د
غشو ويشتلو دپاره تيار شه.“ نو بادشاه هم هغه شان وکړل او
اليشع خپل لاسونه د بادشاه په لاسونو کېښودل. ۱۷ نو د
پېغمبر په خبرو يې عمل وکړو، بادشاه هغه کړکۍ کولاو کړه
چې د شام طرف ته وه. اليشع ورته وفرمائيل، ”غشے ووله.“
څنګه چې بادشاه غشے وويشتو، نو پېغمبر وفرمائيل، ”تۀ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِک خُدائ غشے يې، په کومِ باندې چې به شام فتح کړی.
تهٔ به په افيق کښې د شاميانو سره تر هغې پورې جنګ کوې
چې شکست ورکړې.“ ۱۸ بيا اليشع بادشاه ته وفرمائيل
چې، ”نور غشی واخله او د دې سره زمکه ووهه.“ نو بادشاه
درې ځلې زمکه ووهله او بيا يې بس کړل. ۱۹ په دې باندې
اليشع غصه شو او بادشاه ته يې وفرمائيل، ”تا له په کار وُو
چې پينځهٔ شپږ ځلې دې وهلے، نو تا به په شاميانو باندې
پوره فتح موندلے وے، خو اوس به تهٔ هغوئ له صِرف درې
ځل شکست ورکړې.“ ۲۰ اليشع مړ شو او ښخ شو. هر
کال به د سپرلی په موسم کښې د موآبيانو لښکر د اِسرائيل په
مُلک حمله کوله. ۲۱ يو وخت د يو سړی په جنازه کښې،
ډاکوان وليدلے شو او دې خلقو د اليشع په قبر باندې مړے
وروغورزولو او وتښتېدل. نو چې څنګه لاش د اليشع د
هډوکی سره ولګېدو، نو هغه کس راژوندے شو او ودرېدو.

## د شام او اِسرائيل په مينځ کښې جنګ

۲۲ د يهوآخز په ټوله بادشاهۍ کښې د شام بادشاه حِزائيل به
په اِسرائيلو زياتے کولو، ۲۳ خو مالِک خُدائ په هغوئ
مهربان او رحم کوونکے وو. او هغوئ يې دې ته نهٔ پرېښودل
چې تباه شی، خو د هغه لوظ په وجه يې د هغوئ مدد کولو،
چې کوم يې د اِبراهيم، اِسحاق او يعقوب سره کړے وو. هغهٔ
هيڅکله خپل خلق نهٔ هېرول. ۲۴ کله چې د شام بادشاه
حِزائيل مړ شو نو د هغهٔ زوئ بِن‌حدد بادشاه شو. ۲۵ بيا د
اِسرائيل بادشاه يهوآس بِن‌حدد له درې ځله شکست ورکړو
او هغه ښارونه يې بيا قبضه کړل چې د يهوآخز د بادشاهۍ په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دوران کښې بِن‌حدد نیولی وُو، یهوآخز د یهوآس پلار وو.

## د یهوداه بادشاه امصیاه

۱۴ ۱ د اِسرائیل بادشاه د یهوآخز زوئ یهوآس د
بادشاهۍ په دوېم کال، د یوآس زوئ امصیاه د یهوداه بادشاه
شو ۲ چې عُمر یې پینځویشت کاله وو او هغۀ په یروشلم
کښې نهۀویشت کاله بادشاهی وکړه. د هغۀ مور یهوعدان د
یروشلم وه. ۳ هغۀ هم هغه کار کولو چې مالِک خُدائ پرې
رضا کېدو، خو د خپل پلار نیکۀ داؤد په شان نۀ وو، او هغه
کارونه یې کول چې څۀ د هغۀ پلار یوآس کړی وُو. ۴ هغۀ
علاقائی عبادتخانې راونۀ غورزولې او خلقو هلته بیا هم قربانۍ
او سوزېدونکې خوشبوئی سوزوله. ۵ څنګه چې امصیاه ته
د بادشاهۍ ټول اختیار مِلاو شو، نو هغۀ هغه آفسران قتل کړل
چې د هغۀ پلار یعنې بادشاه یې وژلے وو. ۶ خو هغۀ د
هغوئ بچی ونۀ وژل او په هغه څۀ یې عمل وکړو چې مالِک
خُدائ د موسیٰ په شریعت کښې فرمائیلی وُو، "مور او پلار
دې د بچو د جرمونو په وجه نۀ شی وژلے او د مور پلار د
جرمونو په وجه دې د هغوئ بچی نۀ شی وژلے، یو کس دې
صِرف د خپل جرم په وجه ووژلے شی." ۷ امصیاه لس
زره ادومی فوجیان د مالګې په مېدان کښې ووژل، هغۀ په یو
جنګ کښې د سلع ښار قبضه کړو او په دې باندې یې
یقتی‌ایل نوم کېښودو چې تر اوسه پورې یې هم دا نوم دے.
۸ بیا امصیاه د اِسرائیل بادشاه یهوآس له پېغام ورُونکی
ولېږل او ورته یې ووئیل چې جنګ ته راوړاندې شه. ۹ خو
یهوآس واپس دا جواب ورولېږلو، "یو ځل د لبنان په غرونو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې د ازغو بوټی د دِيار ونې له دا پېغام ولېږلو چې، زما
زوئ له ستا لور ورکړه چې وادۀ يې کړی. يو ځنګلی ځناور
هلته تېرېدو او د ازغو په بوټی يې پښې کېښودې. ۱۰ نو
امصياه، تا ادوميانو له شکست ورکړے دے او مغروره
شوے يې. خو په خپل شُهرت باندې ګزاره کوه او په کور
کښې کښېنه. داسې بلا ولې راخبروې چې په تا او ستا په
خلقو باندې تباهی راولی؟“ ۱۱ خو امصياه ورته غوږ نۀ
نيولو، نو يهوآس بادشاه د خپلو سړو سره روان شو او په
يهوداه کښې يې د بيت‌شمس سره د هغۀ خِلاف جنګ وکړو.
۱۲ د امصياه لښکر شکست وخوړو او د هغۀ ټول فوجيان
خپلو کورونو ته وتښتېدل. ۱۳ يهوآس امصياه ونيولو،
يروشلم ته وړاندې لاړو او د اِفرائيم د دروازې نه واخله د
ګوټ دروازې پورې ديوال يې راغورزولو چې تقريباً دوه سوه
ګزه فاصله وه. ۱۴ هغۀ سپين زر، سرۀ زر او د مالِک
خُدائ د کور ټول سامان او د محل ټولې خزانې يې واخستلې
او واپس يې سامريه ته يوړې. هغۀ د ځان سره قېديان هم
بوتلل. ۱۵ نور هر څۀ چې يهوآس کړی وُو سره د يهوداه
بادشاه د امصياه خِلاف په جنګ کښې د هغۀ بهادری، دا د
اِسرائيل د بادشاهانو په تاريخ کښې ليکلے شوی دی. ۱۶
يهوآس مړ شو او په سامريه کښې په شاهی اديره کښې ښخ
شو او د هغۀ زوئ يربعام د هغۀ نه پس بادشاه جوړ شو.

## د يهوداه بادشاه امصياه مرګ

۱۷ د يهوداه بادشاه امصياه د اِسرائيل بادشاه يهوآس د
مرګ نه پس پينځلس کاله ژوندے وو. ۱۸ امصياه چې نور

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هر څۀ هم کړی ؤو هغه د یهوداه د بادشاهانو په تاریخ کښې
لیکلے شوی دی. ۱۹ په یروشلم کښې د امصیاه د وژلو
منصوبه جوړه شوه، نو هغه د لکیس ښار ته وتښتېدو، خو
دشمنان ورپسې ؤو او هغه یې هلته ووژلو. ۲۰ د هغۀ لاش
واپس یروشلم ته په یو آس باندې راوړلے شو او د خپل پلار
نیکۀ سره د داؤد په ښار کښې ښخ کړے شو. ۲۱ بیا د
یهوداه خلقو د هغۀ د شپاړسو کالو زوئ عُزیاه ته د بادشاهۍ
تاج ورپه سر کړو. ۲۲ عُزیاه د خپل پلار د مرګ نه پس
ایلات بیا فتح کړو او دوباره یې جوړ کړو.

## دویم یربعام د اِسرائیل بادشاه

۲۳ د یهوداه بادشاه د یوآس زوئ امصیاه د بادشاهۍ په
پینځلسم کال د یهوآس زوئ یربعام د اِسرائیل بادشاه شو او
په سامریه باندې یې یو څلوېښت کاله بادشاهی وکړه. ۲۴
هغۀ د مالِک خُدائ خِلاف ګناه وکړه او د خپل پلار نیکۀ د
نباط زوئ یربعام په بدو لارو باندې روان وو چا چې اِسرائیل
د ګناه طرف ته بوتلی ؤو. ۲۵ هغۀ هغه ټوله علاقه فتح کړه
کومه چې مخکښې د اِسرائیل وه چې په شمال کښې د حمات
درې نه واخله په جنوب کښې د مړ دریاب پورې وه. مالِک
خُدائ د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک د خپل خِدمت کوونکی د
امتی زوئ یُونس په ذریعه د هغې وعده کړې وه، څوک چې د
جات‌حِفر وو. ۲۶ مالِک خُدائ د بنی اِسرائیلو سخت تکلیف
ولیدو، او داسې هیڅ څوک هم نۀ ؤو چې د هغوئ مدد یې
کړے وے. ۲۷ خو د مالِک خُدائ مقصد دا نۀ وو چې د
اِسرائیلو نوم او نشان ختم کړی، نو هغوئ یې د دویم یربعام

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په ذریعه بچ کړل. ۲۸ نور هر څۀ چې دويم يربعام کړی وُو،
د هغۀ د بهادرۍ جنګونه او چې هغۀ دمشق او حمات څنګه
اِسرائيل له واپس ورکړے وو، دا هر څۀ د اِسرائيل د
بادشاهانو په تاريخ کښې ليکلے شوی دی. ۲۹ يربعام مړ
شو او په شاهی اديره کښې ښخ شو او د هغۀ زوئ زکرياه د
هغۀ نه پس بادشاه جوړ شو.

## د يهوداه بادشاه عُزياه

**۱۵** ۱ د اِسرائيل بادشاه يربعام دويم د بادشاهۍ په
اوويشتم کال، د امصياه زوئ عُزياه د يهوداه بادشاه شو ۲
چې عُمر يې شپاړس کاله وو او هغۀ په يروشلم کښې دوه
پنځوس کاله بادشاهی وکړه. د هغۀ مور يکولياه د يروشلم وه.
۳ هغه د خپل پلار امصياه په مِثالونو باندې روان وو، چې
هغه کار يې کولو چې د مالِک خُدائ په نظر کښې ښۀ وو.
۴ خو علاقائی عبادتخانې نۀ وې تباه شوی او خلقو هلته
قربانۍ پېش کولې او خوشبوئی يې سوزولې. ۵ مالِک
خُدائ په عُزياه باندې د جذام بيماری راوستله، چې د هغه
وخت نه دا بيماری ټول عُمر ورسره وه. هغه په يو جدا کور
کښې اوسېدو او د هغۀ زوئ يوتام د محل مشر شو او په هغه
مُلک يې حکومت کولو. ۶ نور هر څۀ چې عُزياه کړی وُو
هغه د يهوداه د بادشاهانو په تاريخ کښې ليکلے شوی دی.
۷ چې عُزياه مړ شو نو د خپل پلار نيکۀ سره د داؤد په
ښار کښې ښخ شو او د هغۀ زوئ يوتام د هغۀ نه پس بادشاه
جوړ شو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د اِسرائيل بادشاه زکرياه

٨ د يهوداه بادشاه عُزياه د بادشاهۍ په اتۀ دېرشم کال د
يربعام دويم زوئ زکرياه د اِسرائيل بادشاه شو او هغۀ په
سامريه کښې شپږ مياشتې حکومت وکړو. ٩ هغۀ د خپل
پلار نيکۀ په شان د مالِک خُدائ په نظر کښې بدی وکړه. هغۀ
د نباط زوئ يربعام په بدو مِثالونو باندې عمل وکړو، چا چې
اِسرائيل د ګناه طرف ته بوتلی وُو. ١٠ د يبيس زوئ سلوم د
زکرياه بادشاه خِلاف منصوبه جوړه کړه او د خلقو په
مخکښې يې ووژلو او د هغۀ نه پس بادشاه جوړ شو. ١١ نور
هر څۀ چې زکرياه کړی وُو هغه د اِسرائيل د بادشاهانو په
تاريخ کښې ليکلے شوی دی. ١٢ نو هغه لوظ پوره شو چې
کوم مالِک خُدائ د ياهُو سره کړے وو چې، ”ستا زامن به تر
څلورم نسل پورې د اِسرائيل په تخت کښېنی.“ نو هم داسې
وشول.

## د اِسرائيل بادشاه سلوم

١٣ د يهوداه بادشاه عُزياه د بادشاهۍ په يو کم څلوېښتم
کال د يبيس زوئ سلوم د اِسرائيل بادشاه شو او هغۀ په
سامريه باندې يوه مياشت حکومت وکړو. ١٤ د جادی زوئ
مناحم د تِرضاه نه سامريه ته لاړو، سلوم يې ووژلو او د هغۀ
نه پس په خپله بادشاه شو. ١٥ نور هر څۀ چې سلوم کړی
وُو، سره د هغۀ د منصوبې د حِساب کِتاب، هغه د اِسرائيل د
بادشاهانو په تاريخ کښې ليکلے شوی دی. ١٦ کله چې
مناحم د تِرضاه نه راروان وو، نو هغۀ د تِفسَح ښار ټول تباه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړو، د دې اوسېدونکی او ګېرچاپېره علاقه يې هم تباه کړه،
ځکه چې دا ښار هغهٔ ته نهٔ حواله کېدو. هغهٔ د اُميدوارو ښځو
خېټې هم وشلولې.

## د اِسرائيل بادشاه مناحم

۱۷ د يهوداه بادشاه عُزياه د بادشاهۍ په يو کم څلوېښتم
کال، د جادى زوئ مناحم د اِسرائيل بادشاه شو او هغهٔ په
سامريه کښې لس کاله حکومت وکړو. ۱۸ هغهٔ د مالِک
خُدائ خِلاف ګناه وکړه او د خپلې بادشاهۍ په دوران کښې د
هغې ګناه نه منع نهٔ شو په کومې چې د نباط زوئ يربعام
بادشاه اِسرائيل آخته کړې وُو. ۱۹ د اسور بادشاه تغلت
فلاسر په اِسرائيل حمله وکړه او مناحم هغهٔ له څلور دېرش
زره کلو سپين زر د دې دپاره ورکړل چې د مناحم په هغه
مُلک کښې د حکومت په مضبوطولو کښې يې ملګرتيا
وکړى. ۲۰ مناحم د اِسرائيل د ټولو مالداره سړو نه په زور
پېسې اخستلې. هر يو کس به پنځوس د سپينو زرو سيکې
محصُول ورکولو. نو تغلت فلاسر واپس خپل مُلک ته لاړو.
۲۱ مناحم چې نور هر څهٔ هم کړى وُو هغه د اِسرائيل د
بادشاهانو په تاريخ کښې ليکلے شوى دى. ۲۲ هغه مړ شو
او ښخ کړے شو او د هغهٔ زوئ فقحياه د هغهٔ نه پس بادشاه
جوړ شو.

## د اِسرائيل بادشاه فقحياه

۲۳ د يهوداه بادشاه عُزياه د بادشاهۍ په پنځوسم کال د
مناحم زوئ فقحياه د اِسرائيل بادشاه جوړ شو او هغهٔ په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سامریه کښې دوه کاله حکومت وکړو. ۲۴ هغهٔ د مالِک
خُدائ په نظر کښې بدی وکړه او د نباط زوئ یربعام په بدو
مِثالونو باندې یې عمل وکړو، چا چې په اِسرائیل ګناه کړې
وه. ۲۵ د فقحیاه د فوج یو آفسر د رملیاه زوئ فقح د جِلعاد
د پنځوسو سړو سره منصوبه جوړه کړه او په سامریه کښې
د محل دننني قلعه کښې یې فقحیاه ووژلو او د هغهٔ نه پس په
خپله بادشاه جوړ شو. ۲۶ نور هر څهٔ چې فقحیاه کړی وُو
هغه د اِسرائیل د بادشاهانو په تاریخ کښې لیکلے شوی دی.

## د اِسرائیل بادشاه فقح

۲۷ د یهوداه بادشاه عُزیاه د بادشاهۍ په دوه پنځوسم کال د
رملیاه زوئ فقح د اِسرائیل بادشاه شو او شل کاله یې په
سامریه کښې حکومت وکړو. ۲۸ هغهٔ د مالِک خُدائ په نظر
کښې بدی وکړه او د نباط زوئ یربعام په بدو مِثالونو یې عمل
وکړو، چا چې په اِسرائیل کښې ګناه کړې وه. ۲۹ د فقح د
بادشاهۍ په دوران کښې د اسور بادشاه تغلت فلاسر د عیون،
ابیل‌بیت‌معکه، ینوحاه، قادِس، حصور او جِلعاد ښارونه، او د
ګلیل او نفتالی علاقې قبضه کړې او خلق یې اسور ته قیدیان
بوتلل. ۳۰ د یهوداه بادشاه د عُزیاه زوئ یوتام د بادشاهۍ په
شلم کال، د ایله زوئ هوسیع د فقح بادشاه خِلاف منصوبه
جوړه کړه، هغه یې ووژلو او د هغهٔ نه پس بادشاه جوړ شو.
۳۱ نور هر څهٔ چې فقح کړی وُو هغه د اِسرائیل د بادشاهانو
په تاریخ کښې لیکلے شوی دی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د یهوداه بادشاه یوتام

۳۲ د اِسرائیل بادشاه د رملیاه زوئ فقح د بادشاهۍ په دویم
کال، د عُزیاه زوئ یوتام د یهوداه بادشاه جوړ شو ۳۳ چې
عُمر یې پینځویشت کاله وو، هغهٔ په یروشلم کښې شپاړس
کاله بادشاهی وکړه. د هغهٔ مور یروسا د صدوق لور وه. ۳۴
یوتام د خپل پلار عُزیاه په مِثالونو عمل وکړو او هغه کار یې
کولو چې مالِک خُدائ پرې رضا کېدو. ۳۵ خو علاقائی
عبادتخانې نهٔ وې تباه شوی او خلقو هلته قربانۍ پېش کولې
او خوشبوئی یې سوزولې. یوتام د مالِک خُدائ د کور شمالی
طرف ته دروازه جوړه کړه. ۳۶ یوتام چې نور څهٔ هم کړی
دی هغه د یهوداه د بادشاهانو په تاریخ کښې لیکلے شوی
دی. ۳۷ د هغهٔ د بادشاهۍ په دوران کښې مالِک خُدائ
وړومبے د شام بادشاه رضین او د اِسرائیل بادشاه فقح
ورولېږل چې په یهوداه باندې حمله وکړی. ۳۸ یوتام مړ شو
او د داؤد په ښار کښې په شاهی ادیره کښې ښخ شو او د هغهٔ
زوئ احاز د هغهٔ نه پس بادشاه جوړ شو.

## د یهوداه بادشاه احاز

۱۶ ۱ د اِسرائیل بادشاه د رملیاه زوئ فقح د بادشاهۍ
په اوولسم کال، د یوتام زوئ احاز د یهوداه بادشاه شو ۲
چې عُمر یې شل کاله وو او هغهٔ په یروشلم باندې شپاړس
کاله بادشاهی وکړه. هغهٔ هغه کار نهٔ کولو چې د مالِک خُدائ
د هغهٔ د خُدائ پاک په نظر کښې ښهٔ وو، اګر چې د هغهٔ پلار
نیکهٔ داؤد ښهٔ کارونه کړی وُو ۳ خو د اِسرائیل بادشاهانو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په مِثالونو يې دومره عمل کولو، چې خپل زوئ يې هم په اور
کښې قربانی کړو، او د هغه خلقو پليت رِواج يې خپل کړے
وو کوم چې مالِک خُدائ د هغه مُلک نه ويستلی وُو کله چې
اِسرائيليان مخ په وړاندې تلل. ۴ په غرونو باندې او د هرې
ونې د سورى لاندې، او په علاقائی عبادتخانو احاز قربانۍ
پېش کولې او خوشبوئی يې سوزولې. ۵ د شام بادشاه
رضين او د اِسرائيل بادشاه فقح په يروشلم باندې حمله وکړه
او دا يې محاصره کړو، خو احاز له يې شکست نۀ شو
ورکولے. ۶ هم په هغه وخت، د ادوم بادشاه د ايلات ښار
بيا ونيولو او د يهوداه اوسېدونکی يې د هغې ځائ نه وشړل.
ادوميان په ايلات کښې دېره شول او تر اوسه پورې هلته
اوسيږی. ۷ احاز د اسور بادشاه تغلت فلاسر له د دې
پېغام سره سړی ولېږل، "زۀ ستاسو وقف شوے خِدمت
کوونکے يم. راشه او ما د شام او اِسرائيل د بادشاهانو د
حملې نه بچ کړه." ۸ احاز د مالِک خُدائ د کور او د محل
د خزانې نه سرۀ زر او سپين زر هم واخستل او بادشاه له يې
د محصُول په توګه ولېږل. ۹ د احاز د غوښتنې په جواب
کښې تغلت فلاسر د دمشق خِلاف د خپل لښکر سره روان
شو، دا يې قبضه کړو او رضين بادشاه يې ووژلو او خلق يې
قير ته قيديان بوتلل. ۱۰ کله چې احاز بادشاه د تغلت فلاسر
سره د مِلاوېدو دپاره دمشق ته لاړو، نو هلته يې قربانګاه
وليده او اورِياه اِمام له يې هم د دې په شان نمونه او ټول
تفصيل ورولېږلو. ۱۱ نو اورِياه هم د دې په شان يوه
قربانګاه جوړه کړه او د احاز د واپسۍ نه مخکښې يې دا
تياره کړه. ۱۲ د دمشق نه په واپسۍ باندې، احاز وليدل چې
قربانګاه جوړه وه نو قربانۍ ورباندې پېش کړه. ۱۳ هغۀ په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې باندې د څناورو سوزېدونکې قربانۍ او د غلې نذرانې پېش
کړې او په دې باندې يې د ميو نذرانه توئ کړه او د وينې د
سلامتۍ نذرانه يې ورباندې واچوله. ۱۴ مالِک خُدائ ته وقف
شوې د زېړو قربانګاه د نوې قربانګاه او د مالِک خُدائ د
کور په مينځ کښې وه، نو احاز دا د خپلې نوې قربانګاه
شمالى طرف ته يوړه. ۱۵ بيا هغۀ اورِياه ته حُکم وکړو، ”دا
لويه قربانګاه د سحر سوزېدونکې نذرانې او د ماښام د غلې
نذرانې دپاره استعمالوه او د بادشاه او د خلقو د سوزېدونکې
نذرانې، د غلې نذرانې او د خلقو د څښلو نذرانې دپاره يې
استعمالوه. په دې باندې د هغه ټولو څناورو وينه تويوه چې
کوم قربانى شوى وى. خو د زېړو قربانګاه زما دپاره وساته
چې د فال دپاره يې استعمالوم.“ ۱۶ نو اورِياه هم هغه شان
وکړل چې څنګه بادشاه حُکم کړے وو. ۱۷ احاز بادشاه د
زېړو هغه تختې او هغه ښانکونه لرې کړل، هغۀ د زېړو د
دولسو غوَيو د شا نه د زېړو ډېګۍ هم واخستله او دا يې د
کاڼى په بنياد کېښودله. ۱۸ د اسور بادشاه د خوشحالولو
دپاره، احاز د مالِک خُدائ د کور نه د سبت د ورځې د
شاهى تخت نه پاس دالان هم لرې کړو او د مالِک خُدائ د
کور د بادشاه د ننوتلو ذاتى دروازه يې بنده کړه. ۱۹ نور هر
څۀ چې احاز بادشاه کړى دى هغه د يهوداه د بادشاهانو په
تاريخ کښې ليکلے شوى دى. ۲۰ احاز مړ شو او د داؤد
ښار په شاهى اديره کښې ښخ شو او د هغۀ زوئ حزقياه د
هغۀ نه پس بادشاه جوړ شو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د اِسرائيل بادشاه هوسيع

۱۷ ۞۱ د يهوداه بادشاه احاز د بادشاهۍ په دولسم کال،
د ايله زوئ هوسيع د اِسرائيل بادشاه شو او هغۀ په سامريه
کښې نهۀ کاله حکومت وکړو. ۞۲ هغۀ د مالِک خُدائ
خِلاف ګناه وکړه، خو دا د هغه بادشاهانو هومره نۀ وه چا
چې د هغۀ نه مخکښې په اِسرائيل حکومت کړے وو. ۞۳ د
اسور بادشاه سلمنسر د هوسيع خِلاف جنګ وکړو، هوسيع د
سلمنسر د اختيار لاندې راغلو او هوسيع به هر کال هغۀ له
محصُول ورکولو. ۞۴ خو يو کال هوسيع د مِصر بادشاه
سو له پيغام ورُونکى ولېږل او د هغۀ نه يې مدد وغوښتو او
اسور له د هر کال محصُول ورکول بند کړل. کله چې
سلمنسر د دې نه خبر شو، نو هغۀ هوسيع ونيولو او په
قيدخانه کښې يې واچولو.

## د سامريه زوال

۞۵ بيا سلمنسر په اِسرائيل حمله وکړه او سامريه يې
محاصره کړو. د محاصرې په دريم کال، ۞۶ چې دا د
هوسيع د بادشاهۍ نهم کال وو، د اسور بادشاه سامريه قبضه
کړه، د اِسرائيل خلق يې اسور ته قېديان بوتلل او د هغوئ څۀ
کسان په خلح ښار کښې، څۀ د جوزان په ضِلع کښې د
خابور سيند سره نزدې او څۀ د ماديو ښارونو ته د اوسېدو
دپاره ولېږل. ۞۷ د سامريه زوال ځکه وشو چې بنى اِسرائيلو
د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک خِلاف ګناه کړې وه، چا
چې هغوئ د مِصر بادشاه فِرعون نه خلاص کړل او د مِصر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه يې راوويستل. هغوئ د نورو خُدايانو عبادت وکړو، ۸ او
د هغه خلقو رِواجونه يې خپل کړل چې مالِک خُدائ په هغه
وخت شړلی وُو چې اِسرائيليان مخ په وړاندې تلل او چې د
اِسرائيل بادشاهانو کوم رِواجونه شروع کړی وُو نو هغه يې
هم خپل کړل. ۹ اِسرائيليانو په پټه باندې هغه کارونه وکړل
کوم چې مالِک خُدائ د هغوئ خُدائ پاک منع کړی وُو.
هغوئ د وړو ښارونو نه واخله تر پَخو ښارونو پورې د ځان
دپاره علاقائی عبادتخانې جوړې کړې. ۱۰ هغوئ په ټولو
غرونو باندې او د هرې ونې د سوری لاندې د کاڼو ستنې او د
اشيرې د بُت نښې کېښودې، ۱۱ او د هغوئ په هره علاقائی
عبادتخانې کښې خوشبوئی سوزولې لکه څنګه به چې غېر
قومونو کول کوم خلق چې مالِک خُدائ د هغه مُلک نه شړلی
وُو. هغوئ د خپلو ټولو بدو عملونو په وجه د مالِک خُدائ
قهر راوپارولو ۱۲ او د مالِک خُدائ د هغه حُکم نافرمانی يې
وکړه چې د بُتانو عبادت مهٔ کوئ. ۱۳ د يهوداه او اِسرائيل د
خبردارۍ دپاره مالِک خُدائ پېغام وړُونکی او نبيان لېږلی وُو
چې هغوئ فرمائيل، "خپل بد عملونه پرېږدئ او زما حُکمونه
ومنئ، چې په هغې کښې هغه شريعت شامل دے چې کوم ما
ستاسو پلار نيکهٔ له ورکړے وو او د خپلو خِدمت کوونکو
پېغمبرانو په ذريعه مې ستاسو په حواله کړے دے." ۱۴ خو
هغوئ به د هغهٔ په وينا باندې عمل نهٔ کولو، هغوئ د خپل پلار
نيکهٔ په شان ضديان وُو، چا چې په مالِک خُدائ خپل خُدائ
پاک باندې يقين نهٔ کولو. ۱۵ هغوئ هغه اصُول ونهٔ منل او
هغه لوظ يې پوره نهٔ کړو کوم يې چې د هغوئ د پلار نيکهٔ
سره کړے وو او هغوئ د هغهٔ خبردارۍ ته پام ونهٔ کړو.
هغوئ د غلطو بُتانو عبادت وکړو او خپل ځانونه يې سپک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړل، هغوئ د ګېرچاپېره قومونو په رِواجونو باندې روان وُو
او د مالِک خُدائ د هغه حُکم نافرمانی یې وکړه چې د هغوئ
د رِواج نقل مهٔ کوئ. ۱۶ هغوئ د مالِک خُدائ د خپل
خُدائ پاک ټول قانون مات کړو او د ځان دپاره یې د سخو
په شکل کښې دوه د سرو زور بُتان جوړ کړل، هغوئ د
اشیرې بُت نښه هم جوړه کړه، د ستورو عبادت یې وکړو او
د بعل بُت خِدمت یې وکړو. ۱۷ هغوئ خپل زامن او لوڼه د
غېرو قومونو خُدایانو ته د سوزېدونکې نذرانې په توګه قربانی
کړل، هغوئ د فالګرو او قسمت ښودونکو سره مشورې
وکړې او هغوئ خپل ځانونه هغه څهٔ ته حواله کړل چې څهٔ د
مالِک خُدائ په نظر کښې غلط وُو او په دې کولو سره یې د
هغهٔ قهر راوپارولو. ۱۸ مالِک خُدائ اِسرائیل ته غصه وو او
د خپل حضور نه یې لرې کړل او صِرف د یهوداه بادشاهی
یې په ځائ پرېښودله. ۱۹ خو د یهوداه خلقو هم د مالِک
خُدائ د خپل خُدائ پاک قانون ونهٔ منلو، هغوئ د هغه
رِواجونو نقل شروع کړو چې کوم اِسرائیل خپل کړی وُو.
۲۰ مالِک خُدائ ټول اِسرائیل رد کړو، هغوئ له یې سزا
ورکړه او ظالمانو دشمنانو ته یې حواله کړل او په آخر کښې
یې د خپل حضور نه وشړل. ۲۱ کله چې مالِک خُدائ
اِسرائیل د یهوداه نه جدا کړو، نو اِسرائیل د نباط زوئ یربعام
خپل بادشاه جوړ کړو. یربعام په هغوئ باندې مالِک خُدائ
پرېښودو او په هغوئ باندې یې کبیره ګناه وکړه. ۲۲ هغوئ
په یربعام پسې روان وُو او چې هغهٔ کوم ګناهونه کړی وُو نو
هغه ټول یې کول، ۲۳ چې په آخر کښې مالِک خُدائ هغوئ
د خپل حضور نه لرې کړل، لکه څنګه چې هغهٔ د خپلو
خِدمت کوونکو پیغمبرانو په ذریعه خبردارے ورکړے وو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې داسې به وکړي. نو د اِسرائيل خلق اسور ته جلاوطن
کړے شول، چرته چې تر اوسه پورې اوسيږی.

## د اسوريانو د اِسرائيل په مُلک کښې اوسېدل

۲۴ د اسور بادشاه د بابل، کُوت، عِواه، حمات او سفروائم
ښارونو نه خلق بوتلل او د سامريه په ښارونو کښې يې د
اِسرائيل د خلقو په ځائ ديره کړل. هغوئ دا ښارونه قبضه
کړل او هلته اوسېدل. ۲۵ کله چې هغوئ هلته اوسېدل نو په
شروع کښې هغوئ د مالِک خُدائ عبادت نۀ کولو، نو هغۀ
ازمری ورولېږل. او زمريانو د هغوئ نه څۀ کسان ووژل. ۲۶
د اسور بادشاه ته وئيلی شوی وُو چې کوم خلق هغۀ د
سامريه په ښارونو کښې آباد کړی دی هغوئ د هغه مُلک د
معبود په قانون باندې نۀ پوهيږی، نو ځکه هغه معبود ازمری
رالېږلی وُو چې هغوئ يې ووژل. ۲۷ نو هغه بادشاه حُکم
وکړو چې، ”د هغه اِمامانو نه يو راولېږه چې کوم مونږ قېديان
راوستی دی، هغه دې لاړ شی او هلته دې اوسيږی، چې خلقو
ته د هغه مُلک د خُدائ قانون وښائی.“ ۲۸ نو يو اِسرائيلے
اِمام لاړو چې کوم د سامريه نه راويستلے شوے وو او په
بيت‌ايل کښې د اوسېدو دپاره لاړل، هلته يې خلقو ته دا ښودنه
کوله چې د مالِک خُدائ عبادت به څنګه کوی. ۲۹ خو چې
کوم خلق په سامريه کښې اوسېدل نو هر يو قوم خپل قومی
بُتان جوړ کړل او دا يې په هغه علاقائی زيارتونو کښې
کېښودل چې اِسرائيليانو جوړ کړی وُو. او هرې قبيلې په خپل
خپل ښار کښې بُتان جوړ کړل. ۳۰ د بابل خلقو د سُکات
بنات بُتان جوړ کړل، د کُوت خلقو، د نيرګل بُتان، د حمات

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خلقو، د اسیما بُتان، ۳۱ د عِواه خلقو، د نِبحاز او ترتاق
بُتان، او د سفروائم خلقو خپل بچی د ادرمُلِک او عنمُلک
خُدایانو ته د سوزېدونکې نذرانې په توګه قربانی کول. ۳۲
دې خلقو د مالِک خُدائ عبادت هم کولو خو د هر قِسم خلقو
نه يې اِمامان خوښ کړل چې په علاقائی عبادتخانو کښې د
هغوئ دپاره نذرانې پېش کوی. ۳۳ نو هغوئ د مالِک خُدائ
عبادت کولو، خو چې هغوئ د کومو مُلکونو نه راغلی وُو د
هغې د رِواجونو په مطابق يې د خپلو خُدایانو عبادت هم
کولو. ۳۴ هغوئ تر نن ورځې پورې هغه رِواجونه کوی.
هغوئ نۀ د مالِک خُدائ عبادت کوی او نۀ د هغه قانون او
حُکمونه منی چې کوم يې د يعقوب اولاد له ورکړی وُو،
يعقوب له اِسرائيل نوم ورکړے شوے وو. ۳۵ مالِک خُدائ
د هغوئ سره يو لوظ کړے وو او هغوئ له يې حُکم ورکړے
وو چې، ”د نورو معبودانو عبادت مۀ کوئ، هغوئ ته سجده
مۀ کوئ، د هغوئ خِدمت مۀ کوئ او هغوئ ته قربانی مۀ
پېش کوئ. ۳۶ تاسو دې زما يعنې مالِک خُدائ تابعداری
کوئ، چا چې د لوئ طاقت او قوت سره د مِصر نه
راوويستلئ، تاسو به ما ته سجده کوئ او ما ته به قربانی پېش
کوئ. ۳۷ تاسو به همېشه هغه قانون او حُکمونه منئ چې
کوم ما درته ليکلی دی. تاسو دې د نورو خُدایانو عبادت ونۀ
کړئ، ۳۸ او تاسو هغه لوظ مۀ هېروئ چې کوم ما درسره
کړے دے. او چې تاسو د نورو معبودانو عبادت ونۀ کړئ،
۳۹ خو تاسو زما، يعنې د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک
عبادت کوئ او زۀ به تاسو د خپلو دشمنانو نه بچ کړم.“ ۴۰
خو هغه خلقو به غوږ نۀ نيولو او په خپلو زړو رِواجونو باندې
يې عمل کولو. ۴۱ نو هغه خلقو د مالِک خُدائ عبادت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کولو، د خپلو بُتانو عبادت يې هم کولو، نو د هغوئ اولاد تر
نن ورځې پورې هم دغه کار نهٔ پرېږدی.

## د يهوداه بادشاه حزقياه

۱۸ ۱ نو د اِسرائيل بادشاه د ايله زوئ هوسيع د
بادشاهۍ په درېم کال د احاز زوئ حزقياه د يهوداه بادشاه
جوړ شو ۲ چې عُمر يې پينځويشت کاله وو او په يروشلم
باندې يې نهٔويشت کاله بادشاهی وکړه. د هغهٔ مور ابياه د
زکرياه لور وه. ۳ د خپل پلار نيکهٔ داؤد په مِثالونو يې عمل
وکړو، هغهٔ هغه کار کولو چې د مالِک خُدائ په نظر کښې
ښهٔ وو. ۴ هغهٔ علاقائی عبادتخانې تباه کړې، د کاڼی ستنې
يې ماتې کړې او د اشيرې بُت نښې يې راوغورزولې. هغهٔ د
زېړو مار هم ټوټې ټوټې کړو چې موسیٰ جوړ کړے وو، چې
نوم يې نحشتان وو. ځکه چې تر اوسه پورې اِسرائيلو دې ته
خوشبوئی سوزوله. ۵ حزقياه په مالِک خُدائ د بنی
اِسرائيلو په خُدائ پاک باندې ايمان لرلو، په يهوداه کښې د
هغهٔ په شان بل بادشاه نهٔ مخکښې او نهٔ وروستو تېر شوے
دے. ۶ هغه د مالِک خُدائ وفادار وو او هيڅکله يې د هغهٔ
نافرمانی نهٔ وه کړې او هغه ټول حُکمونه يې پوره منل چې
مالِک خُدائ موسیٰ له ورکړی وُو. ۷ نو مالِک خُدائ د
هغهٔ مل وو او هغه په هر کار کښې کامياب وو. هغهٔ د اسور
د بادشاه خِلاف بغاوت وکړو او د هغهٔ خِدمت يې نهٔ کولو.
۸ هغهٔ فلستيانو له شکست ورکړو او د وړوکی کلی نه
واخله تر لوئ ښار پورې يې قبضه کړل چې په دې کښې غزه
او ګېرچاپېره علاقه شامله وه. ۹ د حزقياه د بادشاهۍ په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څلورم کال، چې په اِسرائيل باندې د هوسيع د بادشاهۍ اووَم
کال وو، د اسور بادشاه سلمنسر په اِسرائيل حمله وکړه او
سامريه يې محاصره کړه. ۱۰ د محاصرې په درېيم کال، د
سامريه زوال وشو، دا د حزقياه د بادشاهۍ شپږم کال وو او
د هوسيع د بادشاهۍ نهم کال وو. ۱۱ د اسور بادشاه د
اِسرائيل خلق اسور ته قېديان بوتلل او د هغوئ څهٔ کسان په
خلع ښار کښې، څهٔ د خابور سيند سره نزدې د جوزان په
ضِلع کښې او څهٔ د ماديو په ښارونو کښې يې آباد کړل. ۱۲
د سامريه زوال ځکه وشو چې د اِسرائيل خلق د مالِک خُدائ
د خپل خُدائ پاک تابعدارى نهٔ کوله او هغهٔ سره يې کړے
لوظ مات کړو او د هغه ټول قانون نافرمانى يې وکړه چې
خپل خِدمت کوونکى موسىٰ له يې ورکړے وو. هغوئ به نهٔ
ورته غوږ نيولو او نهٔ به يې پرې عمل کولو.

## د اسوريانو يروشلم له دهمکى ورکول

۱۳ د حزقياه بادشاه د بادشاهۍ په څوارلسم کال، د اسور
بادشاه سينحرب، د يهوداه په ټَولو دېوالونو په ښارونو باندې
حمله وکړه او فتح يې کړل. ۱۴ حزقياه سينحرب بادشاه له
يو پېغام ولېږلو، چې هغه په لکيس کښې وو، ”زما نه غلطى
شوې ده، مِهربانى وکړه چې خپله حمله بنده کړه او چې تهٔ
څومره پېسې غواړې نو زهٔ به يې درکړم.“ نو بادشاه ترې نه
وغوښتل چې حزقياه هغهٔ له لس زره کلو سپين زر او زر کلو
سرهٔ زر ورولېږى. ۱۵ نو حزقياه هغهٔ ته د مالِک خُدائ د
کور او د محل د خزانې ټول سپين زر ورولېږل، ۱۶ هغهٔ د
مالِک خُدائ کور د دروازو نه او هغه سرهٔ زر هم راوشوکول

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې هغهٔ ورباندې په خپله چوکاټونه پټ کړی وُو او سينحرب
له يې وروليږل. ۱۷ د اسور بادشاه د لکيس نه يو لوئ لښکر
وليږلو چې په يروشلم کښې په حزقياه باندې حمله وکړی،
چې د دې مشری د هغهٔ درې غټو آفسرانو کوله. کله چې
هغوئ يروشلم ته ورسېدل، نو هغوئ د ولې سره سړک قبضه
کړو چې په دې کښې د بره ډنډ نه اوبهٔ راتلې، دا د هغه سړک
سره نزدې وو چې کوم د دهوبى پټى ته تلو. ۱۸ کله چې
هغوئ حزقياه بادشاه راوغوښتلو، نو د هغهٔ درې آفسران د
هغوئ سره مِلاوېدو دپاره ور ووتل يعنې، د خِلقياه زوئ
اِلياقيم، چې هغه د محل مشر وو، شبناه، د دربار منشى، او د
آسف زوئ يوآخ، چې د حِساب کِتاب مشر وو. ۱۹ يو
اسورى آفسر هغوئ ته ووئيل چې، "بادشاه په دې باندې
پوهېدل غواړی چې حزقياه په څهٔ باندې ايمان لری چې
دومره اعتبارى دے؟ ۲۰ ستا په خيال تشې خبرې د فوجى
تکړهتوب او طاقت ځائ نيولے شى؟ ستا يقين په چا دے
چې زما خِلاف بغاوت کوې؟ ۲۱ تهٔ د مِصر نه دا طمع کوې
چې هغه به ستا مدد وکړی، خو دا به د لوخې د پانړې د امسا
په شان وی، چې لاس به دې غوځ او زخمى کړی. نو د مِصر
بادشاه فِرعون باندې چې کله څوک بهروسه وکړی نو هغه
داسې وی. ۲۲ يا به تهٔ ما ته دا ووائې چې تهٔ په مالِک خُدائ
په خپل خُدائ پاک باندې بهروسه کوې. خو دا هغه خُدائ
پاک نهٔ دے چې حزقياه د هغهٔ علاقائى عبادتخانې او
قربانګاه ختمې کړې، او هغهٔ د يهوداه او د يروشلم خلقو ته
وفرمائيل چې صِرف په يروشلم کښې د قربانګاه سره
عبادت کوئ. ۲۳ نو خبره واورئ، زما د نېک د اسور
بادشاه سره معاهده وکړئ، زهٔ به تاسو له دوه زره آسونه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

درکړم کهٔ تاسو دومره سړی پېدا کړل چې په دې باندې
سوارهٔ شی. ۲۴ تهٔ د اسور د یو معمولی آفسر برابر هم نهٔ یئ
او تهٔ بیا هم په طمع یې چې مِصریان به جنګی ګاډی او
آسونه راولېږی. ۲۵ ستا په خیال ما د مالِک خُدائ د مدد نه
بغېر ستا په مُلک حمله کړې ده او تباه کړے مې دے؟ ما ته
مالِک خُدائ په خپله فرمائیلی دی چې په دې باندې حمله
وکړم او تباه یې کړم.“ ۲۶ نو اِلیاقیم، شبناه او یوآخ هغه
آفسر ته ووئیل، ”تهٔ د خپلو نوکرانو سره په آرامی ژبه کښې
خبرې وکړه، مونږ په دې پوهېږو. مونږ سره په عبرانی کښې
خبرې مهٔ کوه، ځکه چې په دېوال باندې خلق به یې واوری.“
۲۷ هغهٔ ورته ووئیل، ”ستا خیال دا دے څهٔ چې یواځې تهٔ او
بادشاه هغه خلق یئ چې زما نېک تاسو ته د دې هر څهٔ وئیلو
دپاره رالېږلے یم؟ نه، زهٔ هم هغه خلقو ته وایم کوم چې په
دېوال ناست دی، ستاسو په شان هغوئ به هم خپل غُل
وخوری او خپلې متیازې به وڅښی.“ ۲۸ بیا هغه آفسر
ودرېدو او په عبرانی کښې یې آواز وکړو، ”د لوئ بادشاه، د
اسور د بادشاه خبره واورئ. ۲۹ بادشاه داسې وائی چې
حزقیاه مو دوکه نهٔ کړی. حزقیاه تاسو زما د لاس نه نهٔ شی
بچ کولے. ۳۰ او هغه دې ته مهٔ پرېږدئ چې تاسو ته ووائی
چې په مالِک خُدائ یقین وکړئ. دا خیال مهٔ کوئ چې مالِک
خُدائ به تاسو بچ کړی او چې هغه به زمونږ اسوری لښکر
ستاسو د ښار قبضه کولو نه ایسار کړی. ۳۱ حزقیاه ته
غوږ مهٔ نیسئ. د اسور بادشاه تاسو له حُکم درکوی چې د
ښار نه راوځئ او ما سره روغه وکړئ. تاسو ته به اجازت
وی چې د خپلو د انګورو باغونو نه انګور خورئ او د اینځر د
ونو نه اینځر خورئ او د خپلو کُوهیانو نه اوبهٔ څښئ، ۳۲ تر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دېِ پورې چې بادشاه تاسو بيا په يو داسې مُلک کښې آباد
کړى لکه چې ستاسو خپل وى، چې هلته د انګورو باغونه وى
چې تاسو له مے درکوى او چې هلته د روټۍ تيارولو دپاره
غله وى، هغه د زيتُونو د ونو، د زيتُونو تېلو او د شاتو مُلک
دے. کۀ تاسو هغه څۀ کوئ چې څۀ حُکم يې درکوى، نو
تاسو به نۀ مرئ او ژوندى به يئ. حزقياه مو چې دوکه نۀ
کړى چې درته ووائى چې مالِک خُدائ به مو بچ کړى. ۳۳ د
نورو قومونو خُدايانو خپل خلق د اسور د بادشاه نه کله بچ
کړى دى؟ ۳۴ د حمات او ارفاد خُدايان اوس چرته دى؟ د
سفروائم، هينع او عِواه خُدايان چرته دى؟ سامريه بل چا بچ
کړے شو څۀ؟ ۳۵ د دې ټولو مُلکونو خُدايانو کله هم خپل
مُلک زمونږ د بادشاه نه بچ کړے دے څۀ؟ نو مالِک خُدائ به
يروشلم زما نه څنګه بچ کړى؟“ ۳۶ خو خلق خاموش وُو او
يوه خبره يې هم نۀ کوله ځکه چې حزقياه حُکم ورکړے وو
چې، ”هغۀ له جواب مۀ ورکوئ.“ ۳۷ نو اِلياقيم، شبناه او
يوآخ د خفګان نه خپلې جامې وشلولې او هغوئ لاړل او چې
د اسور آفسر څۀ وئيلى وُو هغه يې بادشاه ته ووئيل.

## د بادشاه يشعياه نه مشوره غوښتل

۱۹ ۱ څنګه چې حزقياه بادشاه د هغوئ بيان واورېدو،
نو هغۀ د خفګان نه خپلې جامې وشلولې، د ټاټ جامې يې
واغوستلې او د مالِک خُدائ کور ته ننوتو. ۲ هغۀ د محل
مشر آفسر اِلياقيم، د دربار منشى شبناه، او مشران اِمامان، د
آموص زوئ يشعياه پېغمبر له ولېږل، دې ټولو د ټاټ جامې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اغوستې وې. ۳ هغوئ ته یې ووئیل چې یشعیاه له دا پېغام
ورسوئ، "نن د خفګان، ملامتیا او د شرم ورځ ده. مونږ د
هغه ښځې په شان یُو چې ماشوم یې پېدا کېږی، خو د پېدا
کېدو طاقت نۀ لری. ۴ د اسور بادشاه خپل مشر آفسر د
ژوندی خُدائ د بې‌عزتۍ کولو دپاره رالېږلے دے. مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک دې د دې بې‌عزتۍ نه خبر شی او
چې چا دا بې‌عزتی کړې وی نو هغوئ له دې سزا ورکړی.
زمونږ د ژوندو پاتې خلقو دپاره خُدائ پاک ته سوال وکړئ."
۵ کله چې یشعیاه ته د حزقیاه بادشاه پېغام مِلاو شو، ۶
نو یشعیاه هغوئ ته وفرمائیل، "خپل نبک ته ووایئ چې مالِک
خُدائ داسې فرمائی چې، کومې خبرې تا اورېدلې دی د هغې
په وجه مۀ یرېږه، چې د اسور بادشاه نوکرانو په هغې کښې
زما ګستاخی کړې ده. ۷ غوږ ونیسه، مالِک خُدائ به په
بادشاه باندې یوه افواه واوروی نو هغه به واپس خپل مُلک ته
لاړ شی او مالِک خُدائ به یې هلته په چا ووژنی."

## د اسوریانو بله دهمکی ورلېږل

۸ د اسور آفسر خبر شو چې بادشاه د لکیس نه تلے دے
او د نزدې ښار لِبناه خِلاف جنګ کوی، نو هغه ورَغلو چې
مشوره ورسره وکړی. ۹ اسوریانو له دا خبر وروړسېدو
چې د ایتهوپیا بادشاه ترهاقه د مشرۍ لاندې مِصرے لښکر په
هغوئ باندې د حملې دپاره راروان دے. کله چې بادشاه د
دې نه خبر شو، نو هغۀ د یهوداه بادشاه حزقیاه له دا پېغام
ولېږلو ۱۰ چې هغۀ ته داسې ووائی، "په کوم خُدائ چې
تاسو یقین کوئ هغۀ تاسو ته فرمائیلی دی چې تاسو به زما په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قبضه کښې نهٔ راځئ، خو چې په هغهٔ باندې دوکه نهٔ شئ. ١١
ګورئ چې د اسور بادشاه د کوم مُلک تباه کولو فېصله
وکړې نو په هغې باندې څهٔ کوی، ستاسو خيال دے چې
خلاص به شئ؟ ١٢ زما پلار نيکهٔ د جوزان، حاران او
رصف ښارونه تباه کړل، د بيت‌عدن خلق يې ووژل چې کوم
په تلسار کښې اوسېدل او د هغوئ يو خُدائ هم هغوئ بچ نهٔ
کړل. ١٣ د حمات، ارفاد، سفروائم، هينع او د عِواه ښارونو
بادشاهان چرته دی؟" ١٤ حزقياه بادشاه د پېغام وړونکو نه
خط واخستلو او وې لوستلو. بيا هغه د مالِک خُدائ کور ته
لاړو او خط يې هلته د مالِک خُدائ په حضور کښې کېښودو،
١٥ او دُعا يې وکړه، "اے مالِکه خُدايه، د اِسرائيل خُدايه
پاکه، تهٔ د وزرو والا مخلوق په مينځ کښې په تخت ناست يې،
يواځې تهٔ خُدائ پاک يې، چې د دُنيا په ټولو بادشاهانو باندې
حکومت کوې. تا زمکه او آسمان پېدا کړی دی. ١٦ نو
مالِکه خُدايه، چې په مونږ څهٔ کيږی هغې ته وګوره. هغه ټولې
خبرې واوره چې سينحرب يې تا يعنې ژوندی خُدائ پاک ته
د بې‌عزتئ دپاره کوی. ١٧ مالِکه خُدايه، دا رښتيا دی چې د
اسور بادشاهانو ډېر قومونه تباه کړی دی او د هغوئ زمکې
يې شاړې کړې دی. ١٨ او د هغوئ خُدايان يې اور ته اچولی
دی او سوزولی يې دی، اسوريانو دا ځکه تباه کړے شول،
چې په حقيقت کښې دا خُدايان نهٔ وُو او تش د لرګو او کاڼو
نه انسانانو جوړ کړی وُو. ١٩ نو زمونږ مالِکه خُدايه پاکه،
مونږ د اسوريانو نه بچ کړه او اے مالِکه خُدايه، د دُنيا ټولو
قومونو ته به پته ولګی چې صرف تهٔ رښتونے خُدائ پاک
يې."

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## بادشاه ته د يشعياه پيغام

۲۰ بيا د آموص زوئ يشعياه حزقياه له دا پيغام ولېږلو،
”مالِک خُدائ د اِسرائيل خُدائ پاک فرمائى چې، ما د
اسوريانو بادشاه سينحرب په حقله ستا دُعا اورېدلې ده. ۲۱
مالِک خُدائ په دې حقله فرمائيلى دى چې، پېغله لور صيون
تا پورې خاندى او تا ته سپک ګورى. ۲۲ دا تۀ په چا پورې
خندا کوې او د چا بې‌عزتى کوې؟ تۀ زما يعنې د اِسرائيلو
مقدس خُدائ پاک بې‌عزتى کوې. ۲۳ تا ما له ستا پيغام
وړُونکى راولېږل چې ما ته دا لافې ووهى چې تا د خپلو ټولو
جنګى ګاډو سره د لبنان اوچت غرونه فتح کړى دى، هلته
دې د دِيار لوړې ونې او د نختر ښې ونې راوغورزولې او چې
تۀ د ځنګلو هغه ګڼو برخو ته ورسېدلې. ۲۴ تا لافې وهلې چې
تا کوهى وکنستل او په پردو مُلکونو کښې دې اوبۀ وڅښلې او
ستا فوجيانو د پښو سره د نيل درياب اوچ کړو. ۲۵ تۀ خبر
نۀ يې چې ما د دې هر څۀ ډېر د مخکښې نه منصوبه جوړه
کړې وه؟ او اوس مې داسې وکړل او تا له مې دا طاقت
درکړو چې د پَخو دېوالونو ښارونه د خاورو په ډېرو بدل
کړې. ۲۶ د هغه ځائ خلق کمزورى وُو، هغوئ يرېدلى او
شرمېدلى وُو. هغوئ په پټى کښې د بوټو په شان وُو يا لکه
چې په چت باندې واښۀ شوى وى چې د نمرخاتۀ ګرمې هوا
وهلى وى. ۲۷ خو ما ته پته ده چې تۀ څۀ کوې او چرته ځې
او چې تۀ ما ته څومره غصه يې. ۲۸ ما ته ستا د غضب او
غرور خبر رارسېدلے دے، نو زۀ به ستا په پوزه کښې کُنډه
او ستا په خولۀ کښې واګې اچوم او چې په کومه لار راغلے
يې نو په هغې به دې واپس ولېږم.“ ۲۹ نو يشعياه حزقياه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بادشاه ته وفرمائيل، ”ځۀ چې کېدونکی دی نو د هغې په حقله
به درته ووايم. په دې کال او په بل کال به تۀ قدرتی شوے
خوراک خورې، خو په ورپسې کال به غله وکرې او وبه يې
رېبې او د انګورو باغونه به وکرې او انګور به وخورې. ۳۰
په يهوداه کښې چې کوم کسان ژوندی پاتې دی، نو هغوئ به
د هغه بوټو په شان آباد شی چې جرړې يې په زمکه کښې
ژورې ځی او مېوه کوی. ۳۱ په يروشلم کښې او د صيون په
غرۀ باندې به خلق ژوندی پاتې شی، ځکه چې د مالِک خُدائ
ربُ الافواج غېرت به داسې وکړی. ۳۲ مالِک خُدائ د اسور
بادشاه په حقله فرمائيلی دی، هغه به دې ښار ته نۀ ننوځی او
نۀ به د دې خِلاف يو غشے وولی. يو فوجی به هم د ډال سره
دې ښار ته نزدې رانۀ شی او د دې محاصرې دپاره به د
خاورو ډېرے جوړ نۀ کړے شی. ۳۳ هغه چې په کومه لار
راغلے وی نو په هغې به واپس لاړ شی او ښار ته به دننه لاړ
نۀ شی. ما، يعنې مالِک خُدائ داسې فرمائيلی دی. ۳۴ د
خپل عزت او د خپل خِدمت کوونکی داؤد د خاطره به زۀ د
دې ښار ساتنه او حِفاظت کوم.“ ۳۵ په هغه شپه د
اسوريانو خېمو ته د مالِک خُدائ يوه فرښته ننوتله او يو لاک
پينځۀ اتيا زره فوجيان يې ووژل. په ورپسې سحر وختی
هغوئ ټول هلته مړۀ پراتۀ ؤو. ۳۶ بيا د اسور بادشاه
سينحرب راواپس شو او نينوه ته لاړو. ۳۷ يوه ورځ چې هغۀ
د خپل معبود نِسروک په عبادتخانه کښې عبادت کولو، نو د
هغۀ دوو زامنو ادرمُلِک او شراضر هغه د خپلو تُورو سره
ووژلو او بيا هغوئ د اراراط مُلک ته وتښتېدل. د هغۀ يو بل
زوئ اسرحدون د هغۀ نه پس بادشاه جوړ شو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د حزقیاه بادشاه بیماریدل او بیا روغیدل

۲۰ ۱ په هغه ورځو کښې حزقیاه بادشاه بیمار شو او
مرګ ته نزدې وو. د آموص زوئ، یشعیاه پېغمبر ورَغلو او
هغۀ ته یې وفرمائیل، "مالِک خُدائ تا ته فرمائی چې خپلې
معاملې سمبال کړه. ځکه چې تۀ به مړ کېږې، تۀ به روغ نۀ
شې." ۲ حزقیاه مخ دېوال ته واړولو او دُعا یې وکړه، ۳
"مالِکه خُدایه، هغه رایاد کړه، چې ما په ایماندارئ او د زړۀ د
اخلاصه ستا خِدمت کړے دے او ستا د رضا دپاره مې هر
کار کړے دے." او هغۀ ډېر په چغو چغو وژړل. ۴ یشعیاه
د بادشاه نه روان شو، خو هغه لا د محل د مرکزی دربار نه
تېر شوے نۀ وو چې د مالِک خُدائ کلام پرې نازل شو، ۵
"د مالِک خُدائ د خلقو بادشاه حزقیاه له واپس لاړ شه او
هغۀ ته ووایه، ما یعنې مالِک خُدائ، ستا د پلار نیکۀ داؤد
خُدائ پاک ستا دُعا اورېدلې ده او ستا اوښکې مې لیدلې
دی. زۀ به تا روغ کړم او په درېیم ورځ به د مالِک
خُدائ کور ته لاړ شې. ۶ زۀ به ستا په عُمر کښې پینځلس
کاله نور زیات کړم. زۀ به تا او د یروشلم دا ښار د اسور
بادشاه نه بچ کړم. زۀ به د خپل عزت او د خپل خِدمت
کوونکی داؤد د خاطره د دې ښار حِفاظت کوم." ۷ بیا
یشعیاه د بادشاه کسانو ته وفرمائیل چې د هغۀ په دانه باندې
د اینځر نه جوړ شوے مرهم ولګوئ، نو هغه به روغ شی. ۸
حزقیاه بادشاه تپوس وکړو، "د دې ثبوت نښه به څۀ وی چې
مالِک خُدائ به ما روغ کړی او په درېیمه ورځ به د مالِک
خُدائ کور ته لاړ شم؟" ۹ یشعیاه ورته وفرمائیل، "مالِک
خُدائ به د دې نښه درته وښائی چې هغه به خپله وعده پوره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړی. نو ستا ښَنګه خوښه ده چې دا سورے لس قدمه
مخکښې لاړ شی یا لس قدمه وروستو لاړ شی؟“ ١٠ حزقیاه
ورته وفرمائیل، ”دا آسان دی چې په پوړیۀ باندې سورے لس
قدمه مخکښې لاړ شی. دا لس قدمه وروستو بوځه.“ ١١
یشعیاه مالِک خُدائ ته سوال وکړو او مالِک خُدائ د احاز په
پوړیۀ باندې سورے لس قدمه وروستو بوتلو.

## د بابل پیغام وړُونکی

١٢ تقریباً هم په هغه وخت د بابل بادشاه د بلدان زوئ،
مرودک‌بلدان خبر شو چې حزقیاه بادشاه بیمار دے، نو هغۀ
ورله یو خط او یوه تُحفه ولیږله. ١٣ حزقیاه پیغام وړونکو ته
په خیر راغلے ووئیل او هغوئ ته یې خپل سرۀ زر، سپین زر،
خپلې مصالحې او قیمتی تېل او خپل ټول فوجی سامان
وښودلو. د هغۀ د ګودام په کوټو کښې یا د هغۀ د بادشاهۍ په
بل ځائ کښې هم داسې څۀ نۀ وُو چې هغۀ ورته ښودلی نۀ
وُو. ١٤ بیا یشعیاه پېغمبر حزقیاه بادشاه له لاړو او تپوس یې
ترې نه وکړو، ”دا سړی د کوم ځائ نه راغلی دی او هغوئ تا
ته څۀ وفرمائیل؟“ حزقیاه ورته ووئیل، ”هغوئ د یو لرې مُلک
بابل نه راغلی دی.“ ١٥ یشعیاه ترې نه تپوس وکړو، ”په
محل کښې یې څۀ ولیدل؟“ حزقیاه بادشاه جواب ورکړو،
”هغوئ هر څۀ ولیدل. زما په خزانه کښې داسې څۀ نشته چې
ما ورته ښودلی نۀ وی.“ ١٦ بیا یشعیاه بادشاه ته وفرمائیل،
”مالِک خُدائ تعالیٰ داسې فرمائی چې ١٧ یو داسې وخت
راروان دے چې ستا په محل کښې هر یو ښیز، چې ستا پلار
نیکۀ تر ننه پورې جمع کړی دی، نو هغه به بابل ته یوړلے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شی. هیڅ به هم پاتې نۀ شی. ۱۸ ستا څۀ اولاد به بوتلے شی
او د هغوئ نه به خصيان جوړ کړے شی چې د بابل بادشاه
په محل کښې خِدمت کوی.“ ۱۹ نو حزقياه بادشاه د دې په
مطلب پوهه شو چې د هغۀ په ژوند کښې به امن او تحفُظ
وی، نو هغۀ ورته ووئيل، ”تا چې ما له د مالِک خُدائ نه کوم
پيغام راوړے دے هغه ښۀ دے.“

## د حزقياه د بادشاهئ ختمېدل

۲۰ نور هر څۀ چې حزقياه بادشاه کړی وُو، د هغۀ د بهادرئ
کارنامې او هغه حِساب کِتاب چې هغۀ ډنډ جوړ کړے وو او
چې يو سورنګ يې کنستلے وو چې ښار له اوبۀ راولی، دا هر
څۀ د يهوداه د بادشاهانو په تاريخ کښې ليکلے شوی دی.
۲۱ حزقياه مړ شو او د هغۀ زوئ منسى د هغۀ نه پس
بادشاه جوړ شو.

## د يهوداه بادشاه منسى

۲۱ ۱ منسى د دولسو کالو وو چې هغه د يهوداه بادشاه
جوړ شو او هغۀ په يروشلم پينځۀ پنځوس کاله بادشاهی
وکړه. د هغۀ مور حفصيباه وه. ۲ منسى د هغه قومونو
پليت رِواجونه کول چې مالِک خُدائ د اِسرائيلو نه وړاندې
شړلی وُو، او په دې کولو يې د مالِک خُدائ خِلاف ګناه
وکړه. ۳ هغۀ د غېرو قومونو د عبادت ځايونه بيا جوړ کړل
کوم چې د هغۀ پلار حزقياه تباه کړی وُو، هغۀ د بعل د
عبادت دپاره قربانګاه جوړې کړې او د اِسرائيل بادشاه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اخي‌اب په شان د اشيرې بُت نښه يې جوړه کړه. منسى د
ستورو عبادت هم کولو. ۴ هغهٔ د مالِک خُدائ په کور
کښې د غېرو قومونو قربان‌ګاه جوړې کړې، په هغه ځائ
کښې چې مالِک خُدائ فرمائيلى وُو، ”زما نوم به په يروشلم
کښې همېشه باقى پاتې وى.“ ۵ د مالِک خُدائ د کور په
دوو دربارونو کښې هغهٔ د ستورو د عبادت دپاره قربان‌ګاه
جوړې کړې. ۶ هغهٔ خپل زوئ د سوزېدونکې نذرانې په
توګه پېش کړو. هغهٔ د کوډو او جادو نه کار واخستو او
قسمت ښودونکو او فالګرو سره يې مشورې کولې. هغهٔ د
مالِک خُدائ خِلاف لويه ګناه وکړه او د هغهٔ غصه يې
راوپاروله. ۷ هغهٔ د اشيرې بُت نښه د مالِک خُدائ په کور
کښې کېښوده، چې د دې په حقله مالِک خُدائ داؤد او د هغهٔ
زوئ سليمان ته فرمائيلى وُو، ”په يروشلم کښې، په دې کور
کښې هغه ځائ دے چې ما د بنى اِسرائيلو د ټولو دولسو
قبيلو نه خوښ کړے دے چې چرته به زما د نوم درناوے
کيږى. ۸ او کهٔ اِسرائيليان زما ټول حُکمونه منى او هغه
ټول قانون ومنى چې زما خِدمت کوونکى موسىٰ هغوئ له
ورکړے دے، نو هغوئ به د هغه مُلک نه نهٔ شى شړلے چې
ما د هغوئ پلار نيکهٔ له ورکړے وو.“ ۹ خو د يهوداه خلقو
د مالِک خُدائ تابعدارى نهٔ کوله او منسى هغوئ د هغې نه هم
لويو ګناهونو کولو طرف ته بوتلل چې کوم هغه قومونو کړى
وُو چې مالِک خُدائ هغوئ د هغه مُلک نه شړلى وُو چې په
کوم وخت کښې د هغهٔ خلق مخ په وړاندې تلل. ۱۰ د خپلو
خِدمت کوونکو پېغمبرانو په ذريعه مالِک خُدائ فرمائيلى وُو،
۱۱ ”منسى بادشاه حرام کارونه کړى دى، د هغه کارونو نه
هم ډېر بد چې کوم کنعانيانو کړى وُو، او هغهٔ د خپلو بُتانو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره د یهوداه خلق د ګناه طرف ته بوتلی ؤو. ۱۲ نو زهٔ
مالِک خُدائ د اِسرائیل خُدائ پاک په یروشلم او په یهوداه یو
داسې افت راولم چې هر څوک د دې نه خبر شی نو په هغوئ
به ویښتهٔ زیګ‌زیګ ودریږی. ۱۳ زهٔ به یروشلم له داسې
سزا ورکړم لکه چې سامریه، د اِسرائیل بادشاه اخی‌اب او د
هغهٔ اولاد له مې ورکړې وه. زهٔ به یروشلم د دې د خلقو نه
داسې خالی کړم، لکه چې څوک لوښے صفا کړی او په بل
مخ یې واړوی. ۱۴ چې کوم خلق ژوندی پاتې وی نو زهٔ به
یې پرېږدم او خپلو دشمنانو ته به یې حواله کړم، چې فتح یې
کړی او د هغوئ مُلک لوټ کړی. ۱۵ زهٔ د خپلو خلقو سره
داسې ځکه کوم چې هغوئ زما خِلاف ګناه کړې ده. او د
هغه وخت نه چې د هغوئ پلار نیکهٔ د مِصر نه راوتلی دی تر
نن ورځې پورې یې زما غصه راپاروله ده." ۱۶ منسی
دومره ډېر بې‌ګناه خلق قتل کړل چې د یروشلم د یو سر نه تر
بل سر پورې وینې بهېدلې، د دې نه علاوه هغهٔ د یهوداه خلق
د بُت پرستئ طرف ته بوتلل او هغوئ یې دې ته جوړ کړل چې
د مالِک خُدائ خِلاف ګناه وکړی. ۱۷ نور هر څهٔ چې منسی
کړی ؤو، سره د هغه ګناهونو چې هغهٔ کړی ؤو، نو هغه د
یهوداه د بادشاهانو په تاریخ کښې لیکلے شوی دی. ۱۸
منسی مړ شو او د محل په باغ یعنې د عُزا په باغ کښې ښخ
شو، د هغهٔ زوئ امون د هغهٔ نه پس بادشاه جوړ شو.

## د یهوداه بادشاه امون

۱۹ امون د دوویشتو کالو وو چې هغه د یهوداه بادشاه جوړ
شو او دوه کاله یې په یروشلم بادشاهی وکړه. د هغهٔ مور

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مسلمت وه چې د يُطبه د ښار د حروص لور وه. ۲۰ د خپل
پلار منسى په شان، هغهٔ هم د مالِک خُدائ خِلاف ګناه وکړه،
۲۱ هغه د خپل پلار په نقش قدم باندې روان وو او چې د
هغهٔ پلار د کومو بُتانو خِدمت کړے وو نو هغهٔ هم ورته
سجدې لګولې. ۲۲ هغهٔ مالِک خُدائ، د خپل پلار نيکهٔ خُدائ
پاک رد کړو او د مالِک خُدائ د حُکمونو نافرمانى يې وکړه.
۲۳ د امون آفسرانو د هغهٔ خِلاف منصوبه جوړه کړه او په
محل کښې يې ووژلو. ۲۴ د يهوداه خلقو د امون قاتِلان
ووژل او د هغهٔ زوئ يوسياه يې د هغهٔ په ځائ بادشاه جوړ
کړو. ۲۵ امون چې نور هر څهٔ کړى وُو هغه د يهوداه د
بادشاهانو په تاريخ کښې ليکلے شوى دى. ۲۶ امون د عُزا
د باغ په اديره کښې ښخ شو او د هغهٔ زوئ يوسياه د هغهٔ نه
پس بادشاه جوړ شو.

## د يهوداه بادشاه يوسياه

۲۲ ۱ يوسياه د اتو کالو وو چې هغه د يهوداه بادشاه
شو او هغهٔ په يروشلم باندې يو دېرش کاله بادشاهى وکړه. د
هغهٔ مور جديده وه، چې د بُصقت ښار د عداياه لور وه. ۲
يوسياه هغه کار کولو چې مالِک خُدائ پرې رضا کېدو، هغهٔ
د خپل پلار نيکهٔ داؤد په مِثالونو عمل کولو او د دې نه يو خوا
بل خوا نهٔ اوړېدو.

## د تورات شريف موندلے کېدل

۳ د خپلې بادشاهۍ په اتلسم کال، يوسياه بادشاه د دربار

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

منشی سافن چې د اصلیاه زوئ او مسلام نمسے وو، د دې
حُکم سره د مالِک خُدائ کور ته ولیږلو، ۴ "مشر اِمام
خِلقیاه له لاړ شه او د هغه پیسو پته ولګوه چې د مالِک خُدائ
د کور د ننوتلو په دروازه کښې خادمانو د خلقو نه راغونډې
کړې دی. ۵-۶ او هغهٔ ته ووایه چې پیسې هغه سړو له
ورکړی کوم چې د مالِک خُدائ د کور د مرمت مشران دی.
هغوئ به ترکاڼانو، ټیکدارانو او ګِلکارانو له مزدوری ورکوی
او چې په مرمت کښې څهٔ لرګی او کاڼی استعمالیږی نو هغه
دې اخلی. ۷ خو چې هغوئ له کومې پیسې ورکړے شوې
وی نو د هغې حِساب کِتاب ورسره مهٔ کوئ، ځکه چې هغوئ
د ایماندارئ سره لین دین کوی." ۸ سافن منشی خِلقیاه ته
د بادشاه حُکم ورسولو او خِلقیاه هغهٔ ته ووئیل چې هغهٔ د
مالِک خُدائ په کور کښې د تورات کِتاب موندلے دے.
خِلقیاه کِتاب ورکړو او سافن ولوستلو. ۹ بیا هغه واپس
بادشاه له لاړو او د دې نه یې خبر کړو، "د مالِک خُدائ په
کور کښې چې کومې پیسې جمع شوې وې هغه ستا خِدمت
کوونکو اخستې دی او هغه سړو له یې ورکړې دی چې د
مرمت مشران دی." ۱۰ او هغهٔ ووئیل، "ما سره دلته یو
کِتاب دے چې خِلقیاه راکړے دے." او بادشاه ته یې دا
ولوستلو. ۱۱ کله چې بادشاه د شریعت د کِتاب خبرې
واورېدې، نو هغهٔ د خفګان نه خپلې جامې وشلولې، ۱۲ او
خِلقیاه اِمام، د سافن زوئ اخیقام، د میکایاه زوئ عکبور، د
دربار منشی سافن او د بادشاه نوکر عسایاه له یې دا حُکم
ورکړو، ۱۳ "لاړ شئ او د مالِک خُدائ سره، زما او د
یهوداه د ټولو خلقو دپاره د دې کِتاب د تعلیماتو خبره وکړئ.
مالِک خُدائ مونږ ته سخت غصه دے ځکه چې دا کِتاب

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کومې خبرې کوی نو زمونږ پلار نیکۀ په دې باندې عمل نۀ
دے کړے.“ ۱۴ نو خِلقیاه، اخیقام، عکبور، سافن او
عسایاه لاړل چې د خُلده نومې ښځې سره مشوره وکړی، هغه
یوه پېغمبره وه چې د یروشلم په نوې محله کښې اوسېدله. (د
هغې خاوند سلوم، د تِقوه زوئ او د خرخس نمسے، د مالِک
خُدائ د کور د جُوغو مشر وو.) نو هغوئ ورته خبره وکړه،
۱۵ او هغې هغوئ ته ووئیل چې واپس بادشاه له لاړ شئ ۱۶
او د مالِک خُدائ دا پیغام هغۀ له ورکړئ، ”زۀ به یروشلم او
د دې ټولو خلقو له سزا ورکړم لکه څنګه چې په هغه کِتاب
کښې لیکلے شوی دی چې بادشاه ولوستلو. ۱۷ هغوئ زۀ
رد کړے یم او نورو خُدایانو ته یې نذرانې پېش کړې دی او
چې هغوئ څۀ کړی دی د هغې په وجه یې زما غصه راپارولې
ده. زما غصه د یروشلم خِلاف راپاڅېدلې ده او دا به نۀ
سړېږی. ۱۸ او په خپله بادشاه ته، زۀ مالِک خُدائ د
اِسرائیل خُدائ پاک داسې وایم، چې په کِتاب کښې څۀ لیکلی
دی تا هغې ته غوږ ونیولو، ۱۹ او کله چې تا واورېدل چې ما
یروشلم او د دې خلقو له د سزا ورکولو خبره کړې ده، نو
توبه دې وویستله او عاجزی دې ښکاره کړه، جامې دې
وشلولې او ودې ژړل. دا ښار به شاړ او ویجاړ کړم چې خلق
به ورباندې لعنت وائی. خو ما ستا سوال اورېدلے دے، ۲۰
خو چې زۀ کومه سزا یروشلم له ورکوم هغه به ستا په ژوند
کښې نۀ راځی. تۀ به په خېر سره مړ شې.“ نو هغه سړی د
دې پېغام سره یوسیاه بادشاه له راواپس شول.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د یوسیاه د غېرو قومونو عبادتخانې ختمول

۲۳ ۱ بیا یوسیاه بادشاه د یهوداه او یروشلم ټول مشران
راوغوښتل، ۲ او هغوئ په یو ځائ د مالِک خُدائ کور ته
لاړل، چې اِمامان، پېغمبران او باقی نور ټول خلق د واړو نه
واخله تر غټو پورې ورسره وُو. د هغوئ ټولو په وړاندې،
بادشاه د لوظ هغه ټول کِتاب ولوستلو کوم چې د مالِک
خُدائ په کور کښې موندلے شوے وو. ۳ هغه د شاهی
ستنې سره ودرېدو او د مالِک خُدائ سره یې یو لوظ وکړو
چې د هغهٔ تابعداری به کوی او د زړهٔ د اخلاصه به د هغهٔ ټول
قانون او حُکمونه منی او چې د هغه لوظ په مطالبو به عمل
کوی، څنګه چې په کِتاب کښې لیکلے شوی دی. او ټولو
خلقو دا لوظ ومنلو. ۴ بیا یوسیاه مشر اِمام خِلقیاه له، د
هغهٔ لاندې اِمامانو او د مالِک خُدائ د کور د ننوتلو د
دروازې خادمانو له حُکم ورکړو چې د مالِک خُدائ د کور
هغه ټول څیزونه وباسی چې د بعل، د اشیرې بُت او د ستورو
په عبادت کښې استعمال شوی وی. بادشاه دا ټول څیزونه د
قِدرون د وادۍ په پټو کښې د ښار نه بهر وسوزول او د دې
ایرې یې بیت‌ایل ته یوړې. ۵ هغهٔ بُت پرسته اِمامان لرې
کړل چې د یهوداه بادشاهانو مقرر کړی وُو چې کومو د
یهوداه په ښارونو کښې په علاقائی عبادتخانو او یروشلم ته
نزدې ځایونو کښې قربانۍ پېش کولې، هغه ټول اِمامان یې
لرې کړل چا چې بعل، نمر، سپوږمۍ، سیارو او ستورو ته
قربانۍ پېش کولې. ۶ هغهٔ د مالِک خُدائ کور نه د اشیرې
بُت نښه لرې کړله، د ښار نه بهر د قِدرون وادۍ ته یې یوړه،
وې سوزوله او خاورې یې کړه او د دې ایره یې د عامو خلقو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په قبرونو باندې وشيندله. ۷ هغهٔ د مالِک خُدائ په کور
کښې د اوسېدو هغه کوټې ورانې کړې چې د هغه کور نرانو
کنجرانو نيولې وې، چرته چې ښځو د اشيرې بُت دپاره
چُوغې جوړولې. ۸ د يهوداه په ښارونو کښې چې کوم
اِمامان وُو هغه يې يروشلم ته راوستل او په ټول مُلک کښې
يې علاقائی عبادتخانه ناپاکه کړه چرته چې هغوئ قربانۍ پېش
کړې وې. هغهٔ د ښار د حکمران يشوَع د دروازې په خولهٔ
کښې علاقائی عبادتخانې تباه کړې. دا دروازه ښار ته د ننوتو
د دروازې په ګس طرف باندې وه. ۹ هغه علاقائی اِمامانو
ته دا اجازت نهٔ وو چې په يروشلم کښې يې د مالِک خُدائ د
قربان‌ګاه خِدمت کړے وے، خو چې د هغوئ ملګرو اِمامانو
ته کومه پتيره روټۍ مِلاو شوې وه نو هغه يې خوړلے شوه.
۱۰ او هغهٔ د هنوم په وادۍ کښې د غېرو قومونو د عبادت
ځائ توفت هم ناپاک کړو، نو چې هيڅ څوک خپل زوئ يا
لور مولک بُت ته د سوزېدونکې نذرانې په توګه نهٔ شی قربانی
کولے. ۱۱ د آسونو هغه مجسمې يې هم لرې کړې چې د
يهوداه بادشاه نمر ته وقف کړې وې او چې په دې کښې
کومې جنګی ګاډۍ استعمالېدلې هغه يې وسوزولې. (دا د
مالِک خُدائ د کور په دربار کښې ايښودے شوې وې، چې د
دروازې او د مشر آفسر ناتن مُلک د اوسېدو د کوټې سره
نزدې وې.) ۱۲ هغه ټولې قربان‌ګاه چې د يهوداه بادشاهانو د
محل په چت باندې د احاز بادشاه د کوټې نه بره جوړې کړې
وې نو يوسياه بادشاه هغه راوغورزولې، سره د هغه قربان‌ګاه
چې منسی بادشاه د مالِک خُدائ کور په دوو دربارونو کښې
ايښې وې، هغهٔ قربان‌ګاه ذرې ذرې کړلې او د دې ټُکړې يې د
قِدرون په وادۍ کښې واچولې. ۱۳ يوسياه هغه علاقائی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عبادتخانې ناپاکې کړې چې سليمان بادشاه د يروشلم
نمرخاتهٔ طرف ته او د زيتُونو غرهٔ جنوبى طرف ته د بې‌کاره
بُتانو عبادت دپاره جوړې کړې وې، يعنې د صيدان عستاراتې
بُت، د موآب بُت کموس او د عمون بُت مولک. ۱۴ يوسياه
بادشاه د کاڼو ستنې ټوټې کړې، د اشيرې بُت نښې يې
راوغورزولې او چې دا چرته ولاړې وې نو هغه ځائ يې د
بنيادمو په هډُوکو باندې پټ کړو. ۱۵ يوسياه په بيت‌ايل
کښې د عبادت هغه ځائ هم راوغورزولو چې د نباط زوئ
يربعام بادشاه جوړ کړے وو، چا چې اِسرائيل د ګناه طرف
ته بوتلى وُو. يوسياه قربان‌ګاه راوغورزوله، د دې کاڼى يې
ټوټې ټوټې او خاورې کړل، هغهٔ د اشيرې مجسمه هم
وسوزوله. ۱۶ يوسياه مخ واړولو او هلته يې د غرهٔ دپاسه
څهٔ قبرونه وليدل، هډُوکى يې ترې نه رابهر کړل او په
قربان‌ګاه باندې يې وسوزول. نو هغه قربان‌ګاه يې ناپاکه کړه،
چې د دې هغه پيغمبر ډېر پخوا پېشګوئي کړې وه چې د اختر
په وخت کښې يربعام بادشاه د قربان‌ګاه سره ولاړ وو.
يوسياه بادشاه وکتل او د هغه پيغمبر قبر يې وليدو چې کوم
دا پېشګوئي کړې وه. ۱۷ هغهٔ تپوس وکړو، ”دا د چا قبر
دے؟“ د بيت‌ايل خلقو ورته ووئيل، ”دا د هغه پيغمبر قبر دے
کوم چې د يهوداه نه راغلے وو او د دې پېشګوئي يې کړې وه
چې تا د قربان‌ګاه سره وکړل.“ ۱۸ يوسياه حُکم وکړو، ”دا
هم داسې پرېږدئ، د هغهٔ هډُوکى دې څوک نهٔ لرې کوى.“ نو
د هغهٔ هډُوکى يې لرې نهٔ کړل او نهٔ د هغه پيغمبر هډُوکى لرې
کړے شول چې د سامريه نه راغلے وو. ۱۹ په سامريه
کښې يوسياه بادشاه په هر يو ښار کښې علاقائى زيارتونه
راوغورزول چې کوم د اِسرائيل بادشاهانو جوړ کړى وُو او د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِک خُدائ غصه يې راپاروليې وه. هغۀ په هغه ټولو قربان‌ګاه
باندې هم هغه شان وکړل چې څنګه يې په بيت‌ايل کښې کړې
وُو. ۲۰ هغۀ د ټولو علاقائی عبادتخانو اِمامان په قربان‌ګاه
باندې ووژل چرته چې هغوئ خِدمت کولو او هغۀ په هره
قربان‌ګاه باندې د بنيادمو هډُوکی وسوزول او بيا هغه يروشلم
ته راواپس شو.

## يوسياه د فسحې اختر کوی

۲۱ نو يوسياه بادشاه خلقو له حُکم ورکړو چې د مالِک
خُدائ د هغوئ د خُدائ پاک په درناوی کښې د فسحې اختر
وکړئ، لکه څنګه چې د لوظ په کِتاب کښې ليکلے شوی دی.
۲۲ د قاضيانو د حکومت د وخت نه پس، د دې په شان د
فسحې اختر د اِسرائيل يا د يهوداه يو بادشاه هم نۀ وو کړے.
۲۳ او د يوسياه د بادشاهۍ په اتلسم کال په يروشلم کښې د
فسحې اختر وکړے شو.

## د يوسياه نور بدلون راوستل

۲۴ په هغه کِتاب کښې د ليکلی شوی قانون عملی کولو
دپاره چې خِلقياه اِمام د مالِک خُدائ په کور کښې موندلے
وو، يوسياه بادشاه د يروشلم او د نور ټول يهوداه نه ټول
جادوګر او قسمت ښودونکی او کورنی ټول بُتان او د غېرو
قومونو د عبادت نور ټول حرام څيزونه لرې کړل. ۲۵ د هغۀ
نه مخکښې هيڅکله هم د هغۀ په شان بادشاه نۀ وو تېر شوے،
چا چې د زړۀ د اخلاصه، د ټول عقل او طاقت سره د مالِک
خُدائ خِدمت کړے وی او د موسیٰ ټول قانون يې منلے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وی، او نۀ وروستو د هغۀ په شان بادشاه پېدا شوے وو. ۲۶
خو منسی بادشاه چې څۀ کړی وُو نو د هغې په وجه د مالِک
خُدائ سخته غصه راوچته شوې وه او لا سړه شوې نۀ وه.
۲۷ مالِک خُدائ وفرمائيل، ”ما چې د اِسرائيل سره څۀ
کړی دی نو هغه به په يهوداه هم وکړم، د يهوداه خلق به زۀ د
خپل نظر نه لرې کړم او زۀ به يروشلم رد کړم، کوم ښار او
کور چې ما خوښ کړے وو او چې ما فرمائيلی وُو چې هلته
به زما عبادت کيږی.“

## د يوسياه د بادشاهۍ ختمېدل

۲۸ يوسياه بادشاه چې نور څۀ هم کړی دی هغه د يهوداه د
بادشاهانو په تاريخ کښې ليکلے شوی دی. ۲۹ چې کله
يوسياه بادشاه وو، نو د مِصر بادشاه نِکوه فِرعون د فرات
سيند له يو لښکر بوتلو چې د اسور بادشاه مدد وکړی.
يوسياه بادشاه په مِجدو کښې د مِصری لښکر سره مخامخ
شو او په جنګ کښې ووژلے شو. ۳۰ د هغۀ آفسرانو د هغۀ
لاش په يوه جنګی ګاډۍ کښې کېښودو او يروشلم ته يې يوړو
او هلته په شاهی اديره کښې ښخ کړے شو. د يهوداه خلقو د
يوسياه زوئ يهوآخز خوښ کړو او هغه يې بادشاه مقرر کړو.

## د يهوداه بادشاه يهوآخز

۳۱ يهوآخز د درويشتو کالو وو چې هغه د يهوداه بادشاه شو
او هغۀ په يروشلم باندې درې مياشتې حکومت وکړو. د هغۀ
مور حموطل وه، چې د لِبناه د ښار د يرمياه لور وه. ۳۲
هغه د خپل پلار نيکۀ په نقش قدم باندې روان وو او هغۀ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِک خُدائ خِلاف ګناه وکړه. ۳۳ د هغهٔ بادشاهی په هغه
وخت ختمه شوه چې د مِصر بادشاه نِکوه فِرعون د حمات
مُلک رِبله ته هغه قېدی بوتلو، نو په يهوداه باندې يې درې زره
څلور سوه کلو سپين زر او څلور دېرش کلو سرهٔ زر
محصُول حواله کړو. ۳۴ نِکوه فِرعون د يوسياه زوئ اِلياقيم
د يوسياه نه پس د يهوداه بادشاه جوړ کړو او د هغهٔ نوم يې
يهويقيم ته بدل کړو. نِکوه فِرعون يهوآخز مِصر ته بوتلو او
هلته مړ شو.

## د يهوداه بادشاه يهويقيم

۳۵ يهويقيم بادشاه د خلقو د دولت په مطابق د هغوئ نه
محصُول راغونډولو، چې هغه غوښتونکې پېسې پوره کړی
چې د مِصر بادشاه فِرعون له په محصُول کښې ورکولے
شوې. ۳۶ يهويقيم د پينځويشتو کالو وو چې هغه د يهوداه
بادشاه جوړ شو او هغهٔ په يروشلم باندې يوولس کاله
بادشاهی وکړه. د هغهٔ مور زبوده وه چې د روماه ښار د
فداياه لور وه. ۳۷ هغه د خپل پلار نيکهٔ په نقش قدم باندې
روان وو، يهويقيم د مالِک خُدائ خِلاف ګناه وکړه.

۲۴ ۱ کله چې يهويقيم بادشاه وو، نو د بابل بادشاه
نبوکدنضر په يهوداه حمله وکړه او درې کاله يې په يهويقيم
باندې زور راوړلو چې د هغهٔ حکومت ته تسليم شی، بيا
يهويقيم بغاوت وکړو. ۲ نو مالِک خُدائ د يهويقيم خِلاف
د يهوداه د تباه کولو دپاره، د بابل، اسور، موآب او عمون
لښکرې ولېږلې، لکه څنګه چې مالِک خُدائ د خپلو خِدمت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوونکو پېغمبرانو په ذریعه فرمائیلی وُو چې هغه به داسې
کوی. ۳ د مالِک خُدائ په حُکم باندې داسې ځکه وشول
چې د یهوداه خلق د خپل حضور نه لرې کړی، دا د هغه ټولو
ګناهونه په وجه چې منسی بادشاه کړی وُو. ۴ د هغه
بېګناه خلقو د وینې په وجه چې هغهٔ توئ کړې وه، نو مالِک
خُدائ ځکه منسی نهٔ شو معاف کولے. ۵ نور هر څهٔ چې
یهویقیم کړی دی هغه د یهوداه د بادشاهانو په تاریخ کښې
لیکلے شوی دی. ۶ یهویقیم مړ شو او د هغهٔ زوئ
یهویاکین د هغهٔ نه پس بادشاه جوړ شو. ۷ د مِصر بادشاه
او د هغهٔ لښکر بیا هیڅکله هم د مِصر نه لا نهٔ ړل، ځکه چې
اوس د بابل بادشاه د مِصر ټوله علاقه قبضه کړې وه، دا د
فرات سیند نه واخله د مِصر شمالی سرحد پورې وه.

## د یهوداه بادشاه یهویاکین

۸ یهویاکین د اتلسو کالو وو چې هغه د یهوداه بادشاه شو
او هغهٔ په یروشلم باندې درې میاشتې بادشاهی وکړه. د هغهٔ
مور نحشتا وه چې د یروشلم د الناتن لور وه. ۹ یهویاکین
د مالِک خُدائ په نظر کښې بد عمل کولو هم هغه شان لکه
څنګه عمل چې د هغهٔ پلار کړے وو. ۱۰ د هغهٔ په دور کښې
د بابل فوج د یروشلم خِلاف روان شو چې مشری یې د
نبوکدنضر بادشاه آفسرانو کوله او یروشلم یې محاصره کړو.
۱۱ د محاصرې په دوران کښې نبوکدنضر په خپله یروشلم
ته راغلو، ۱۲ او یهویاکین بادشاه، سره د خپلې مور، زامنو،
آفسرانو او سره د محل د آفسرانو بابلیانو ته تسلیم شو. د
نبوکدنضر د بادشاهۍ په اتم کال هغهٔ یهویاکین قېدی کړو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ او د محل او د مالِک خُدائ د کور تهولې خزانې يې بابل
ته یوړې. لکه څنګه چې مالِک خُدائ پېشګوئي کړې وه،
نبوکدنضر د سرو زرو هغه ټول سامان مات کړو کوم چې
سليمان بادشاه د مالِک خُدائ د کور دپاره جوړ کړے وو.
۱۴ نبوکدنضر د یروشلم خلق، ټول شهزادګان او ټول
مشران سړی قېدیان بوتلل چې دا ټول په شمېر کښې لس زره
وُو. هغۀ سره د لوهارانو، ټول ماهِر کاریګران وویستل او په
یهوداه کښې يې صِرف مسکینان خلق پرېښودل. ۱۵
نبوکدنضر، یهویاکین د یهویاکین مور، د هغۀ ښځې، د هغۀ
آفسران او د یهوداه د مشران بابل ته قېدیان بوتلل. ۱۶ د
بابل بادشاه نبوکدنضر ټول فوجیان هم وویستل چې په شمېر
کښې اووۀ زره وُو، چې په جنګ کښې ښۀ تکړه وُو او ورسره
یو زر ماهِر کاریګران او لوهاران هم وُو. ۱۷ نبوکدنضر د
یهویاکین ترۀ متنیاه د هغۀ په ځائ د یهوداه بادشاه جوړ کړو
او د متنیاه نوم يې صدقیاه ته بدل کړو.

## د یهوداه بادشاه صدقیاه

۱۸ صدقیاه د یویشتو کالو وو چې هغه د یهوداه بادشاه
جوړ شو او هغۀ په یروشلم باندې یوولس کاله بادشاهی
وکړه. د هغۀ مور حموطل وه، چې د لِبناه د ښار د یرمیاه لور
وه. ۱۹ صدقیاه بادشاه د مالِک خُدائ خِلاف ګناه وکړه
بلکل هم هغسې لکه چې یهویقیم بادشاه کړې وه. ۲۰ نو
مالِک خُدائ د یروشلم او د یهوداه خلقو ته دومره غصه شو
چې په آخر کښې يې هغوئ د خپل حضور نه لرې کړل.
صدقیاه د بابل بادشاه خِلاف بغاوت وکړو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د یروشلم تباهي

۲۵ ۱ نو د صدقیاه د بادشاهۍ په نهم کال، د لسمې
میاشتې په لسمه ورځ، د بابل بادشاه نبوکدنضر د خپل ټول
لښکر سره د یروشلم خِلاف روان شو. هغهٔ د ښار نه بهر
خیمې ولګولې او د ښار نه ګېرچاپېره یې د محاصرې
دېوالونه تاو کړل. ۲ او د صدقیاه د بادشاهۍ تر یوولسم
کال پورې یې دا محاصره کړې وه. ۳ هم د هغه کال د
څلورمې میاشتې په نهمه ورځ، کله چې قحط دومره سخت
وو چې د خلقو سره د خوراک هیڅ هم پاتې نهٔ وُو، ۴ نو په
یو ځائ کښې د ښار دېوال وغورزولې شو او ټول فوجیان
وتښتېدل. اګر چې ښار بابلیانو محاصره کړې وو خو هغوئ
د شپې د دوو دېوالونو په مینځ کښې په دروازه باندې ووتل،
چې دا د شاهي باغ نه شاته وه او هغوئ د اُردن وادۍ طرف
ته روان شول. ۵ خو د بابلیانو لښکر په صدقیاه بادشاه
پسې وو، یریحو ته نزدې په مېدانونو کښې یې ونیولو او خپل
ټول فوجیان ترې نه لاړل او هغه یې یواځې پرېښودو. ۶
صدقیاه نبوکدنضر بادشاه له بوتلې شو، چې هغه د رِبله په
ښار کښې وو او هلته نبوکدنضر په هغهٔ باندې سزا وخېژوله.
۷ نو د صدقیاه په مخکښې د هغهٔ دوه زامن ووژلې شول،
نبوکدنضر د صدقیاه نه سترګې وویستلې، هغه یې د زېړو په
هتکړو کښې وتړلو او بابل ته یې بوتلو.

## د مالِک خُدائ د کور تباه کېدل

۸ د بابل بادشاه نبوکدنضر د بادشاهۍ د نولسم کال د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پینځمې میاشتې په اوومه ورځ، د بادشاه مشیر او د هغهٔ د
لښکر مشر نبوزردان یروشلم ته وردننه شو. ٩ هغهٔ د مالِک
خُدائ کور، شاهی محل او د یروشلم ټول کورونه وسوزول،
هغهٔ د ښار هر یو لوئ عمارت وسوزولو. ١٠ او د هغهٔ
فوجیانو د ښار دېوالونه راوغورزول. ١١ د شاهی محافظانو
مشر نبوزردان، هغه خلق وویستل کوم چې په ښار کښې پاتې
وُو، په دې کښې ماهِر کاریګران او هغه خلق شامل وُو چا
چې د بابل بادشاه خِلاف بغاوت کړے وو. ١٢ خو هغهٔ په
یهوداه کښې سخت مسکینان خلق پرېښودل، چې د انګور په
باغونو او پټو کښې کَرل رېبل کوی. ١٣ بابلیانو د زېړو
ستنې او هغه ګاډۍ ټوټې ټوټې کړې چې کومې د مالِک خُدائ
په کور کښې وې، د زېړو هغه لویه ډېګۍ یې سره د ټولو زېړو
بابل ته یوړله. ١٤ هغوئ بېلچې او د قربانګاه د پاکولو د
ایرو لوښی هم یوړل، د ډیوو د خیال ساتلو سامان، د قربانۍ
د وینې جامونه، د خوشبویۍ سوزولو لوښی او د زېړو نور
ټول سامان چې د مالِک خُدائ د کور په کار کښې
استعمالېدو. ١٥ هغوئ هغه هر څهٔ یوړل چې د سرو زرو یا
سپینو زرو نه جوړ وُو، د هغه وړو جامونو او لوښو سره چې
د بلو سکارو وړلو دپاره استعمالېدل. ١٦ سلیمان بادشاه د
مالِک خُدائ د کور دپاره چې کوم سامان یې د زېړو نه جوړ
کړے وو، یعنې، دوه ستنې، ګاډۍ او لویه ډېګۍ، خو د دې
ټولو دومره وزن وو چې تللے نهٔ شو. ١٧ دواړه ستنې یو
شان وې، هره یوه تقریباً نهٔ ګزه اوچته وه چې د بره د زېړو
سر یې تقریباً دوه ګزه اوچت وو. د هر یو سر نه ګېرچاپېره
یې د زېړو جال وو چې د زېړو نه جوړو شوو انارو باندې
ښائسته کړے شوے وو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د یهوداه خلقو بابل ته بوتلے کېدل

۱۸ د دې نه علاوه، فوجی آفسر، مشر اِمام شراياه، ورپسې
اِمام صفنياه او د مالِک خُدائ د کور نور درې اهم خادمان
قېديان بوتلل. ۱۹ د ښار نه يې هغه آفسر بوتلو چې د
فوجيانو مشر وو، پينځهٔ د بادشاه ذاتی مشيران چې لا په ښار
کښې وُو، د فوجی مشر مدد کوونکے، چې هغه د فوجی
حِساب کِتاب مشر وو او شپېتهٔ نور اهم سړی يې بوتلل. ۲۰
نبوزردان هغوئ د بابل بادشاه له بوتلل، چې هغه د رِبله په
ښار کښې وو ۲۱ چې دا د حمات په علاقه کښې دے. هلته
بادشاه هغوئ ووهل او مړهٔ يې کړل. نو داسې د يهوداه خلق
پردی مُلک ته بوتلے شول.

## د یهوداه حکمران جدلیاه

۲۲ د بابل نبوکدنضر د سافن نمسے او د اخيقام زوئ
جدلياه، د يهوداه حکمران جوړ کړو. او هغه يې په هغه ټولو
باندې مشر مقرر کړو کوم چې بابل ته نهٔ وُو بوتلے شوی.
۲۳ کله چې د يهوداه آفسران او فوجيان د دې نه خبر شول
کوم چې تسليم شوی نهٔ وُو، نو هغوئ په مصفاه کښې د
جدلياه سره مِلاو شول. هغه آفسران دا وُو، د نتنياه زوئ
اِسمٰعيل، د قريح زوئ يوحانان، د تنحومت زوئ شراياه چې
د نطوفاتی د ښار وو او د معکه يازنياه. ۲۴ جدلياه هغوئ ته
ووئيل، ”زهٔ تاسو ته دا خبره کوم چې د بابل د آفسرانو نه مهٔ
يرېږئ. په دې مُلک کښې اوسېږئ، د بابل د بادشاه خِدمت
کوئ، نو ستاسو هر کار به سم وی.“ ۲۵ خو د هغه کال په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوومه میاشت، د شاهي خاندان الیسمع نمسي او د نتنیاه
زوئ اِسمٰعیل د لسو کسانو سره مصفاه ته لاړو، په جدلیاه
يې حمله وکړه او وې وژلو. د هغهٔ سره چې کوم یهودیان او
بابلیان وُو هغه يې هم ووژل. ۲۶ بیا ټول اِسرائیلیان، مالداره
او غریبانان، سره د فوج د آفسرانو روان شول او مِصر ته
لاړل، ځکه چې هغوئ د بابلیانو نه یرېدل.

## د یهویاکین د قېد نه آزادېدل

۲۷ په کوم کال چې اویل‌مرودک د بابل بادشاه شو، نو هغهٔ
د یهوداه بادشاه په یهویاکین باندې رحم وکړو او هغه يې د
قېدخانې نه آزاد کړو. دا د یهویاکین د قېدی بوتلې کېدو په
اووهٔ دیرشم کال د دولسمې میاشتې په اوویشتمه ورځ باندې
وشول. ۲۸ اویل‌مرودک د هغهٔ سره ښهٔ سلوک وکړو او د
هغه نورو بادشاهانو نه يې هم د لوئ عزت ځائ ورکړو کوم
چې د هغهٔ سره په بابل کښې جلاوطن وُو. ۲۹ نو یهویاکین
د قېدخانې جامې بدلې کړې او باقی ټول عُمر يې د بادشاه په
دسترخوان روټۍ خوړله. ۳۰ چې ترڅو هغه ژوندے وو، نو
هره ورځ هغهٔ ته باقاعده خرچه مِلاوېده.


pashtobibles.org © یوسفزی ۲۰۱۹
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.